د عمومي جزا حقوق

(۱)

# د عمومي جزا د حقوقو کليات

**Introduction to General Criminal Law**

وږی ۱۳۹۷هـ

ترتیبوونکی: د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (آیدلو IDLO)

کابل، افغانستان

وېب پاڼه: www.idlo.int

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانينو سره سم ترتيب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانينو د نوو تعديلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بيا بيا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی يا ټوليز بدلون د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخيستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

**په نوموړې روزنيزه جزوه کې کارول شوي قوانين:**

۱. اساسي قانون، ۱۳۸۲ هجري لمريز کال.

۲. د جزا کود، ۱۳۹٦ هجري لمريز کال.

۳. د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳ هجري لمريز کال.

٤. د قضائيه قوې د تشکيل او واک قانون، ۱۳۹۲ هجري لمريز کال.

# د مطالبو لړ ليک

**سرليک** ........ Error! Bookmark not defined.

**لومړی څپرکی**

**د جزا د حقوقو، د افغانستان د جزا کود او د هغه د عمومي قواعدو او اصولو پېژندنه**

**لومړی مبحث: د جزا د حقوقو تعريف او د هغه تقسيمات:** ........ ٤

لومړی وينا: د جزا د حقوقو تعريف: ........ ٤

دويمه وينا: د جزا د حقوقو تقسيم بندي: ........ ٥

**دويم مبحث: د جزا د حقوقو موخې:** ........ ٧

**درېيم مبحث: د جزا کود لنډه پېژندنه او د هغه طی مراحل:** ........ ١١

لومړی وينا: د جزا کود ته اړتيا: ........ ١١

دويمه وينا: د ١٣٩٦ کال د جزا کود د تسويد، تدقيق، تصويب، نشر او انفاذ بهير: ........ ١٧

درېيمه وينا: د موضوع له مخې د جزا کود د تطبيق ساحه: ........ ٢٤

**څلورم مبحث: د جزا کود عمومي اصول او قواعد:** ........ ٢٥

لومړی وينا: د ذمې د برائت اصل: ........ ٢٥

دويمه وينا: د قانون پر وړاندې د خلکو د برابرۍ اصل: ........ ٣٢

درېيمه وينا: د جرم او جزا د قانونيت اصل: ........ ٣٨

څلورمه وينا: د جرم او جزا شخصي والی: ........ ٤٩

پنځمه وينا: د قانون له حکمونو څخه د بې خبرۍ قاعده: ........ ٥٢

شپږمه وينا: د انساني کرامت د اصل مراعتول: ........ ٥٤

اوومه وينا: د اصل مال د مطالبې او د زيان د جبران يا د تعويض ورکولو حق: ........ ٥٧

**پايليزه:** ........ ٦٤

**د لومړي څپرکي د ارزونې پوښتنې:** ........ ٦٦

**دويم څپرکی**

**د جزا کود د تطبيق ساحه**

**لومړی مبحث: د ځای يا مکان له اړخه د جزا کود تطبيق:** ........ ٦٨

لومړی وينا: د زمکني صلاحيت اصل: ........ ٦٩

دویمه وینا: د واقعي صلاحيت اصل: ........................................ ۷۵
درېیمه وینا: د شخصي صلاحيت اصل: ........................................ ۷۷
څلورمه وینا: د جزا حقوقو د نړیوال صلاحيت اصل: ........................................ ۷۸
**دویم مبحث: د زمان له لحاظه د جزا کود تطبیق (پلي کول): ........................................ ۸۰**
لومړۍ وینا: د تورن لپاره اصلح ماهوي قانون: ........................................ ۸۱
دویمه وینا: د اشد او اخف قانون د معیارونو تشخیص: ........................................ ۸۳
درېیمه وینا: د تفسیري قوانینو ماقبل ته رجعت: ........................................ ۸۶
څلورمه وینا: د شکلي جزایي قوانینو فوري او سملاسي تطبیق: ........................................ ۸۷
**پایلیزه: ........................................ ۸۹**
**د دویم څپرکي د ارزونې پوښتنې: ........................................ ۹۱**
**اخځلیکونه: ........................................ ۹۲**

## سریزه

انسان د یوه ټولنیز موجود په توګه په ټولنه کې ژوند کوي. هغه ټولنه چې وګړي یې د مادي او معنوي اړتیاوو د پوره کولو په خاطر له یوه بل سره بېلابېلې اړیکې ټینګوي. د مختلفو لاملونو له کبله، ځینې یې په دې نه توانېږي چې خپلې اړتیاوې له مشروعو لارو څخه پوره کړي. نو لدې کبله پر ټولنیزو اړیکو د حاکمو قواعدو سرغړونې او نقض ته مخه کوي. داسې سرغړونې چې کله ناکله دومره سترې وي چې د ټولنې نظم ګډوډوي، عدالت او د ټولنې پراختیا او پرمختیا په جدي توګه ګواښي.

له همدې کبله د تاریخ په اوږدو کې، بشري عدالت غوښتونکې ټولنې په دې هڅه کې دي تر څو دغه سرغړونې مهار او یا یې کچه بلکل راټیټه کړي. د کلتوریزو، اخلاقي او دیني لارو چارو تر څنګ، حقوقي لارې چارې تر ټولو مهم نقش لوبولی شي، دا ځکه چې حقوقي قواعد اجرایوي ضمانت لري. او کله چې سرغړونې وړې وي، حقوق له احوالو سره سم په مدني یا اداري جزاګانو او یا دواړو بسنه کوي، مثلاً سرغړوونکی د زیان په جبران مکلفوي، یا تړون باطل اعلانوي، یا هغه اعمال په رسمیت نه پېژني چې سرغړوونکی یې په غیر قانوني توګه ترسره کوي، او یا توصیه، اخطار، او د معاش کمول او داسې نور. خو که چېرې سرغړونه لویه وي، او یا د اداري او مدني لارو چارو د نه مفیدیت له کبله سرغړونې خورا عامې شي، داسې چې د ټولنې نظم وګواښي، نو هغه وخت بیا د جزا د حقوقو نقش را څرګندېږي؛ هغه قواعد چې د زیان په جبرانولو، او یا له نورمونو سره د مخالفو اعمالو په بطلان، یا توصیې او اخطار بسنه نه کوي، بلکې سرغړوونکی مجازات کوي ترڅو هغه اصلاح شي او بل ځل د جرم مرتکب نشي.

له کومه ځایه چې د جزا حقوق، د حقوقو او آزادیو د سلبولو یا محدودیت وړ ګرځي، نو ځکه په حقوقو کې یوه ډېره خطرناکه ساحه ګڼل کېږي، او ددې غوښتنه کوي چې قانون جوړوونکی باید ددغو حقوقو په تنظیم او ترتیب کې خورا پاملرنه او احتیاط وکړي؛ که داسې نه وي نو د جزا حقوق نه یوازې خپلې اساسي موخې ته - چې د ټولنې د عمومي نظم ساتنه ده – نه رسیږي، بلکې په خپله هم کیدای شي د ټولنې سلامت او نظم ته یو جدي ګواښ وګرځي. دا ځکه کله چې د جزا حقوق یوازې په مجازاتو ټینګار کوي او د جرم د ریښو او جرړو د له منځه وړلو او د مجرمینو د بیا رغولو او اصلاح په فکر کې نه وي، نشي

کولای د يوې ناروغۍ په توګه د جرم د پديدې علاج او درملنه وکړي، بلکې برعکس د هغې د لاشدت او قوت لامل ګرځي. له همدې کبله، په اوسني وخت کې، هېوادونه د بېلابېلو علومو له لاربښوونو څخه په ګټې اخيستنې، جزايي قوانين په ډېر احتياط سره تسويد او تصويبوي، او د هغوی ډېره هڅه دا وي چې مجرمين اصلاح او بيا ورغول شي، تر دې چې سزا ورکړل شي.

هغه مهمې پوښتنې چې په نوموړې روزنيزه جزوه کې ورته ځواب ورکول کېږي، عبارت دي له:

د جزا حقوق څه دي؟ د کومو موخو لرونکي دي؟ د افغانستان د جزا کود ولې تصويب شو؟ اهداف يې کوم دي؟ کوم عمومي اصول او قواعد په کې تنظيم شوي دي؟ او وروستۍ دا چې د زمان، مکان او اشخاصو له مخې تر کومه حده د تطبيق وړ کڼل کېږي؟

نو لدې کبله، دغه جزوه په دوو څپرکو وېشل شوې ده، چې هر څپرکی يې د يوه جلا درس په توګه د تدريس وړ دی:

لومړی څپرکی: د جزا د حقوقو، د افغانستان د جزا کود، او د هغه د عمومي قواعدو او اصولو پېژندنه؛

دويم څپرکی: د افغانستان د جزا کود د تطبيق ساحه.

په دې روزنيزه جزوه کې له توصيفي او څېړنيزې کړنلارې او روش څخه ګټه اخيستل شوې ده. هڅه دا ده چې دغه روزنيزه جزوه، قضاتو، څارنوالانو او حقوقي مساعدينو ته عملي او کاري جنبه او بڼه ولري. نو لدې کبله له ستړي کېدونکي اوږدو بحثونو او نظري بحثونو، او يا له هغو بحثونو څخه ډډه شوې ده چې په روزنيزو برنامو کې يې طرح کولو ته اړتيا نه ليدل کېږي. خو په ځينو مهمو او ضروري مواردو کې نظري څېړنيز بحثونه هم د يو ځانګړي اهميت له مخې، طرح شوي دي. فرضي قضيې، د ګروپي مناقشو او خبرو اترو په خاطر مباحثوي پوښتنې، صنفي فعاليتونه، او انتقادي څېړنې هم په دې جزوه کې ځای پرځای شوي دي، تر څو ګډونوال تحليل، څېړنې او ارزونې ته وهڅول شي، او روزنه ګډونوال محوره وړاندې شي. خو لازمه نه ده چې دغه قضيې او پوښتنې په ټولګي کې تر مناقشې او تحليل لاندې ونيول شي، البته روزونکی وخت ته په کتو سره، کولای شي ځينې يې په ټولګي کې مطرح کړي.

# لومړی څپرکی

## د جزا د حقوقو، د افغانستان د جزا کود او د هغه د عمومي قواعدو او اصولو پېژندنه

**موخې:**

د دې روزنيزې ناستې په پای کې به ګډونوال د لاندنيو چارو په تر سره کولو قادر وي:

۱. د جزا د حقوقو تعريف او د هغه د فروعو او تقسيماتو بيانول؛
۲. د جزا د حقوقو د موخو وضاحت او د جزا کود د موادو په پوهه، تفسير او تأويل کې د جزا کود د موخو رول بيانول؛
۳. د جزا کود ته اړتيا واضح کول؛
٤. د جزا کود د نافذېدو د نېټې تشخيص؛ او
٥. د دندې ترسره کولو پر مهال د جزا کود د عمومي قواعدو او اصولو رعايتول.

**عنوانونه:**

- د جزا د حقوقو تعريف
- د جزا د حقوقو فروع او تقسيمات
- د جزا د حقوقو موخې
- د جزا کود او هغه د طی مراحل کولو لنډه پېژندګلوي
- د جزا کود عمومي قواعد او اصول

# لومړی څپرکی

## د جزا د حقوقو، د افغانستان د جزا کود او د هغه د عمومي قواعدو او اصولو پېژندنه

د دې څپرکي په (لومړي مبحث) کې د جزا حقوق تعریفېږي او تقسیمات یې بیانېږي او ورپسې په (دويم مبحث) کې د جزا کود موخې او په (درېيم مبحث) کې د جزا کود او د هغه طی مراحلو ته اړتیا، تر څېړنې لاندې نیول کېږي. د دې څپرکي په (څلورم مبحث) کې، په جزا کود کې حاکم عمومي قواعد او اصول په لنډه توګه توضیح کېږي.

### لومړی مبحث: د جزا د حقوقو تعریف او د هغه تقسیمات:

### لومړۍ وینا: د جزا د حقوقو تعریف:

د جزا حقوق د عمومي حقوقو د علم يوه څانګه ده چې مجرمانه کړنې تعریفوي او د هغو مرتکبینو ته مجازات تعیینوي[1]. او يا په بل عبارت سره باید ووایو چې د جزا حقوق: "هغه علم دی چې جرم، مجرم، په مجرمانه پېښه کې د مجرم رول، د هغه د مسؤولیت شرایط، د مجرمانه پېښې په وړاندې د ټولنې غبرګون او جزايي محاکماتي اصول تر بحث او څېړنې لاندې نیسي" [2].

دويم تعریف د لومړي تعریف په پرتله جامع برېښي؛ دا ځکه چې له يوې خوا د مجرم او جزايي مسؤولیت يادونه کوي او له بلې خوا يې د "مجازاتو" د لفظ پر ځای"د ټولنې غبرګون" کارولی دی، چې دغه تعبير له

[1] - دانش، حفیظ الله، عمومي حقوق جزا، مخ ۲۳؛ همدارنګه مراجعه وکړئ : نجیب حسنی، شرح قانون العقوبات: القسم العام، مخ ۱؛ احمد شوقی عمر ابوخطوه، شرح الأحكام العامة لقانون العقوبات، مخ ۳.

[2] - قیاسی، جلال الدین ودیګران، حقوق جزا ی عمومی، مخ ٦ جلد ۱.

مجازاتو سربېره، تأميني تدبيرونو ته هم شاملېږي، او وروستۍ دا چې د جزايي اجراآتو قواعدو او اصولو ته يې هم اشاره کړې ده، چې د جزا د حقوقو او يا د جزايي حقوقو يو څانګه ګڼل کېږي.

## دويمه وينا: د جزا د حقوقو تقسيم بندي:

د جزا حقوق په لومړي سر کې په دوو کُلي برخو وېشل کېږي: د جزا ملي حقوق او د جزا نړيوال حقوق. د جزا ملي حقوق د هغو قواعدو ټولګه ده چې د هېواد دننه جرمونه تنظيموي يعنی کوم جرايم چې له سيمې بهر (فرامرزی) جنبې نه لري[1]. د بېلګې په توګه يو عادي جرم چې د يوه هېواد په قلمرو کې واقع کېږي، مجرم او مجني عليه دواړه د يوه هېواد اوسېدونکي وي، او د هېواد په قلمرو کې نيول کېږي او محاکمه کېږي. خو د جزا نړيوال حقوق د هغو قواعدو ټولګه ده چې له سرحدونو بهر جرمونه تنظيموي کوم چې فرامرزي يا له سرحدونو بهر جنبې لري. مثلاً يوه جرمي کړنه د څو هېوادونو په قلمرو کې واقع شوې وي، او يا مجرم او مجني عليه دواړه د يوه بهرني هېواد تابعيت لرونکي وي.

**د جزا ملي حقوق** په خپل وار سره په دوو برخو وېشل کېږي: د جزا ماهوي حقوق، او د جزا شکلي حقوق. د جزا ماهوي حقوق د هغو قواعدو ټولګه ده چې جرمونه تعريفوي او مرتکبينو ته د مجازاتو وړاندوينه کوي. د جزا ماهوي حقوق همدا ډول په دوو برخو وېشل کېږي: د جزا عمومي حقوق او د جزا اختصاصي حقوق. د جزا عمومي حقوق، د جرم، مجرم، او مجازاتو اړوند کُلي او عام قواعد څېړي او د هغو اړوند حکمونه تنظيموي[2].

او يا په بل عبارت سره ويلای شو چې د جزا عمومي حقوق د هغو قواعدو او مقرراتو ټولګه ده چې جرمونه، مجرمين او مجازات په ټوليزه توګه تر څېړنې لاندې نيسي. د جزا اختصاصي حقوق د هغو قواعدو او مقرراتو ټولګه ده چې هر جرم په ځانګړي ډول تر څېړنې لاندې نيسي، حکمونه او مجازات يې تعيينوي.

---

[1] - دانش، حفيظ الله، عمومی حقوق جزا، مخ ۳۸؛ رسولی، محمد اشرف، حقوق جزای عمومی، مخ ۵۱-۵۰.

[2] - دانش، حفيظ الله، عمومی حقوق جزا ص۳۹.

همدا راز د جزايي محاکماتو اصول د هغو قواعدو، مقرراتو او معيارونو ټولګه ده چې د جزايي دعواوو د رسيدګۍ او څېړنې بهير د جرم له کشف څخه پيل، د حکم او نورو وروستيو اجراآتو د صادرېدو او تطبيق پورې تشريح او تعيينوي.

## دويم مبحث: د جزا د حقوقو موخې:

**(۱) لومړی فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

۱. ولې ټولنې هڅه کوي ترڅو د ټولنې د نظم گواښوونکې او اخلالوونکې کړنې او رفتارونه مجازات کړي؟
۲. د جرمونو له خطر څخه د ټولنې د ساتنې او مصونيت لپاره تر ټولو غوره کړنلاره کومه ده؟ او په ورته وخت کې ټولنې ته د مجرمينو د بيا راگرځولو تر ټولو ښه وسيله کومه ده؟

د جزا د حقوقو اصلي او بنسټيزه موخه، د عدالت ټينگښت او په ټولنه کې د عمومي نظم ساتنه ده. داسې نظم چې مهم عناصر يې عمومي امنيت، عمومي هوساينه، عمومي روغتيا، او د ټولنې ارزښتونه تشکيلوي. خو د جزا حقوق د ټولنې د نظم د ساتنې تر څنگ، له هغو مجرمينو او متخلفينو څخه هم ملاتړ کوي چې دغه نظم يې گډوډ کړی دی. پدې معنی چېد جزا حقوق له يوې خوا د جرمي کړنو د پېژندنې، او د مجازاتو د وړاندوينې ترڅنگ له ټولنې څخه د مجرمينو پر وړاندې ملاتړ کوي، او له بلې خوا د مجرمينو، متهمينو او مظنونينو د حقوقو د رعايت او ساتنې له مخې، د ټولنې له وگړو څخه د حکومت پر وړاندې ملاتړ کوي، او عدلي او قضايي ارگانونو ته اجازه نه ورکوي ترڅو متهم او مظنون وگړي له قانوني دليل پرته آزار، اذيت او مجازات کړي، او يا مجرمين په داسې جزا مجازات کړي چې ور يې نه وي. ددې اصلي موخې ترڅنگ، نورې موخې هم شتون لري چې په لاندې کرښو کې په لنډه توگه څېړل کېږي:

### ۱. د اخلال شوي نظم اعاده او ټينگښت:

د مجازاتو د تطبيق يوه موخه، د جرم د ارتکاب په واسطه د ټولنې د گډوډ شوي نظم اعاده ده. دا ځکه چې د جرم ارتکاب د ټولنې ټولنيز نظم او جوړښت گډوډوي. و د مجرم مجازاتول د مختل شوي نظم د اعادې

یوه ښه وسیله ده. د جزا کود د دریېمې مادې په دریېمه فقره کې د کود یوه موخه «د جزایي عدالت تأمین او د نظم او عامه امن ساتل» په ګوتو کړې ده.

## ۲. د متضرر د زړه خوشحالول:

د جرم ارتکاب، لکه څرنګه چې د ټولنې اجتماعي نظم اغېزمنوي ، د ټولنې وګړي هم متضرر کوي. خو د مجازاتو پلي کېدل او تطبیق، د متضرر او قرباني وګړي د زړه د خوشحالېدو لامل ګرځي. همدارنګه په متضرر د وارد شوي ضرر جبرانول، د هغه د رضایت لامل ګرځي او د ټولنې ټول وګړي ډاډه کېږي چې دولت د هغوی د امنیت د ساتنې لپاره اړین او مؤثر اقدامات ترسره کوي. نو لدې کبله د متضرر رضایت او خوشحالول د مجازاتو د تطبیق یوه ستره موخه ګڼل کېږي. د جزا د کود د دریمې مادې په (۳، ۵، ۷ او ۱۰) فقره کې درج شوي حکمونه ضمناً د دغې موخې د ترلاسه کولو په خاطر تنظیم شوي دي. په ځانګړې توګه د دریمې مادې اومه فقره «د بشر د حقوقو او د اشخاصو د اساسي آزادیو د رعایت تضمین» او لسمه فقره «د جرم له ارتکاب څخه د راپیدا شوي زیان جبران» ددې موخې د تنظیم په خاطر د جزا د کود په موخو کې ځای پرځای شوي دي.

## ۳. د مجرم اصلاح:

د مجازاتو موخه یواځې د جرم د مرتکب وېرول او ارعاب نه ده، بلکې د مجازاتو موخه دا هم ده چې د مجرم حالت اصلاح شي او د ټولنې سالم ژوندانه ته هغه بیرته راوګرځي. نو د مجازاتو تطبیق لکه حبس یا د مرتکب د آزادۍ سلبول، په حقیقت کې د یوې مؤقتې مودې لپاره د هغه د جدا کولو یا یواځې کولو او سالم ټولنیز چاپېریال ته د هغه د بېرته را ګرځېدو د روزنې او تربیې په خاطر صورت مومي. او له همدې کبله اوس مهال هڅه کېږي تر څو له ټولو هغو اصلاحي اقدامونو او وسیلو څخه ګټه واخیستل شي، چې یاده موخه پرې ترلاسه کېږي. لکه څرنګه چې د جرم د مرتکب د حبس پر ځای د حبس له بدیلو جزاګانو،

نغدي جزاګانو، د مجازاتو له تعليق او حتی د محاکمې له ځنډولو څخه ګټه پورته کېږي، دا ځکه چې اصلي موخه، د مجرم اصلاح او سالم ټولنيز ژوندانه ته د هغه بېرته راګرځول دي[۱].

له همدې کبله، د جزا کود د دريېمې مادې ٦ او ۹ فقرو د دې کود موخه «د جرم د مرتکب بيا اصلاح او تربيت او د اشخاصو د مسؤوليت منلو د سطحې لوړتيا» ښودلې ده.

## ۴. جزا ورکونه يا مجازات:

د مجازاتو تطبيق يعنی د جرم مرتکب ته د هغه د عمل د جزا او پاداش ورکول، د جزا د قانون يوه ستره موخه ده. ځکه له مجازاتو او مکافاتو پرته، په يوه ټولنه کې نظم نشي ټينګېدلای.

د مجرمينو مجازات د جزا د حقوقو يوه ډېره قديمي موخه ده چې په اوسني عصر کې هم د اعمال وړ ده، او د پوهانو په آند، هېڅ مجرمانه کړنه او رفتار بايد له ځواب او غبرګون پرته پاتې نشي، ترڅو جزايي عدالت تامين او د عامه امن او نظم ساتنه وشي.

د جزا د کود د دريمې مادې دريېمه فقره د دې کود موخه «د جزايي عدالت تامين او د نظم او عامه امن ساتل» بيان کړې ده، او جزا ورکونه ددې موخې د تحقق لپاره تر ټولو غوره وسيله ده.

## ۵. له ارزښتونو ساتنه:

هره ټولنه يو لړ ارزښتونه لري چې بايد وساتل شي. ځينې ارزښتونه لکه د ژوند، آبرو او عزت، ناموس او مال ساتنه ډېر عام دي، او په ټولو بشري ټولنو کې په رسميت پېژندل شوي دي.په داسې حال کې چې ځېنې نور ارزښتونه لکه ديني او اخلاقي ارزښتونه، تر ځانګړو ټولنو پورې تړلي وي. د دغو ارزښتونو ساتنه د دولت دنده ده. او دولت مکلف دی چې ددغو ارزښتونو د نقض په صورت کې يو لړ جزايي مؤيدې وضع کړي[۲].

---

[۱] - دانش، حفيظ الله، عمومی حقوق جزا، مخ ۲۵.

[۲] - رسولی، محمد اشرف، حقوق جزای عمومی، مخ ٦۳-٦۰.

له همدې کبله، د جزا کود د ۳ مې مادې په (۲، ۳، ۴ او ۷) فقرو کې هغو مواردو ته اشاره کړې ده چې د ټولنې د حاکمو ارزښتونو د تامين لامل ګرځي، د بېلګې په توګه: د اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو د رعايت تضمين، دهېواد له خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه حراست او د اشخاصو د مادي او معنوي ملکيتونو د مصونيت تامين. د جزا کود په درېيمه ماده کې د دې کود موخې داسې بيان شوې دي:

«ددې قانون موخې عبارت دي له:

١- په تعزيري جرمونو او جزاګانو پورې د اړوندو اصولو، قواعدو او حکمونو تنظيم.
٢- د اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو د رعايت تضمين.
٣- د جزايي عدالت تأمين او د نظم او عامه امن ساتل.
٤- د هېواد له خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه حراست.
٥- د جرم له ارتکاب څخه مخنيوی او د جرمونو پر خلاف مبارزه.
٦- د جرم د مرتکب بيا اصلاح او تربيت.
٧- د بشر د حقوقو او د اشخاصو د اساسي آزاديو د رعايت تضمين.
٨- د اشخاصو د مادي او معنوي ملکيتونو د مصونيت تأمين.
٩- د اشخاصو د مسؤوليت منلو د سطحې لوړتيا.
١٠- د جرم له ارتکاب څخه د راپيدا شوي زيان جبران.

## دریم مبحث: د جزا کود لنډه پېژندنه او د هغه طی مراحل:

**روزونکي لپاره نوټ:**

- دغه مبحث، خورا ارزښتناکه بحثونه لري، خو تخنيکي نه دي. ګډون وال کولای شي د خپلې مطالعې له لارې د هغه مطالب ولولي.

- ددې لپاره چې تخنيکي بحثونو ته کافي وخت پاتې شي، روزونکی دې يواځې د پنځو دقيقو په موده کې د دغه مبحث محتويات ګډون والو ته بيان کړي، او د دغه مبحث پاتې نوره مطالعه دې د کورنۍ دندې په توګه هغوی ته ورکړي.

هڅه شوې تر څو په دې مبحث کې، د جزا کود په عام ډول معرفي شي، لکه څرنګه چې په (لومړۍ وينا) کې د جزا کود اړتيا او ورپسې په (دويمه وينا) کې د تسويد، تدقيق، تصويب، نشر او انفاذ بهير تشريح شوی دی.

### لومړۍ وينا: د جزا کود ته اړتيا:

حقوقي قواعد د وګړو ټولنيزې اړيکې او ورسره اړونده اوضاع او احوال تنظيموي، او دا ددې لپاره چې عدالت او عمومي ګټې خوندي او په ټولنه کې نظم ټينګ او حکمفرما شي. خو کله چې په ټولنيزو اړيکو او اړونده اوضاعو او احوالو کې تحول او بدلون رامينځ ته شي، او يا د عدالت، عمومي ګټو او عمومي نظم په اړه د مقنن برداشت د ټولنې د حاکمې ايديالوژۍ د اغېزې له کبله او يا د حقوقي نظرياتو د پراختيا په نتيجه کې تغيير شي، او يا په هېواد کې جنايي کړنلاره بدلون ومومي، نو طبيعي خبره ده چې حقوقي قواعد هم تغييرېږي. دغه بدلون او تغيير د وضعي قوانينو له مثبتو ځانګړتياوو څخه ګڼل کېږي. د بدلون او تغيير کچه، په ځينو موضوعاتو لکه د تجارت په حقوقو کې ډېره پراخه او چټکه وي، خو په ځينو موضوعاتو لکه مدني حقوقو او په ځانګړې توګه د کورنۍ په حقوقو کې ډېره کنده او سسته وي، خو د

جزا د حقوقو په برخه کې بیا دغه بدلون او تغییر متوسط وي. په دې معنی چې په وضعي قوانینو کې بدلون یوه طبیعي خبره ده، او برعکس د بدلون او یا د قوانینو دایمي ثبات نشتوالی، هغه وضعیت دی چې باید پرې مکث او بیا کتنه ترسره شي او غالباً د ستونزې څرګندونه کوي.

د ۱۳۵۵ کال څخه را پدېخوا د وګړو په ټولنیزو کړنو او اړوندو اوضاعو او احوالو کې پراخه بدلونونه د هېواد په داخل او بهر کې رامینځ ته شوي دي، د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون چې د ۱۳۹٦ کال د سلواغې تر میاشتې نافذ ؤ، نه شوای کولای هغو بدلونونو ته ځواب ووایي کوم چې د قانون د نافذېدو څخه را پدیخوا د څلورو لسیزو په ترڅ کې واقع شوي دي. نو ددې اړتیا لیدل کېده څو جرمونه او جزاګانې، د اوسني عصر د عمومي نظم له غوښتنو، د افغانستان د نوي دولت له ژمنو او د جزا د حقوقو له پرمختګونو سره سم، له سره تعریف شي.

که وغواړو د ۱۳۹٦ کال د جزا کود لاملونه وشمېرو، نو کولای شو هغه په څلورو ډلو ووېشو:

په ټولنیزو اړیکو او اړونده اوضاع او احوالو کې بدلون او تغییر، د افغانستان په نړیوالو ژمنو یا تعهداتو کې بدلون، د هیواد په جزایي کړنلاره یا سیاست کې بدلون او د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د تخنیکي نیمګړتیاوو جبران. دغه لاملونه په لنډه توګه په څلورو لاندې اجزاوو کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي:

**لومړۍ فرعه: په ټولنیزو اړیکو او اړوندو اوضاع او احوالو کې بدلون:**
له ۱۳۵۵ کال څخه را پدېخوا په ټولنیزو اړیکو او اړوندو اوضاعو او احوالو کې ډېر بدلون رامینځ ته شوی ؤو چې تر ټولو مهم بدلونونه په لاندې توګه بیانېږي:

۱. **د وګړو په ټولنیزو کړنو کې پراخه بدلون:**

د نړیوالتوب، کډوالۍ، په هېواد کې د کورنیو، سیمه ییزو او نړیوالو جنګونو، د ښارونو د پراختیا، په اقتصادي وضعیت او د فقر په کچه کې بدلون، د بې سوادۍ په کچه کې بدلون او لوړوالی .. او داسې نورو لاملونو له کبله، د ۱۳۵۵ کال په پرتله (چې پدې کال مخکینی د جزا قانون نافذ شوی دی)، د افغانانو

په ټولنيزو کړنو کې خورا لوی بدلون راغلی دی. ډېرې هغه کړنې چې څلوېښت کاله وړاندې يې ټولنيز نظم ګډوډولو، يا بلکل له مينځه تللی دي او يا په اوسنۍ ټولنه کې له سره مصداق نه لري او يا هم د ټولنې نظم نه ګواښي او ياپې هم د اخلال د شدت کچه را ټيټه شوې ده (لکه د ولسمشر اهانت، د جزا قانون ۲۴۲ مه ماده).

همدارنګه ددې په مقابل کې، يو لړ نوې کړنې را مينځ ته شوې دي چې عمومي نظم ګواښي، لکه انټرنيټي جرمونه، او يا هغه کړنې چې د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې جرم ګڼل شوې وې خو د خطر او اخلال کچه يې د پخوا په پرتله زياته شوې ده، او يا داسې نوې کړنې رامينځ ته شوې دي چې د ۱۳۵۵ کال د جزا د قانون، جرمي اوصاف ورته نه شاملېدل، لکه څرنګه چې د اداري فساد او يا مخدره توکو په جرمونو کې ترسترګو کېږي. او يا په بل عبارت، له ۱۳۵۵ کال څخه را پدېخوا د عمومي نظم د اخلال په لاملونو کې پراخه بدلونونو را مينځ ته شوي دي، او د اخلال کچه يې هم تر ډېره بريده بدله شوې ده، نو اړتيا ليدل کېده تر څو د سرو کرښو او د هغو په وړاندې د غبرګون نوي تعريفونه صورت ومومي. له همدې کبله، او په هېواد کې له ټولنيزو بدلونونو سره د قوانينو د همغږۍ د اصل له مخې، اړتيا وه چې جرم انګاري (جرم ګڼل) او د مجازاتو د تشديد بهير له يوې خوا او جرم زدايي (جرم کمونه) او د مجازاتو تخفيف له بلې خوا، د اوسني عمومي نظم له غوښتنو سره سم صورت و مومي.

لکه څرنګه چې يادونه وشوه، دغه لامل يو له هغو بنسټيزو سببونو څخه وو چې له مخې يې د جزا کود تصويب شو، او په همدې لامل کې يو شمېر نور لاملونه هم را نغښتي دي چې په لاندې توګه يې يادونه کولای شو:

۱) د نويو جرمونو راڅرګندېدل.
۲) د ځينو جرمونو د خطر د کچې زياتوالی.
۳) د ځينو جرمونو له مينځه تلل، برابره ده چې دغه جرايم يا خو له سره نه واقع کېږي، يا کم واقع کېږي او يا دا چې عمومي نظم نور نه ګواښي.

٤) د ځينو جرمونو د خطر د کچې کموالی.

### ۲. د عمومي نظم په مصاديقو کې بدلون:

عمومي نظم، د عمومی امنيت، عمومي هوساينې، عمومي روغتيا او نيکو اخلاقو د تهديدوونکي خطر له فقدان (نشتوالي) څخه عبارت دی[۱]. کومې کړنې چې په جدي توگه دغه موارد گوابښي او يا يې له خطر سره مخامخ کوي، د جرم انگارۍ (جرم گڼلو) وړ دي. خو دومره خبره ده چې د عمومی امنيت، عمومي هوساينې، عمومي روغتيا او نيکو اخلاقو مصاديق نسبي او د بدلون وړ دي. له همدې کبله، ممکن هغه کړنې چې څلوېښت کاله وړاندې د دغو مواردو ناقض گڼل کېدې، نن دا صفت و نه لري. او يا دهغه برعکس. د بيلگې په توگه د تريبې په خاطر د کوچنيانو وهل ټکول، يا بد ورکول، له کار څخه د ښځې منعه کول څلوېښت کاله وړاندې يوه عادي خبره وه، خو نن هغه د عمومي نظم پرخلاف گڼل کېږي.

لنډه دا چې د حقيقي او يا حکمي شخص هر هغه کړنه، که ايجابي يا سلبي وي، کله چې د عمومي نظم يو مهم عنصر لکه (امنيت، هوساينه، روغتيا يا عمومي اخلاق) په جدي توگه وگوابښي او يا يې له خطر سره مخامخ کړي، د جرم انگارۍ وړ ده. د دې په مقابل کې هر هغه کړنه چې وړاندې يې د عمومي نظم دغو مواردو ته صدمه رسوله او يا يې له خطر سره مخامخ کول، خو په اوسني عصر کې، د نويو بدلونونو له کبله نور خطر نه پېښوي، د جرم زدايي (جرم کمونې) وړ گڼل کېږي. له همدې کبله، جزايي قوانين، په عمومي نظم کې بدلون او يا اخلالوونکو او تهديدوونکو لاملونو ته په کتو سره په دوامداره توگه تعديل کېږي.

[۱] - او يا د پوليسو د قانون د دويمې مادې د تعبير له مخې (۱۳۸۸) "ټولنيزه هوساينه ده چې د قانون له حکمونو سره سم د پوليسو لخوا تامينېږي.

### ۳. د افغانۍ پيسو په ارزښت کې بدلون:

له ۱۳۵۵ کال څخه را پدېخوا د افغانۍ پيسو په ارزښت کې په پراخه کچه تغيير او بدلون راغلی دی. او کومې نغدي جزاګانې چې څلوېښت کاله وړاندې د ځينو جرمونو د ارتکاب لپاره وړاندېز شوې وې، په اوسني عصر کې يې خپل د مخنيوۍ صفت له لاسه ورکړی دی. نو لدې کبله، اړتيا وه چې نغدي جزا د اوسنيو پيسو ارزښت او د وګړو د ژوند کچې ته په پام، له سره تعيين شي. د بېلګې په توګه د جزا په قانون کې لږ تر لږه نغدي جزا ۵۰ افغانۍ ټاکل شوې وې، دا په داسې حال کې ده چې د ۱۳۹٦ کال د جزا په کود کې لږ تر لږه ۵۰۰۰ افغانۍ ټاکل شوې دي (د ۱۴۰ مې مادې دويمه فقره). او ددې لپاره چې دغه ستونزه يې د تل لپاره حل کړل شي ، د جزا کود د ۱۴۰ مې مادې دريمه فقره داسې صراحت لري: «په دې قانون کې درج د نغدي جزاګانو اندازه، د پيسو د ارزښت نوساناتو ته په کتو سره، له هرو پنځو کلونو وروسته تجديدېږي.»

### ٤. د زندانيانو د ساتنې لګښت زياتوالی:

په تېرو جزايي قوانينو کې د حبس پر جزاګانو ډېر ټينګار شوی ؤ. له نغدي جزاګانو او يا د حبس له بديل څخه ډېره کمه ګټه اخيستل شوې وه. د دغه جزايي سياست د تخنيکي ستونزو تر څنګ، په اوسني عصر کې د جرمونو د زياتوالي له کبله، په زندانونو کې د زندانيانو د ساتنې لګښت ډېر لوړ شوی دی. دا د دې لامل ګرځېدلی دی چې د زندانونو وضعيت لا پسې خراب شي او د دې موجب شي چې په زندانونو کې د اصلاح او بيا تربيې پر ځای جرمي مفکورې زياتې شي او جنايتکاره سازمانونو ته د ودې ښه زمينه برابره شي. له همدې امله اړتيا وه چې د قباحت او د جنحې په ځينو حالاتو کې د حبس جزا په نغدي جزا او يا د حبس په بديل تغيير ومومي.

**دويمه فرعه: د افغانستان په نړيوالو ژمنو کې بدلون:**

له ۱۳۵۵ کال را پدېخوا په ګرده نړۍ کې ډېر بدلونونه راغلل، او په پايله کې يې ډېر بېلابېل نړيوال سندونه له جرمونو سره د مبارزې په موخه تصويب شول. د افغانستان دولت د يو شمېر نړيوالو سندونو د تصويب

له مخې، ژمن ؤ چې خپل داخلي حقوق د نړيوالو ژمنو په رڼا کې تعديل او يا تکميل کړي. له همدې کبله، د جزايي قوانينو بيا کتنې ته اړتيا ليدل کېده. د بشريت ضد جرمونه، د پيسو د وينځلو جرمونه، د تروريزم د تمويل جرمونه، د مخدره توکو اړوند جرمونه، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي جرمونه، د انسان او کډوالو د قاچاق جرمونه ددې ژمنو ښکاره بېلگې دي.

**درېيمه فرعه: د افغانستان په جزايي کړنلاره کې بدلون:**

د جزا حقوق په دوامداره توگه پراختيا مومي. د جرم، جزا، جزايي مسؤوليت، او له جرمونو سره د مبارزې د څرنگوالي په اړه، په ټوله نړۍ کې مختلفې نظريې او ليدلوري مطرح دي، او ورځ تر بلې زياتېږي. بېلابېل هېوادونه د حاکمې مفکورې له مخې، او د هېواد شته منابعو او اړتياوو ته په کتو سره خپله جزايي کړنلاره يا سياست د جرم د مخنيوي او مبارزې او د مجرمينو د اصلاح په موخه، غوره کوي. دغه کړنلاره ثابته نه ده، بلکې د ټولنې د متغيرو اړتياوو د غوښتنو له مخې شته منابعو او امکاناتو ته په کتو سره او همدارنگه د مقننې ځواک طرز فکر سره سم تغيير مومي. خو اساسي ټکی دا دی چې هېوادونه هڅه کوي تر څو جرمونه په ډېر کم لگښت سره مهار کړي، او په ضمن کې د جزا د حقوقو تر ټولو مهمه موخه چې د مجرمينو اصلاح او ټولنې ته د هغوی بيا راگرځېدل دي، په ښه توگه تر لاسه کړي. د ۱۳۹٦ د جزا کود د تصويب يو لوی لامل هم، د جزايي کړنلارې له نويو لارو چارو څخه گټه اخيستنه وه. په دې کود کې متفاوتې جزايي کړنلارې استفاده شوي دي، چې د مقنن په آند له جرمونو سره د مبارزې تر ټولو گټوره کړنلارې دي. ددغې جزايي کړنلارې مهمې ځانگړتياوې په لاندې ټکو کې په مختصره توگه ذکر کېږي:

۱) جرم زدايي يا جرم کمونه او پر جزايي لارو چارو، کلتوريزو لارو چارو ته لومړيتوب ورکول.
۲) حبس زدائی يا نسبي حبس کمونه او د قباحت په ټولو جرمونو او د جنحې په زيات شمېر جرمونو کې نغدي جزاگانو او د حبس بديل جزاگانو ته پاملرنه.
۳) د قضاتو د اختياري واک کمول
٤) د اعدام د جرمونو محدودول

۵) د نړيوالو معيارونو رعايتول په ځانگړې توگه د جرمونو د تعريف پر مهال.
٦) له جرمونو سره د جزاگانو متناسب کول.

**څلورمه فرعه: د ۱۳۵۵ کال د جزا د قانون د تخنيکي نيمگړتياوو لېرې کول:**

د ۱۳۵۵ کال په پرتله په اوسني عصر کې د قانون جوړونې تخنيکونو او فنونو ډېره وده کړې ده. د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې له دغو فنونو څخه کمه گټه اخيستل شوې وه، د بېلگې په توگه د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون موخې نه درلودې، درج شوې اصطلاح گانې نه وې تعريف شوې، عناوين په سمه توگه نه ؤ کارول شوي، د جرمونو وېش او فصل بندي په دقيقه توگه نه وه تر سره شوې. نو له همدې کبله اړتيا وه چې د جزا قانون چې په جزايي برخه کې د مور حيثيت لري، تعديل او نيمگړتياوې يې لېرې شي.

د محتوی له مخې، دغه کود د ۱۳۵۵ کال د جزا د قانون په پرتله خپلې برترۍ او کمزورۍ لري، چې په وروستيو مبحثونو کې به پرې بحث وکړو.

## دويمه وينا: د ۱۳۹٦ کال د جزا کود د تسويد، تدقيق، تصويب، نشر او انفاذ بهير:

په نوموړې وينا کې لومړی د جزا کود د طی مراحلو په اړه او بيا ماقبل ته د جزا د کود رجعت او په دې برخه کې د سترې محکمې لارښود په اړه بحث کېږي.

**لومړۍ فرعه: د جزا کود تسويد:**

د پورته يادو شويو خلاوو د لېرې کولو په خاطر، د افغانستان ولسمشر د ۲۰۱۰ کال د مې د ۲۹ نېټې د ۱۴۳۹ گڼې فرمان له مخې يوه کمېټه د «د جزا قانون د اصلاح گروپ» تر عنوان ايجاد کړه. نوموړې کمېټې شاوخوا ۵٦ غړي درلودل چې د عدلي او قضايي ادارو، د بشر حقونو خپلواک کمېسيون، پوهنتونونو، په عدلي او قضايي برخه کې د همکارو مؤسسو له استازو څخه جوړه شوې وه. د ځينو سفارتونو لکه د امريکا، انگلستان، فرانسې، ايټاليا او نورو سفارتونو حقوقي کارپوهان هم د دغه گروپ په کاري غونډو کې گډون درلود. د کمېټې لومړۍ غونډه په ستره محکمه کې دايره شوه او ورپسې د ماليزيا هېواد ته يو

سفر تنظیم شو چې د گروپ غړیو د ځینو هېوادونو لکه اردن، ایران، فرانسې، جرمني، اتریش او سویډن له کارپوهانو سره د شپږو ورځو په موده کې د جزا کود د تسوید د څرنگوالي په اړه تفصیلي خبرې اترې وکړې. په پایله کې ټولو هوکړه وکړه چې د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون دې د کار د اساس او بنسټ په توگه انتخاب شي او اړین تعدیلونه دې په کې راوړل شي، تر څو د جرمونو او جزاگانو تر منځ تناسب رعایت شي، د حبس د بدیلو جزاگانو پېشبیني دې وشي، نړیوال معیارونه او د افغانستان ژمنې چې د کنوانسیونونو پر مهال یې کړې دي، رعایت شي او نوي جرمونه دې ور اضافه شي.

دغې کمېټې د قانون خاکه یا مسوده د څلورو کلونو او شپږو میاشتو په موده کې (د ۲۰۱۲ کال د می له میاشتې د ۲۰۱۷ کال د جنوري تر میاشتې) تکمیل کړه او عدلیې وزارت ته یې د تدقیق په موخه وسپارله.

**دویمه فرعه: د جزا کود تدقیق:**

عدلیې وزارت یوه ځانگړې کمېټه د جزا کود د تدقیق په خاطر رامینځ ته کړه. یادې کمېټې د اتو (۸) میاشتو په اوږدو کې د جزا د کود مسوده تدقیق کړه. په دې موده کې شاوخوا د ۵۳ ادارو لیدلوري د عدلي او قضایي ادارو په شمول راټول او تحلیل او تجزیه شول. سترې محکمې، د مطالعاتو او تدقیق د ریاست له لارې، د استیناف د محکمو د رؤساوو نظرونه، او لوی څارنوالۍ د استیناف د څارنوالیو د رؤساوو نظرونه له یادې کمېټې سره شریک کړل. یو ځل بیا سترې محکمې د جزا کود مسوده د یوه کمېسیون لخوا - چې محترم قاضی ولی احمد عاصم، یې مشري کوله، د مطالعاتو او تدقیق د ریاست د رییس اویو تعداد نورو قضایی مستشارانو په گډون ، - بررسي کړه او خپل نظرونه یې له کمېټې سره شریک کړل.

بیا هم ځینو د نظر اختلافونو شتون درلود، خو هڅه وشوه چې اتفاقي موارد په مسوده کې درج او له اختلافي موارد څخه ډډه وشي.

له اتو میاشتو تدقیق وروسته د جزا کود د وزیرانو شورا ته د تائید په موخه ولېږل شو.

**درېيمه فرعه: د جزا کود تصويب او توشيح:**

د جزا کود د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې پر بنسټ او د پارلمان د تعطيل پر مهال، د ۱۳۹۵ کال د کب د مياشتې په ۱۲ مه نېټه د وزيرانو د شورا د ۲۴ گڼې مصوبې له مخې تصويب شو او ورپسې ولسمشر د اساسي قانون د ٦۴ مې مادې د ١٦ مې فقرې د حکم له مخې د يادې مياشتې په ۱۴ مه نېټه د جزا کود توشيح کړ.

**څلورمه فرعه: د جزا کود نشر او خپرېدل**

د تقنيني سندونو د خپرولو او انفاذ د طی مراحل طريقه، ۱۳۹۵ کال، د قانون د ۳۹ مې مادې د لومړۍ فقرې له مخې، د چارو د ادارې لوی رياست مکلفيت درلود تر څو د جزا کود له توشيح وروسته د دوو کاري ورځو په موده کې د خپرېدو په موخه عدليې وزارت ته واستوي. او د نوموړي قانون د ۴۰ مې مادې د لومړۍ فقرې له مخې د عدليې وزارت مکلفيت درلود چې ياد قانون د ۱۵ ورځو په موده کې په رسمي جريده کې خپور کړي. خو له بده مرغه ياد حکمونه د جزا کود په هکله رعايت نشول. د جزا کود د لومړي ځل لپاره په نيمگړي شکل پرته له فهرسته (لړليک) تر ۲۳٦ مې مادې پورې د عدليې وزارت په ويب پاڼه کې خپور شو (دغه فايل د ۲۰۱۷ کال د جون د مياشتې تر ۲۱ مې نيټې په ويبپاڼه کې موجود ؤ). له هغه وروسته دغه نسخه له ويب پاڼې حذف شوه او پر ځای يې بله نسخه چې ۹۴۰ مادې يې درلودې، او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع او جلوگيرۍ اړوند احکام يې هم په بر کې نيولی ؤ، په ويب پاڼه کې خپره شوه. د دغې نسخې د ۹۴۰ مې مادې په درېيمه فقره کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د جرمونو اړوند فصل په هکله داسې ليکل شوي ؤ:

«ددې قانون د دوه يم کتاب، د اتم باب په پنځم فصل کې درج، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي او د هغو د مجازاتو په هکله له ٦۵۳ څخه تر ٦۷٦ مادې پورې ټول مادې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د سرنوشت تر ټاکل کېدو پورې، د تعليق په حال کې دي»

دغه نسخه د ۲۰۱۷ کال د اگسټ د مياشتې تر دويمې نيټې پورې د عدليې وزارت په ويب پاڼه کې د ليدو وړ وه. د يادونې وړ ده چې د ۱۳۹٦ کال د چنگاښ د مياشتې په ۲۹ مه نيټه د ياد قانون د پېژندگلوۍ په

غونډه کې  چې په کابل کې دايره شوې وه، د عدليې محترم وزير وويل: د جزا کود ۹۴۰ مادې لري او د هغه اشاره هم همدغې نسخې ته وه.
وروسته بيا ياده نسخه له ويب پاڼې حذف شوه او د کود داسې يوه نسخه په ويب پاڼه کې راښکاره شوه چې يوازې لومړۍ پاڼه يې درلوده او دا پيام په کې ليکل شوی ؤ:
" متن نهايی کود جزا به زودي نشر و مورد استفاده مخاطبين محترم قرار خواهد گرفت"[۱]. يعنې: د جزا د کود وروستی متن به ډېر ژر خپور او ښاغلو لوستونکو ته وړاندې شي.
له هغه وروسته په رسمي جريده کې له خپور شوي متن سره سم نسخه، چې ۹۱٦ مادې يې درلودلې د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر د مياشتې په لومړۍ لسو ورځو کې په ويب پاڼه کې خپره شوه. په دې نسخه کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع اړوند مادې حذف شوې وې او د وروستۍ مادې درېيمه فقره چې ياد حکمونه يې معلق ګرځولي ؤ، هم حذف شوې وه، همدارنګه يو لړ نور تغييرات هم تر سترګو کېدل، د بېلګې په توګه په لومړۍ نسخه کې چې لومړی ځل په سايټ کې خپره شوې وه له ۲۰ څخه تر ۳۰ کلونو حبس ته يې د «حبس ابد» اصطلاح کارولې وه. خو په اوسنۍ نسخه کې د «د ۱ درجې دوام حبس» اصطلاح کارېدلې ده (د جزا د کود ۱۴۷ مه ماده)
بيا وروسته د جزا کود په رسمي جريده کې چاپ شو، خو د ۱۳۹٦ کال د چنګاښ د مياشتې تر ۲۹ مې نېټې پورې په کومه ورځ چې د پېژندګلوۍ غونډه يې دايره شوه، هيڅ شخص او يا ادارې ونه شوای کولای هغه رسمي جريده تر لاسه کړي.
ټول ياد بدلونونه د دې څرګندونه کوي چې د ولسمشر په تقنيني فرمان کې له توشيح وروسته تغيير او بدلون راغلی دی. دا په داسې حال کې ده چې د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې د دويم جز د صراحت له مخې: «تقنيني فرمانونه د جمهور رئيس تر توشېح وروسته د قانون حکم پيدا کوي.» نو له همدې کبله، هيڅ فرد او يا اداره نه شي کولای د هغه متن تغيير کړي. له توشيح وروسته په تقنيني فرمانونو کې هر ډول

[۱] - دغه نسخه د ۲۰۱۷ کال د اګست د مياشتې په ۱۳ مه نېټه په ۱۲:۵۷ بجو د عدليې وزارت په ويب پاڼه کې موجوده وه او هماغه مهال يې کاپي اخيستل شوې ده.

تعديل بايد هماغه مراحل طی کړي چې د تقنيني سندونو د خپرولو او انفاذ د ډول په قانون کې د قانون د تعديل لپاره وړانديز شوي دي.

**پنځمه فرعه: د جزا کود انفاذ:**

د ۱۳۹٦ کال د جزا کود د ۱۳۹٦ کال د سلواغې د مياشتې له ۲۵ مې نيټې څخه را پدېخوا نافذ دی. د جزا د کود د ۹۱٦ مې مادې په لومړۍ فقره کې داسې راغلي دي: «دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نهه مياشتې وروسته نافذېږي». نو کله چې ياد کود د ۱۳۹٦ کال د غوايي د مياشتې په ۲۵ مه نيټه په رسمي جريده کې خپور شوی دی، او لکه چې په پوښ يې هم ليکل شوي دي، نو د جزا کود له ۱۳۹٦ کال د سلواغې د مياشتې له ۲۵ مې نيټې څخه را پدېخوا نافذ ګڼل کېږي. که څه هم - لکه څرنګه چې يادونه وشوه – عملاً د جزا کود په ياده نېټه نه دی خپور شوی.

**شپږمه فرعه: ماقبل ته د جزا د کود رجعت او په دې برخه کې د سترې محکمې لارښود:**

د عدلي او قضايي نهادونو د برداشت او پوهې له مخې، د جزا کود د سلواغې له ۲۵ مې نيټې څخه را پدې خوا نافذ دی، او له همدې کبله:

- ټول هغه جرمونه چې د سلواغې له ۲۵ مې وروسته ترسره کېږي، که څه هم د ياد فعل پيل په استمراري جرمونو او يا لومړي ځل فعل په متوالي او اعتيادي جرمونو کې د سلواغې له ۲۵ مې څخه وړاندې ترسره شوی وي، د جزا کود د تطبيق وړ ګڼل کېږي.
- ټول هغه جرمونه چې د سلواغې له ۲۵ مې نيټې وړاندې تر سره شوي دي، که د تحقيق په مرحله کې قرار لري يا محاکمه او يا هم اصلاً لا تر اوسه کشف شوي نه دي، د مخکينيو نافذه قوانينو پر بنسټ تر عدلي تعقيب او محاکمې لاندې نيول کېږي، مګر دا چې ثابته شي چې د جزا کود د متهم او يا متهمينو په نفع دی. او کله چې ثابت شي چې د جزا کود د متهم په ګټه ده، نو محکمې او څارنوالۍ د جزا کود له مخې خپل اجراآت ترسره کوي. له همدې کبله کوم غير قطعي حکمونه چې د مخکينيو قوانينو له مخې صادر شوي دي، کله چې ثابته شي چې د ۱۳۹٦ کال د جزا کود

حکمونه د متهم په ګټه دي، په فوقاني مرحلو کې د جزا کود له مخې پرېکړه يا فيصله صادرېږي.
او که چېرې فوقاني محکمې حکم نقض کوي او تحتاني محکمو ته يې راجع کوي، تحتاني محکمې مکلفې دي چې د جزا کود په رڼا کې خپلې پرېکړې او فيصلې صادرې کړي.

- کوم حکمونه چې د سلواغې له ۲۵ مې نيټې وړاندې قطعي شوي دي، او لا تر اوسه اجرا شوي نه وي، د جزا کود تر اغېزې لاندې نه راځي، که څه هم ثابت شي چې د جزا کود د متهم په ګټه دی.

د جزا کود د انفاذ په هکله د سترې محکمې د لارښوونې په اړه بايد وويل شي:

د سترې محکمې عالي شورا د جزا کود د انفاذ او ماقبل ته د کود د رجعت په هکله په خپله ناسته کې چې د ۱۳۹٦ کال د سلواغې د مياشتې په ۲۳ مه نيټه دايره شوې وه، داسې لارښوونه صادره کړه:"

۱- کوم جرمونه چې د جزا کود له انفاذ څخه وړاندې او د مخکينيو جزای قوانينو د انفاذ پر مهال ارتکاب شوي دي، هغو ته بايد د مخکينيو جزايي قوانينو په رڼا کې رسيدګي صورت ومومي، پدې شرط چې د مخکينيو قوانينو حکمونه چې د جرم د ارتکاب پر مهال نافذ ؤ، د متهم په ګټه وي.

۲- که چېرې د محاکماتي مرحلو پر مهال او د قطعي حکم له صادرېدو وړاندې، نوی قانون نافذ شي، نو بايد داخبره په پام کې ونيول شي چې آيا د مخکينيو قوانينو حکمونه او که د نوي قانون حکمونه د متهم په ګټه دي او که نه ؟ محاکم هغو ته په کتو سره سم خپل اجراآت تر سره کوي او د جزا کود د ۱۷مې مادې (۱ او ۲) فقرو حکمونه چې په هغو کې د متهم په ګټه حالاتو وړاندوينه شوې ده، رعايتوي.

۳- که چېرې د ابتدائيه او يا استيناف د محکمو حکمونه چې د مخکينيو جزايي قوانينو له مخې صادر شوي دي، د استيناف يا فرجام په مرحله کې په داسې حال کې مواصلت وکړي چې د جزا نوی کود نافذ وي، په دغو ټولو حالتونو کې د جرم د ارتکاب پر مهال نافذ قانون او د متهم ګټو ته په

کتو سره پر هغه قانون عمل ترسره کېږي چې د متهم په ګټه وي. ځکه د جزايي قوانينو د وضع کولو يوه ستره موخه د عدالت تأمين او د متهم له حالت سره د هغه سمون او همغږي ده، خو کله چې په پورتنيو مرحلو کې دوسيه نقض شي او د جزا کود له مخې رسيدګي صورت ومومي، نو محاکم د متهم ګټو ته په کتو سره، خپل حکم دې تعديلاً نه قضاءً صادر کړي.

٤- په عمومي ډول، ټول هغه جرمونه چې د جزا د کود له نافذېدو وروسته ارتکابېږي، د جزا کود له مخې بايد ورته رسيدګي صورت ومومي.

٥- د جزا کود له نافذېدو سره سم د دې کود په ۹۱٦ ماده کې درج د ټولو جزايي قوانينو حکمونه او د ټولو هغو قوانينو حکمونه چې د جزا له کود سره مغايرت لري، ملغی ګڼل کيږي او محکمې بايد د ۹۱٦ مې مادې صراحت ته په پام د ملغی قوانينو له مخې خپل حکمونه صادر نه کړي."

**اومه فرعه: د جزا کود په هکله د پارلمان دريځ:**

د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې له مخې د چارو د ادارې لوی رياست د جزا کود توشيح شوې نسخه پارلمان ته استولې ده. اوس مهال د جزا کود د ملي شورا تر غور او بررسۍ لاندې دی، خو لا تر اوسه يې[۱] د تاييد او رد په هکله پرېکړه نه ده کړې. او تر هغو چې د جزا کود نسخه د هېواد له ملي شورا څخه رد شوې نه وي، خپل قانوني قوت لري او د تطبيق وړ ګڼل کېږي.

[۱] - زمری ۱۳۹۷ د دی درسی جزوی ده ليکلو مهال.

## دریمه وینا: د موضوع له مخې د جزا کود د تطبیق ساحه:

د جزا کود د دوېيمې مادې له مخې "(۱) دغه قانون تعزيري جرمونه او جزاګانې تنظيموي. (۲) د حدودو، قصاص او ديت د جرمونو مرتکب د اسلام د شريعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کېږي".
له همدې کبله، د جزا کود لومړۍ موخه داسې بيان شوې ده:
" په تعزيري جرمونو او جزاګانو پورې د اړوندو اصولو، قواعدو او حکمونو تنظيم". (د دريېمې مادې لومړۍ فقره).
همدارنګه، د حدودو، قصاص او ديت د فصلونو په لومړيو مادو کې په دې ټينګار شوی دی، چې ددې فصل مادې هغه وخت د تطبيق وړ دي چې د حدودو، قصاص او يا ديت شرايط تکميل شوي نه وي. د بېلګې په توګه د ۵۴۶ مې مادې دويمه فقره د قتل د جرم په اړه داسې صراحت لري:
"که چېرې په عمد قتل کې قصاص له مسقطه اسبابو څخه په يوه يا د شرايطو په نه تکميل، ساقط يا متعذر شي، مرتکب د احوالو له مخې د دې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي".
او همدارنګه د حدودو او قصاص په اړوندو ټولو جرمونو کې همداسې ليکل شوي دي، مثلاً لاندې مادې ولولئ: د ٥٦٩ مې مادې دويمه فقره د اسقاط جنين د جرم په اړه، ٦٠١ ماده د راهزنۍ (لار وهنې) د جرم په اړه، د ٦٣٦ مې مادې دويمه فقره د جنسي تېري د جرم په اړه، د ٦۴٣ مې مادې دويمه فقره د زنا په اړه، د ٦٧٣ مې مادې دويمه فقره د قذف د جرم په اړه، د ٦٨۴ مه ماده د شرابو د څښلو د جرم په اړه او د ٦٩٩ مې مادې دويمه فقره د سرقت د جرم په اړه.
نو د حدودو، قصاص او ديات جرمونه د دغه کود يا قانون د تطبيق له ساحې څخه بهر دي. ياد جرمونه د دويمې مادې د صراحت له مخې د اسلام د شريعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم ورته رسيدګي کېږي.

## ځلورم مبحث: د جزا کود عمومي اصول او قواعد:

د حقوقو ټولې رشتې ځينې کُلي قواعد لري، چې پر هغه رشته حاکميت لري، او د «اصولو» په نامه سره يادېږي. له دې اصولو څخه هر يو د لسګونو نورو کُلي او يا تفصيلي قاعدو سرچينه ګرځي، نو حقوقي اصول: «هغه کُلي او دايمي اصول دي چې د څو جزيي قاعدو د وضع کولو منشأ او سرچينه ګرځي او پر ټولنه د حاکمو ارزښتونو نماينده و استازي بلل کېږي»[1]. او يا دا چې حقوقي اصول له «هغو کُلي نورمونو څخه عبارت دي چې له هغو څخه حقوقي نورمونه را منځته کېږي»[2]. د جزا کود د خپل لومړي کتاب د لومړي باب په دوهم فصل کې ځينې دغه اصول ښودلي دي چې په حقيقت کې د هېواد د جزايي کړنلارې او سياست چوکاټ ګڼل کېږي. دغه اصول عبارت دي: د ذمې د برائت اصل، د قانون پر وړاندې د افرادو د برابرۍ اصل، د جرم او جزا د قانونيت اصل، د جرم او جزا د شخصي والي اصل، د قانون له احکامو څخه بې خبرۍ د عذر د نه شمېرولو اصل، د انساني کرامت د مراعاتو اصل. په لاندې کرښو کې پورتني اصول د شپږو ويناوو په ترڅ کې تشريح کېږي او په اومه او وروستۍ وينا کې «له جرم نه د زيانمنو د خسارې د جبران اصل» تشريح کېږي.

### لومړۍ وينا: د ذمې د برائت اصل:

دغه اصل د جزا پر کود له حاکمو اصولو څخه يو اساسي اصل بلل کېږي، بلکې د هېواد پر حقوقي نظام يو حاکم اصل شمېرل کېږي، په داسې توګه چې شخص تر هغه بې ګناه شمېرل کېږي تر څو چې د باصلاحيته محکمې د قطعي حکم پر اساس محکوم عليه ونه ګرځي. په اساسي قانون کې د دې اصل په ګوته کول او وړاندوينه، د دې خبرې ارزښت او اهميت په ګوته کوي. د اساسي قانون ۲۵ ماده په دې اړه داسې صراحت لري: «د ذمې برائت اصلي حالت دی، تر هغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم

[1] - محسن صادقي، جستاری در بنيادهای علم حقوق: اصول حقوقی وجايگاه آن در حقوق موضوعه، ج ۱، تهران: تله، ۱۳۸٤، ٤۳مخ.
[2] - مهدي هداوند اوعلي مشهدي، أصول حقوق اداری، ۲۰.

تورن محکوم علیه ثابت نه شي، بې گناه گڼل کېږي». د جزا د کود (۵) مادې په ورته ډول همدا ماده بیا ذکر کړې ده. دغه اصل هم په شریعت او هم په حقوقو کې د جزايي نظام اصل او بنسټ تشکیلوي.

**لومړی فرعه: په اسلامي شریعت کې د ذمې د برائت اصل:**

دغه اصل د اسلام د سپېڅلي دين په اصولو کې ريښه لري، کوم چې د عدالت دين دی او د عادل ذات له لورې نازل شوی دی، د اسلامي فقهې قواعدو په عمومي توگه دغه حق د ټولو افرادو لپاره په رسميت پېژندلی دی، د مثال په توگه دغه اصل: «الأصل براءة الذمة »[۱]. ژباړه: (د ذمې برائت اصلي حالت دی) او يا دغه قاعده «إن الدليل الأصلي هو استصحاب البراءة الأصلية»[۲]. ژباړه: (د ذمې برائت د بې گناهی اصلي دليل شمېرل کېږي).

له دې امله تورن کسان د جرم له اثبات څخه مخکې بې گناه شمېرل کېږي. په دې برخه کې د هغو اشخاصو تر مينځ چې په نېک او يا بد نوم شهرت لري او يا يې حال مجهول وي، هېڅ توپير نشته. له دې دوه اصولو څخه نورو قواعدو سرچينه اخيستې ده، لکه دا قاعده: " اليقين لا يزول بالشك "[۳] . ژباړه: (يقين په شک له منځه نه ځي). او دا قاعده: "درء الحدود بالشبهات" يا " الحُدُودُ تُدْرَأُ بِالشُّبُهَات "[٤]. ژباړه: (د حدودو جزاگانې د شبهې له امله له منځه ځي).

له دې امله اصل دا دی چې د انسان ذمه له حقوقو او بدن يې له حدودو، قصاص او تعزيراتو څخه برئ او پاک دی، مگر په هغه صورت کې چې په يقيني دليل سره يې مديون والی او مجرم والی ثابت شي.

[۱] - السيوطي- الأشباه و النظائر، ۵۳ مخ. او ابن نجيم- الأشباه و النظائر، ۵۹ مخ.

[۲] - السيوطي- الأشباه و النظائر، ۵۱ مخ.

[۳] - السيوطي- الأشباه و النظائر، ۵۰ مخ . او ابن نجيم- الأشباه و النظائر، ۵٦ مخ.

[٤] - ابن نجيم- الأشباه و النظائر، ۱۲۷ مخ . دغه قاعده د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې حديث څخه چې فرمايي: " ادرؤوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم فإن كان له مخرج فخلوا سبيله فإن الإمام أن يخطئ فى العفو خير من أن يخطئ فى العقوبة" استخراج شوې ده. الترمذي – سنن الترمذي ، کتاب الحدود، باب ما جاء في درء الحدود د حديث شمېره :(۱۳۲٤) اوالإمام البيهقى، السنن الكبرى ۲۳۸/۸.

ځکه په لومړي سر کې او د جرم له واقع کېدو مخکې د انسان بې ګناهي يوه يقيني خبره ده، او مخکنی يقين په وروستني شک سره له منځه نه ځي.

د ذمې د برائت اصل سرچينه او منشأ شرعي نصوص تشکيلوي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي:﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَئِكَ كَانَ عَنْهُ مسؤولاً ﴾[١].

ژباړه: «د هغه څه پيروي مه کوه چې پرې نه پوهېږې، ځکه غوږونه، سترګې او زړونه ټول پوښتل کېږي.»

په دې آيت کې د هر څه په اړه د تحقيق کولو تصريح شوې ده او د هغه څه د پيروۍ څخه انسان منع شوی دی چې پرې نه پوهېږي. له دې امله د هر څه د پېژندلو نښه علم او يقين دی، او له دې پرته که هغه ظن او ګمان وي او يا حدس او تخمين او يا شک او احتمال، هيڅ يو د باور او اعتماد وړ نه دي. او هغه کسان چې د دې امورو پر اساس باور کوي، يا قضاوت او پرېکړه کوي، يا ګواهي ورکوي او يا حتی په خپل شخصي عمل کې د هغه مطابق رفتار کوي، نو د اسلام د دې صريح امر خلاف قدم پورته کوي.

په بل عبارت، شايعات او پروپاګند کولای شي د قضاوت، ګواهۍ او عمل بنسټ وګرځي او نه هم هغه ظني قرينې چې يو له بل سره همغږي نه لري او د قاضي باور نه شي جلبولای او نه هم غيرقطعي خبرونه چې له غيرموثقو سرچينو څخه تر لاسه کېږي.

په پورتني آيت کې د ټولنيز ژوند له مهمو اصولو څخه يوه اصل ته اشاره شوې ده چې هغه ته نه پاملرنه د ټولنيزې ګډوډۍ او د انساني اړيکو او عاطفي پيوندونو د له منځه تللو څخه بله هېڅ پايله نه لري.

که چېرې په رښتيا دغه قرآني برنامه په ګرده انساني ټولنه او بشري ټولنو کې په دقيقه توګه عملي شي، د ټولو هغو ګډوډيو ټغر را ټولېږي چې له شايعاتو، عجولانه قضاوتونو، بې بنسټه ګمانونو او له مشکوکو او درواغو خبرو څخه سرچينه اخلي.

---

[١] - سورة الإسراء/ ٣٦.

که نه نو ګډوډۍ به په ټولنيزو اړيکو کې ځای ونيسي، هيڅوک به د بل چا له بد ګمان څخه په امان کې نه وي، هيڅوک به په بل چا اطمينان او باور پيدا نه کړي او د ټولو آبرو او حيثيت به په خطر کې وي. په نورو زياتو آياتونو کې الله تعالی د ګمان پر اساس له قضاوت کولو څخه منع کړې ده، چې دا په خپله د ذمې د برائت پر اصل دلالت کوي، الله تعالی فرمايي:﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنْ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ﴾[۱].

ژباړه:«ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! له ډېرو ګمانونو څخه ځان وساتئ، ځکه چې ځينې ګمانونه ګناه وي».

د شبهې له امله د حدودو د دفع کولو او له منځه وړولو په اړه له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه هم ګڼ شمېر احاديث روايت شوي دي [۲] چې د ذمې د برائت اصل تأييدوي، لکه:" ادْرَءُوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ، فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ ، فَإِنَّ الإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ"[۳].

ژباړه: « څومره چې کولای شئ حدود له مسلمانانو څخه دفع کړئ، که چېرې (د تورن د عفوې لپاره) کومه لاره وه نو هغه پرېږدئ. ځکه دا غوره ده چې امام په عفوه کې خطا شي، له دې نه چې په جزا ورکولو کې غلطي وکړي».

په دې اساس کله چې انسان دنيا ته سترګې غړوي، ذمه يې د يوې سپينې پاڼې په توګه له هر ډول تعهد او التزام څخه خالي وي. او دا يو ډېر با ارزښته اصل دی او څوک چې د دې خلاف وي نو هغه مدعي

---

۱ - د الحجرات سورت/ ۱۲.

۲ - المرغيناني- الهداية د بداية المبتدي شرحه:۷۰/٤.

۳ - الترمذي – سنن الترمذي- کتاب الحدود، باب ما جاء في درء الحدود: ٤ / ۲۵ د حديث شمېره:( ۱٤۲٤).

شمېرل کېږي او د خپلې دعوې پر اثبات مکلف دی. ځکه هغه څه چې پخوا په يقين ثابت دي تر څو چې په يقيني دليل نفي نشي، استمرار پيدا کوي. [۱].

له دې اصل څخه ګڼ احکام سرچينه اخلي، د هغو له جملې څخه دا چې تورن د خپل برائت په اثبات مکلف نه دی، ځکه اصل په انسان کې برائت دی، له دې امله د اثبات مسؤوليت هغه څوک لري چې د اصل خلاف دعوی کوي. بل دا چې هر کله د اتهام دلايل رامنځته شي، تورن حق لري د نفې دلايل وړاندې کړي او هر کله چې مدعي دليل ونه لري، تورن هم مکلف نه دی چې د خپل برائت د اثبات لپاره دليل وړاندې کړي، ځکه اصل په هغه کې برائت دی مګر په مدني مسائلو کې چې قضاء مدعي عليه ته قسم متوجه کوي او له مدعي عليه څخه په استثنايي توګه قسم د دليل په توګه منل کېږي ځکه د هغه لوری د «ذمې د برائت د اصل» پر اساس قوی دی نو له دې امله له هغه څخه ضعيف دلايل، يعني قسم، هم منل کېږي خو مدعي د ګواهانو په وړاندې کولو مکلف دی [۲].

**دويمه فرعه: په حقوقو کې د ذمې د برائت اصل:**

په اساسي قانون او نورو ټولو قوانينو کې د ذمې د برائت حق د تورن له اصلي حقوقو څخه په رسميت پېژندل شوی دی. اساسي قانون په ۲۵ مه ماده کې په صراحت سره وايي چې: «د ذمې برائت اصلي حالت دی، تر هغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم تورن محکوم عليه ثابت نشي، بې ګناه ګڼل کېږي»[۳].

د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون په خپله (۵) مه ماده کې په دې اړه داسې وايي:

"(۱) د ذمې برائت اصلي حالت دی، تورن تر هغه وخته چې د واکمنې محکمې په قطعي حکم سره محکوم عليه ونه ګڼل شي، بې ګناه پېژندل کېږي.

---

[۱] - ابن القيم، إعلام الموقعين: ۳۳۹/۲.

[۲] - الکاساني، بدائع الصنائع: ۲۵/٦.

[۳] - د عدليې وزارت، اساسي قانون، رسمي جريده، ګڼه: (۸۱۸).

(۲) څارنوال او قاضي نشي کولای په قضيه کې مبهم دلايل د مظنون او تورن په خلاف د اثبات د د لايلو په توگه توجيه او يا ابهام په قانون کې د هغوی په زيان تعبير کړي"[1].

په قانون کې بې شمېره قاعدې په همدې اصل بنا دي، لکه: تورن د خپلې بې گناهۍ اثبات ته اړتيا نه لري، د شک تفسير د تورن په گټه، جزايي حکم په جزم او يقين بنا کول، د ابتدائی محکمې د حکم له صادرېدو سره سم د توقيف شوي شخص خوشې کول او د وروستي حکم تر صدور پورې د هغه د توقيف بې موجبه نه تمديدول، د تعذيب او ربړولو نه جواز، تر اکراه لاندې د اخيستل شوي اقرار نه اعتبار، د الزام د حکمونو د سبب د بيانولو الزاميت، د برائت د حکم د نقض نه جواز مگر د قضايي هيأت د آراوو په اتفاق سره.

د بېلگې په توگه د پورته نکاتو اړوند د قانون ځينې مادې رانقلوو:

د جزايي اجراآتو د قانون ۵ ماده چې پورته ذکر شوه، لاندې اصولو ته شامله ده:

په جزم او يقين د جزايي حکم بنا کول، د تورن په گټه د شک تفسير، د مسؤوليت اثبات د څارنوال او مدعي په غاړه دی او تورن د خپلې بې گناهۍ په اثبات مکلف نه دی.

د جزايي اجراآتو د قانون ۱۰۲ مه ماده د برائت د حکم له صادريدو سره سم د توقيف شوي شخص د خلاصون حکم ورکوي او د هغه استثناءات په داسې توگه بيانوي: "که چېرې څارنوال د تورن د برائت په اړه د جنايت په جرم کې د ابتدائيه محکمې پر صادره حکم اعتراض وکړي، پورتنۍ محکمه د تورن د توقيف د ادامې موضوع، د اعتراض وړ اصل قضيې له څېړنې د مخه په مستعجله توگه څېړي او د هغه د توقيف يا خوشې کېدو په برخه کې لازم تصميم نيسي. که چېرې پورتنۍ محکمه زيات نه زيات د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې د تورن د توقيف د تمديد امر صادر نکړي، تورن فوراً خوشې کېږي "[2].

---

[1] - د عدليې وزارت، د جزايي اجراآتو قانون، رسمي جريده، گڼه: (۱۱۳۲).

[2] - د عدليې وزارت، اساسي قانون، رسمي جريده، گڼه: (۱۱۳۲).

د جزايي اجراآتو د قانون ۲٦۰ مادې د استيناف په مرحله کې د برائت د حکم الغا د قضايي هيأت د رأيو تر اتفاق پورې مشروطه گرځولې ده :".. د برائت د حکم الغاء د قضايي هيئت د رأيو په اتفاق صورت مومي" د سترې محکمې پر احکامو د نظر د تجديد زيات موارد د ذمې د برائت له اصل سره تړاو لري [۱].

د جزايي اجراآتو د قانون ۲۸٦ ماده د بې گناه شخص د معنوي ضرر د جبران لپاره چې په ناحقه محکوم شوی او محکوميت يې نشر شوی وي، دا لازمه بولي چې د هغه د برائت حکم په هماغه رسنۍ کې د دولت په مصرف نشر شي: "که چېرې د تورن د محکوميت حکم په ټوليزو رسنيو کې د مخه خپور شوی وي او د نوې کتنې په پايله کې د هغه په برائت حکم صادر شي، څارنوالۍ مکلفه ده چې د هغه د برائت حکم د دولت په لگښت په هماغه ټوليزو رسنيو کې خپور کړي" [۲].

**درېيمه فرعه: په نړيوالو حقوقو کې د ذمې د برائت اصل:**

د بشري حقوقو په نړيوالو اسنادو کې، د لومړي ځل لپاره د برائت اصل په رسمي توگه په ۱۷۸۹ ميلادي کال د فرانسې د بشر د حقونو په نړيواله اعلاميه [۳] کې مطرح شو. د دې اعلامېې د ۹ مادې پر اساس " لکه څرنگه چې اصل د ټولو افرادو په اړه برائت دی تر څو چې مقصر نه وي پېژندل شوی، د نيولو په صورت کې هر ډول سختي کول بايد د قانون له طرفه په جدي توگه منع شي". د ذمې د برائت اصل د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلامېې [٤] په ۱۱ ماده او د مدني او سياسي حقوقو د نړيوال ميثاق [٥] د ۱۴ مادې په ۲ بند کې هم راغلی دی.

[۱] - د جزايي اجراآتو د ۱۳۹۳ قانون ۲۸۲ ماده دې وکتل شي

[۲] - د عدليې وزارت، د جزايي اجراآتو قانون، رسمي جريده، گڼه: (۱۱۳۲).

[۳] - دغه اعلاميه د ۱۷۸۹م کال د اگست په ۲٦ نېټه د فرانسې په ملي مجلس کې تصويب شوې ده.

[٤] - دغه اعلاميه د ۱۹۴۸م کال د دسمبر په ۱۰ مه نېټه د ملگرو ملتونو د سازمان په عمومي مجمع کې تصويب شوې ده.

[٥] - دغه ميثاق د ۱۹٦٦م کال د دسمبر په ۱٦ نېټه د ملگرو ملتونو د سازمان د عمومي مجمع لخوا تصويب شوی دی.

د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې ۱۱ ماده داسې ليکي: "هر هغه څوک چې په کوم جرم تورن شوی وي، حق لري تر هغېبې گناه وگڼل شي تر څو يې جرم په داسې يوه ښکاره محکمه کې ثابت شوی نه وي، چې تورن پکې د خپلې دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمينونه ولري".

د مدني او سياسي حقوقو د بين المللي کنوانسيون د ۱۴ مې مادې په ۲ فقره کې د دې اصل په اړه داسې صراحت راغلی دی:" هر څوک چې د يو جرم په ارتکاب تورن شوی وي، حق لري چې بې گناه فرض کړای شي تر هغې چې گناه يې د قانون مطابق ثابته شي".

د بشر د حقوقو د اسلامي اعلاميې[1] د ۱۹ ماده په ۵ فقره کې هم دې اصل ته توجه شوې ده: " تورن، تر هغه پورې بې گناه دی چې محکوميت يې د عادلانه محاکمې له لارې چې له ځان څخه د دفاع ټول تضمينونه ورته برابر وي، ثابت شي".

## دويمه وينا: د قانون پر وړاندې د خلکو د برابرۍ اصل:

له مساوات او برابرۍ څخه برخمن کېدل او عدالت ته لاسرسی هم د جزا په کود کې د يو اصل په توگه پېژندل شوی دی.

د جزا د کود ٦ ماده داسې صراحت لري: "مظنون، تورن (متهم) او محکوم د مليتي، نژادي، ژبني، قبيله يي، ديني يا مذهبي، سياسي عقيدې، جنس، تحصيل، شغل، نسب، شتمني، ټولنيز موقف، د استوگنې او مېشتېدو د ځای د تعلقاتو له په پام کې نيولو پرته د قانون په وړاندې له بشپړې تساوۍ څخه برخمن دي".

[1]- دغه اعلاميه په قاهره کې د ۱۹۹۰م کال د اگست په ۵ چې د ۱۴۱۱هـ ق کال د محرم له مياشتې سره سمون خوري د اسلامي کنفرانس د سازمان د بهرنيو چارو د وزيرانو په ناسته کې د کنفرانس د ټولو غړو له خوا تصويب شوې ده.

**لومړۍ فرعه: په شريعت کې د قانون پر وړاندې د خلکو د برابرۍ اصل:**

پورتنی اصل له شرعي نصوصو څخه هم سرچينه اخلي، د اسلام مبين دين د مساوات او عدالت مراعات ته لازمه پاملرنه کړې ده، لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ﴾[۱].

ژباړه:« کله چې د خلکو تر منځ پرېکړه کوئ نو په عدالت پرېکړه وکړئ! ».

همدارنگه په گڼ شمېر احاديثو کې د دعوې د دواړو لوريو يا طرفينو په برابرۍ او مساوات، د عدالت په رعايتولو او د هر لوري دلايلو ته پر غوږ نيولو زيات ټينگار شوی دی. له علي – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي:"إِذَا أَتَاكَ الْخَصْمَانِ فَسَمِعْتَ مِنْ أَحَدِهِمَا ، فَلا تَقْضِيَنَّ حَتَّى تَسْمَعَ مِنَ الآخَرِ، فَإِنَّهُ أَثْبَتُ لَكَ "[۲].

ژباړه: " کله چې دوه مخالف لوري درته د پرېکړې کولو لپاره راغلل، او کوم وخت دې چې د يوه لوري دلايل واورېدل، تر هغه پرېکړه مه کوه تر څو دې چې د بل لوري دلايل نه وي اورېدلي، ځکه دا ستا لپاره د ثبات او قوت لامل گرځي".

همدارنگه له عايشې ـ رضي الله عنها ـ څخه روايت دی چې ويې فرمايل: د مخزومي ښځې د غلا پېښې، قريش خپه کړل او ويې ويل: څوک به په دې اړه له رسول الله – صلی الله عليه وسلم – سره خبرې وکړي؟ څرنگه چې اسامه چې شهيد پلار يې د څه وخت لپاره رسول الله په زويتوب نيولی ؤ، د رسول الله ـ صلی الله عليه وسلم ـ په وړاندې يې ځانگړی مقام درلود، د دې کار لپاره واسطه کړ تر څو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په دې اړه خبرې وکړي. خو رسول الله – صلی الله عليه وسلم – په قهر شو او ورته يې وويل: څرنگه د الله تعالی له حدودو څخه د يو حد په اړه بښنه غواړې؟ بيا پورته شو او خطبه يې وويله او ويې فرمايل: ای خلکو! ستاسې څخه پخوا خلک له دې امله گمراه شول، کله به چې يو شريف (د لوړ

[۱] - د النساء سورت / ۵۸.

[۲] - أبو داود- سنن أبي داود ٦٨٤/٢. او الترمذي- السنن: ۲ / ۲۷۷ .

خاندان) انسان غلا وکړه، پر هغه به يې حد نه جاري کاوه او کله به چې په هغوی کې يو کمزوري غلا وکړه نو پر هغه به يې حد جاري کاوه. قسم په الله که چېرې فاطمه د محمد لور هم غلا وکړي نو محمد به په هغې د حد جزا تطبيق کړي [۱]".

همدارنګه ځينې احاديث په خبرو، ناسته، اشاره، کتلو او نورو ټولو مواردو کې د دعوا د دواړو اړخونو پر برابرۍ تأکيد کوي، لکه څرنګه چې د ام سلمه – رضي الله عنها – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – فرمايلي دي: "مَن ابتُلِىَ بالقَضاءِ بينَ المُسلمينَ فَلْيَعدِلْ بَينَهُم فى لَحظِهِ و إشارَتِهِ و مَقعدِهِ ومَجلِسِهِ" . وفى رواية "فَلا يَرْفَعَنَّ صَوْتَهُ عَلَى أَحَدِ الْخَصْمَيْنِ مَا لا يَرْفَعُ عَلَى الآخَرِ" [۲].

ژباړه: «هر هغه کس چې د مسلمانانو تر منځ د پرېکړې کولو په دنده وګمارل شي، نو د هغوی تر منځ دې په کتلو، اشاره کولو، د کېناستلو په ځای او د کېناستلو په شکل کې برابري کوي. او په بل روايت کې راغلي دي: پر يو لوري به خپل اواز نه پورته کوي چې د بل طرف پر وړاندې دا کار نه کوي».

همدارنګه د اسلام دويم خليفه حضرت عمر بن الخطاب – رضي الله عنه – د بصرې قاضي ابوموسی اشعري ته ليکي:" آس بين الناس في مجلسك و وجهك، و قضائك حتى لا يطمع شريف في حيفك [۳]، ولا ييأس ضعيف من عدلك..." [٤]. «د خلکو تر منځ په خپله ناسته، التفات او مخ اړولو، پرېکړه کولو کې برابري کوه، تر څو شريف او د مقام څښتنان تا ته هيله پيدا نکړي او کمزروي او ضعيف خلک ستا له عدالت څخه ناهيلي نشي».

همدارنګه د مساوات اصل د دې غوښتنه کوي چې د دعوا دواړه لوري بايد محکمې ته په داخلېدو او د قاضي پر وړاندې مساوي حق ولري، او د دوی هېڅ يو بايد له بل څخه مخکې د محکمې انګړ ته داخل

---

[۱] - البخاري – صحيح البخاری، کتاب الحدود – باب كراهية الشفاعة في حد، د حديث شمېره: (٦٧٨٨).

[۲] - الشوكانی، نيل الأوطار ٨ / ٢٧٥ .

[۳] - الحَيْفُ : د ظلم او د حق نه د باطل لوري ته د ميلان په معنا راغلی دی. الله تعالی فرمايي: ﴿امْ يخَافُونَ أَن يحِيف اللَّهُ عَلَيهِمْ وَ رَسولُهُ﴾ (د النور سورت/٥٠). ژباړه: «يا ډارېږي چې الله تعالی او د هغه رسول به پر دوی ظلم وکړي؟»

[٤] - الماوردي- الأحكام السلطانية، ٥٨ مخ.

نه شي، لکه څرنګه چې علامه ابن القيم رحمه الله وايي:" هر کله چې حاکم او يا قاضي د دعوا له لوريو څخه يو لوري ته له بل څخه مخکې محکمې ته د داخلېدو اجازه ورکړي او يا هغه ته د مجلس په لومړي سر کې ځای ورکړي، په دې وخت کې د بل لوري دلايل کمزروي کېږي او د قاضي له عدالت څخه ناهيلی کېږي "[1].

له پورته دلايلو څخه په وضاحت سره معلومېږي چې د اسلام مبين دين څوارلس سوه کاله مخکې، د دعوا د دواړو لوريو تر منځ عدالت او مساوات او د قضاء په وړاندې د دواړو د برابرۍ بنسټ ايښی او هغه يې تضمين کړی دی. برابره ده چې د دعوا لوري د موقف او مقام له اړخه په هر ځای کې قرار ولري، خو د قاضي پر وړاندې دواړه برابر دي. او قاضي اصلاً نشي کولای د دعوا له يوه لوري سره د بل په نسبت متفاوت او عالي برخورد ولري. له دې ځايه معلومېږي چې اسلام د دعوا د دواړو اړخونو لپاره د عدالت، برابرۍ او په نېک تعامل باندې پوره تأکيد کوي.

**دويمه فرعه: د قانون له نظره له مساوات څخه د برخمن کېدو او عدالت ته د لاسرسۍ حق:**

په عام ډول، ټولو وضعي قوانينو د وګړو تر منځ د مساوات او برابرۍ حق، که څه هم هغه کس تورن وي، په رسميت پېژندلی دی او په بېلابېلو تقنيني سندونو کې پر هغه تأکيد او ټينګار شوی دی. د افغانستان اساسي قانون په (۲۲) ماده کې داسې يې تصريح کوي: " د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري".
د پورته کُلي قاعدې سربېره، د هېواد اساسي قانون د ټولو اتباعو حقوق، د تورونو کسانو په شمول له (۲۳ مې مادې څخه تر ۳۰ مادې) پورې په عامو الفاظو بيان کړي دي چې ټول خلک کولای شي له کوم تبعيض پرته ورڅخه ګټه واخلي.

د۱۳۹۲ کال د محاکمو د تشکيل او واک قانون د محکمې پر وړاندې د دواړو لوريو د برابرۍ اصل منلی او په خپله (۱۹) ماده کې داسې صراحت لري:"محکمه د قضيې د څېړنې په وخت کې خپلواکه ده، خپل

[1] - ابن القيم – زاد المعاد فی هدي خيرالعباد-:۸۹/۱۰.

حکم د هغه قناعت پر بنسټ چې د هغې په وړاندې له مطروحه دلایلو څخه برابرېږي، د قانون د حکمونو په حدودو کې صادروي. د محکمې په واسطه څېړنه او د حکم صادرېدل، د قانون په وړاندې د قضیې د اړخونو د تساوي د اصل پر بنسټ د عدالت او ناپلوۍ له په پام کې نیولو سره صورت مومي".

د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون هم د تورنو (متهمو) حقوق په (۷) ماده او له هغې نه وروسته په عامو الفاظو ذکر کړي دي چې ټول تورن کسان بې له کوم تبعیض څخه له هغو نه ګټه اخیستلای شي. دغه قانون په خپله دویمه ماده کې «عادلانه محاکمه» د قانون له موخو څخه یوه موخه او هدف په ګوته کړې دی. د قضاء او قانون پر وړاندې برابري د عادلانه محاکمې له مهمو اجزاو څخه شمېرل کېږي.

د دې حق د ښه تأمین په موخه، د افغانستان اجرایي قوانینو لکه: د جزایي اجراآتو قانون، مدني او تجارتي محاکماتو قوانینو، د قاضي د رد او اجتناب حکمونه تنظیموي چې د هغو پر اساس، هغه قاضیان، اهل خبره او څارنوالان چې له یو لوري څخه یې د طرفدارۍ تصور کېدای شي، قضیې ته له لاسرسي څخه منع شوي دي. د جزایي اجراآتو قانون یاد حکمونه له ۱۲ مې مادې څخه تر ۱۸ مې مادې پورې بیان کړي دي. د مثال په توګه د یادقانون (۱٦) ماده په لاندې توګه ذکر کوو:

(۱) قاضي په لاندېنیو حالاتو کې د جزایي دعوا په څېړنه کې د ګډون حق نلري:

۱- په هغه صورت کې چې جرم د هغه یا د هغه له خپلوانو څخه د یوه پر خلاف ارتکاب شوی وي.

۲- په هغه صورت کې چې تورن د هغه د خپلوانو له جملې څخه وي.

۳- په هغه صورت کې چې د مخه په عین قضیه کې له اړخونو څخه د یوه د قضایي ضبط د مامور، څارنوال، حقوقي مشاور، اهل خبره یا شاهد په توګه ګډون کړی وي او یا یې په قضیه کې حکم صادر کړی وي.

٤- په نورو حالاتو کې چې قانون حکم کړی وي.

(۲) که چېرې قاضي د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حالاتو څخه په يوه کې د قضيې په څېړنه او د حکم په صادرېدو کې ګډون کړی وي، صادر شوی حکم له ابطال سره مخامخ کېږي"[۱].

**درېيمه فرعه: د بشر د حقوقو په نړيوالو اسنادو کې له مساوات څخه د برخمن کېدو او عدالت ته د لاسرسی حق:**

په نړيوالو حقوقو کې هم د تورنو کسانو لپاره د مساوات او برابرۍ حق په رسميت پېژندل شوی دی.

د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې[۲] په (۱۰) ماده کې داسې راغلي دي:"هر څوک بشپړ مساوي حق لري چې دعوه يې د يوې ناپېيلې او مستقلې محکمې له خوا په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونيول شي، او دغه شان محکمه د ده په حقوقو او الزاماتو او يا هر جزايي تور چې په ده لګول شوی دی، لازمه پرېکړه وکړي".

د بشر د حقوقو د اسلامي اعلاميې (۱۹) ماده په دې اړه داسې وايي:"

الف: خلک د شرعې پر وړاندې مساوي دي. په دې برخه کې حاکم او محکوم هم سره برابر دي.

ب: محکمې ته مراجعه او پناه وړل داسې يو حق دی چې د ټولو لپاره تضمين شوی دی.

ج: مسؤوليت په اصل کې شخصي دی.

د: هيڅ جرم او يا مجازات نشته مګر يواځې د شريعت د حکمونو له مخې.

هـ: تورن تر هغه پورې بې ګناه دی چې محکوميت يې د عادلانه محاکمې له لارې چې له ځان څخه د دفاع ټول تضمينونه ورته برابر وي، ثابت شي.

---

۱- د عدليې وزارت، د جزايي اجراآتو قانون، رسمي جريده، ګڼه: (۱۱۳۲).

۲- دغه اعلاميه د ۱۹۴۸م کال د دسمبر په ۱۰ نېټه د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي غونډه کې تصويب شوې ده.

**د جندر بحث:**
په دی وینا کی چی کوم تفصلی بحثونه وشول لغو څخه روښانه شوه چی په اسلامی شریعت، داخلی قوانینو او د بشرـ حقونو په بین المللی اسنادو کې، د قانون پر وړاندې د خلکو برابری، د یوه اصل په توگه منل شوی دی. نو پدی هکله د ښځو پروړاندی هیڅ ډول تبعیض وجود نه لری.

## درېيمه وينا: د جرم او جزا د قانونيت اصل:

د حقوقو په برخه کې، د جرم او جزا د قانوني والي اصل، د عصري جزايي حقوقو له پرمختلليو لاسته راوړنو څخه يوه ده. دغه اصل د اساسي قانون په ۲۷ ماده او د جزا د کود په ۷ ماده کې تنظيم شوی دی.

**لومړۍ فرعه: د جرم او جزا د قانوني والي د اصل مفهوم او ازرښت:**

د جرم او جزا د قانوني والي معنا دا ده چې هېڅ عمل جرم نه بلل کېږي مگر د هغه قانون پر اساس چې د هغه جرم له ارتکاب څخه مخکې نافذ شوی وي، او هېڅوک مجازات کېدای نشي مگر د هغه قانون د احکامو مطابق چې د تورن د فعل له ارتکاب څخه مخکې نافذ شوي وي. په دې معنا چې جرم او جزا بايد په قانون کې بيان شوي وي. نور اصول لکه: ماقبل ته د قانون د نه رجعت اصل، د جزايي قوانينو د مضيق تفسير اصل، د جرم او جزا په تشخيص کې له قياس څخه د استفادې د نه جواز اصل او د جزايي اجراآتو د قانوني والي اصل، له همدې اصل يعنې د جرم او جزا د قانوني والي له اصل څخه سرچېنه اخيستې ده.

د جرم او جزا د قانوني والي اصل، د دريو امورو غوښتنه کوي: **لومړی**) په قانون کې د جرمي اعمالو وړاندوينه؛ **دويم**) په قانون کې د جزا وړاندوينه؛ **درېيم**) په قانون کې جرم ته د رسيدگۍ لپاره د اجراآتو او د مجازاتو د تطبيق وړاندوينه.

ټولنې ته د دې اصل ارزښت په دې کې دی چې د افرادو د حقوقو او آزاديو ضمانت کوي، خلکو ته روښانه کوي چې څه بايد وکړل شي او څه بايد ونه کړل شي، او همدارنګه د عامه افکارو پر وړاندې د مجازاتو تطبيق توجيه کوي، ځکه جزا د عادت له مخې په عامه افکارو کې يو ناسم کار دی. خو کله چې خلک پوه شي چې جزا د هغو قانوني احکامو مطابق تطبيقېږي چې د جرم له ارتکاب څخه مخکې نافذ شوي دي او دا چې جزا د عدالت د تطبيق او د ټولنې د نظم د ساتنې لپاره تطبيقېږي، نو بيا يې قبلوي. د دې تر څنګ دغه اصل د مجرم لپاره هم ګټور دی، ځکه د هغو مجازاتو مانع ګرځي چې په قانون کې د ښودل شوو مجازاتو څخه سخت وي[1]. دغه اصل په اسلامي شريعت او همدارنګه په جزايي قوانينو کې له هغو مهمو اصولو څخه دی چې په جنايي فقه او د جزا پر حقوقو حاکم دي.

**دويمه فرعه: په اسلامي شريعت کې د جرم او جزا د قانونيت اصل:**

د جرمونو او جزاګانو د قانوني والي اصل مخکې له دې چې په اتلسمه (۱۸) پېړۍ کې د هېوادونو په وضعي حقوقو او جزايي قوانينو او يا نړيوالو اسنادو کې ورباندې تصريح وشي، په شرعي نصوصو او د اسلامي شريعت په کُلي قواعدو کې ښودل شوی دی چې لاندې نصوص او قواعد يې بيانوي:

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً ﴾[2]. ژباړه: «او مونږ (هېڅ قوم ته) عذاب نه ورکوو، تر څو چې ورته پيغمبر ونه لېږو».

همدارنګه لاندې فقهي قواعد د جرم او جزا د قانونيت پر اصل صراحت لري:

"الأصل في الأشياء الإباحة "[3]. ژباړه: اصل په اشياوو کې اباحت دی.

---

[1] - محمود نجيب حسنی، شرح قانون العقوبات: القسم العام ۸۲ مخ.

[2] - د الإسراء سورت / ۱۵.

[3] - ابن نجيم، الاشباه والنظائر ،٦٦ مخ.

"لا حکم لأفعال العقلاء قبل ورود النص" [۱]. ژباړه: د نص له ورود څخه مخکې د مکلفو افرادو کړنو ته حکم نه متوجه کېږي. يعنې تر څو چې د حرمت حکم نه وي راغلی، د مکلفو اشخاصو اعمال جرم نه بلل کېږي.

او يا دا فقهي قاعده: " قبح عقاب بلا بيان "[۲]. ژباړه: له خبرتيا څخه مخکې مجازات ناوړه عمل دی.

ذکر شوي قواعد د دې ښکارندوی دي چې د شخص مجازات د هغه عمل له امله چې جرم والی او جزا يې په شريعت کې نه وي بيان شوي، جواز نه لري او دغه فقهي قواعد په وضعي قوانينو کې د مجازاتو د قانوني والي له اصل سره همغږي دي.

سپېڅلی شارع پدې پوهېږي چې اسلامي شريعت په هر وخت او هر ځای کې د تطبيق وړ دی. خو د خلکو شرايط او ګټې د وخت په تېرېدو او د ځايونو په توپير سره بدلون مومي. نو له دې امله بايد قانون جوړونکو ته دا فرصت ورکړل شي تر څو قوانين له تحولاتو او بدلونونو سره سم برابر کړي.

له دې امله تعزيري جرايم د مقننه قوې له صلاحيتونو څخه دي، تر څو هغه له وړاندې مشخص کړي. يو شمېر معاصر علماء په دې نظر دي چې د «مصالح مرسله» له اصل څخه په استفادې سره چې د ډېرو اسلامي مذاهبو په نزد د شريعت له منابعو څخه شمېرل کېږي، حکومتونه کولای شي چې تعزيري جرايم په قوانينو کې تنظيم او قاضيان د هغو په رعايتولو مکلف کړي.

**درېيمه فرعه: د افغانستان په قوانينو کې د جرم او جزاء د قانونيت اصل:**

د افغانستان په اساسي قانون او د جزا په کود کې د جرم او جزاء د قانوني والي اصل په صراحت سره بيان شوی دی. لومړی يادې مادې ذکر کوو او بيا يې تحليلوو.

د اساسي قانون ۲۷ ماده داسې صراحت لري:

[۱] - عوده، عبدالقادر، التشريع الجنائي الإسلامي مقارناً بالقانون الوضعي۱ / ۱۵.

[۲] - داماد، دکتور مصطفی محقق، قواعد فقه- جزايي برخه، ۱۳ مخ.

"هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوی وي. هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا توقیفېدای نه شي.

هېڅا ته سزا نشي ورکول کېدای مګر، د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوي وي".

**تبصره:**

د پورتنۍ مادې لومړۍ فقره د جرم د قانوني والي پر اصل او ماقبل ته د جزا د ماهوي قوانینو د نه رجعت اصل ته اشاره کوي. د دغه مادې دویمه فقره، جرم ته د رسیدګۍ د قانوني والي (یعني د جزایي اجراآتو د قانوني والي) اصل ته اشاره کوي او د هغې درېیمه فقره د جزا قانوني والي ته اشاره کوي.
د جزا د کود ۷ مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:
"(۱) هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون په حکم چې د هغه له ارتکاب څخه د مخه، نافذ شوی وي.
(۲) هېڅ جزا تطبیق کېدای نشي، خو دا چې پدې قانون کې تصریح شوې وي.
(۳) هېڅ شخص مجازات کېدای نشي، خو د واکمنې محکمې په حکم، د هغه قانون له حکمونو سره سم چې د اتهام وړ فعل له ارتکاب دمخه، نافذ شوی وي.
(٤) پر مرتکب باندې مجازات پدې قانون کې د نورو درج شوو شرایطو او احوالو په پام کې نیولو سره، له ارتکابي جرم سره متناسب تطبیقېږي".

**تبصره:**

د پورتنۍ مادې لومړۍ فقره، د «جرم د قانوني والي» اصل او «ما قبل ته د ماهوي جزایي قوانینو د نه رجعت» اصل ته اشاره کوي، د «قانون» لفظ د جزا پر کود کې د حاکم سیاست پر خلاف، مطلق پرېښودل شوی دی. په دوهمه فقره کې د جزا پر قانوني والي بحث شوی دی. د یادولو وړ ده چې د «هېڅ جزا» تعبیر عمومي والی ښیي او په صراحت سره دا ثابتوي چې د افغانستان په قوانینو کې د جزا له کود څخه

خارج هېڅ جزا د تطبيق وړتيا نلري، پرته له دريو قوانينو څخه چې له دې مادې څخه مستثنی شوي دي[۱].
درېيمه فقره د جزا د قانوني والي او همدارنګه ماقبل ته د ماهوي جزايي قوانينو د نه رجعت څخه بحث کوي. په څلورمه فقره کې له جرم سره د جزا د تناسب اصل ته اشاره شوې ده.
د جرم او جزا د قانونيت پر اساس، قاضي صلاحيت نه لري چې په خپله يو فعل او يا کړنه جرم وشمېري او د هغه لپاره مجازات وټاکي. قاضي يوازې صلاحيت لري چې قانون تطبيق کړي. د جرم د تحقق لپاره يو اصلي او بنسټيز شرط دا دی چې فعل او کړنه بايد له ارتکاب څخه دمخه په قانون کې جرم شمېرل شوې وي. له دې امله په هغه صورت کې چې يو عمل په قانون کې د جرم په توګه نه وي شمېرل شوی او يو شخص هغه ترسره کړي او وروسته دغه عمل په قانون کې د جرم په توګه ومنل شي، په دې صورت کې شخص د جزا وړ نه دی.

د جزا د کود ۸ ماده:
"(۱) د قياس پر بنسټ د جرم تشخيص او د جزا ټاکل جواز نلري.
(۲) د هغه عمل جرم ګڼل او د هر ډول جزا تطبيق چې په دې قانون کې جرم ندی پېژندل شوی، او د هغه لپاره جزا ټاکل شوې نه وي، جواز نلري".

**تبصره:**
دغه ماده «د جرم او جزا په ټاکلو کې د قياس د نه جواز» اصل ته اشاره کوي. هغه اصل چې د « جرم او جزا د قانونيت» د اصل له فروعو څخه شمېرل کېږي.
د جزا د کود د ۸ مادې د (۱) فقرې سره سم "د قياس پر بنسټ د جرم تشخيص او د جزا ټاکل جواز نلري".
**د قياس تعريف:** قياس عبارت دی د هغه امر له الحاق څخه چې حکم يې منصوص نه دی پر هغه امر چې حکم يې منصوص دی، له دې امله چې دواړه د حکم په علت کې سره اشتراک لري.[۲]

[۱] - په ۳۳ او ۳۴ مخ کې د دې وينا په (د) بند کې د دې موضوع په اړه بحث شوی دی.
[۲] - عبدالکريم زيدان، الوجيز في اصول الفقه، ۱۵۳ مخ، د خيبر خپرندوی.

د قياس مثال: د جزا د کود ٦٠٦ مادې په نظامي قطعه کې د طفل استخدامول جرم ګڼلی او د هغه مستحق يې د قصير حبس وړ ګڼلی دی؛ خو د هغو اشخاصو په اړه يې څه نه دي ويلي چې د اهليت فاقد دي لکه: مجنون او معتوه. اوس که چېرې، د نظامي قطعې مسؤول معتوه او يا سفيه استخدام کړي څه حکم لری؟ آيا د هغه دغه عمل جرم شمېرل کېږي او که نه؟ د جرم او جزا په تشخيص کې له قياس څخه د نه استفادې اصل، ددې غوښتنه کوي چې دغه عمل جرم ونه شمېرل شي؛ ځکه دغه مادې په نظامي قطعه کې يوازې د طفل استخدام جرم شمېرلی دی. په دې اساس جواز نه لري چې نور د اهليت له اړخه ناقص کسان د هغه مشابهت له امله چې له طفل سره يې لري، پر هغه قياس کړای شي.

د يادونې وړ ده چې له قياس څخه ګټه اخيستل د جزا په حقوقو کې په مطلقه توګه منع نه ده. يوازې د جرم د تشخيص او د جزا د ټاکلو په برخه کې جواز نه لري، خو په نورو مواردو کې په ځانګړې توګه چې د تورن په ګټه وي، مشکل نه لري[1]. د مثال په توګه، د جزا د کود ۹۲ مادې هغه کس چې د مخدره او يا مسکره موادو د استعمال له امله فاقد اراده شوی وي، په ځانګړو شرايطو سره، د جزايي مسؤوليت فاقد بللی دی، اوس که چېرې يو شخص له نورو موادو څخه په استفادې سره چې نه مخدر وي او نه مسکر، فاقد اراده شي، نو آيا جزايي مسؤوليت لري او که نه؟ راجح نظر دا دی چې په دې ځای کې له قياس څخه ګټه اخيستل د قانون د تفسير د يوې تګلارې په توګه، مشکل نه لري. د جزا کود چې کله قياس منع کړی دی نو هغه يې په يوه ځانګړې برخه کې منع کړی دی چې عبارت دی: "د جرم تشخيص او د جزا ټاکل".

[1] - الرازقی، محمد، محاضرات في القانون الجنائي: القسم العام، ٤٩ مخ.

**(۲) دويم فعاليت**

**انتقادي تحليل:**

د جزا د کود ۹۱۴ ماده داسې صراحت لري:" هغه شـخص چې د خلکو څخه د پيسـو، مال يا منفعت د لاســته راوړلو په منظور، کف شـــناسي، کوډې، رمالي، ورلند وبينه (پيش گويي) پېرى نيونه، فال ليدل، بخت خلاصـــول، تعويض ليکل[1] او **نور ورته اعمال** ترسره کړي يا د پورته ذکر شـــوو موخو لپاره ځاى (مکان) تخصيص کړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي".

**پورته ماده د جزا د کود د ۸ مادې د ۱ فقرې په رڼا کې وارزوئ او نقد يې کړئ.**

**د جزا د کود ۳۲ ماده:**

"۱. د جرم قانوني عنصر پدې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصريح څخه عبارت دى.

۲. د جرم او جزا د قانونيت اصل د دې قانون په ۷ ماده کې تصريح شوى دى".

**تبصره:**

دغه ماده د « جرم او جزا قانونيت» تفسيروي. او په ضمن کې «د جزايي قوانينو د صراحت» اصل ته اشاره کوي. «د دې قانون» قيد، غير وضعي قوانين او همدارنگه د جزا له کود پرته نور قوانين له بحث څخه وباسي. په دې معنى چې هغه افعال جرم شمېرل کېږي چې د جزا په کود کې وربانديې د جرم په توگه تصريح شوې وي او هغه جزاگانې د اعمال وړ دي چې د جزا په کود کې د جزا په توگه وربانديې تصريح شوې ده. د يادونې وړ ده چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منعې قانون د دې مادې او نورو دې ته ورته موادو له حکم څخه مستثنى شوي دي.

کوم کارونه چې له اخلاقي پلوه د تهديد او رټلو وړ او له ټولنيز نظره مضر دي، او په جزايي قوانينو کې جرمي اوصاف او جزاگانې نه لري، د هغو کارونو مرتکبين د محاکمې او مجازاتو وړ نه دي. د حل يوازنى

[1] د جزا کود په متن کې داسې ليکل شوي دي، خو د هغه سمه کلمه "تعويذ" ده نه "تعويض".

لار، د شخص خوشې کول يا تبرئه ده. خو قانون جوړونکی کولای شي وروسته مداخله وکړي او دا کارونه د جرم په توګه وپېژني.

**د جزا د کود ۱۷ ماده :**

"(۱) د جرم مرتکب د هغه قانون پر موجب مجازات کېږي چې د جرم له ارتکاب څخه د مخه نافذ شوی وي، خو دا چې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه داسې نوی قانون وضع شي چې د تورن په ګټه وي".
**يادونه:** د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې د «وضع» د کلمې پر ځای د «نافذ» کلمه کارول شوې ده چې د «وضع» د کلمې په نسبت دقيقه معلومېږي.

**څلورمه فرعه: د جرم او جزا د قانوني والي د اصل په اړه د جزا د قانون او د جزا د کود توپير:**
د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون د جرم او جزا د قانونيت اصل پر خپل ځان پورې نه دی منحصر کړی، په دې معنا چې نورو ټولو قوانينو د جرم او جزا د ټاکلو صلاحيت درلود. خو د جزا په کود کې دغه سياست بدل شوی دی، ځکه د دې قانون په ځينو موادو کې د جرم او جزا د تعريف پر مهال د «قانون» له کلمې مخکې د «دغه» لفظ اضافه شوی دی چې په ظاهر کې د جرم او جزا د قانوني والي اصل يې د جزا کود ته منحصر کړی دی، لکه د جزا د کود د اومې مادې دويمه او څلورمه فقرې، همدارنګه د اتمې مادې دويمه فقره[1] او داسې نور. په دې معنا چې هېڅ جرم او هېڅ جزا قانوني اعتبار نلري مګر دا چې په جزا کود کې بيان شوي وي[2]. دغه حکم، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي منع قانون په اړه ستونزې را ولاړې کړي دي ، ځکه دغه قانون په جزا کود کې نه دی ځای پر ځای شوی. د دې ستونزې د حل په موخه، د ۱۳۹٦ کال د حوت په ۱۲ د افغانستان ولسمشر د تقنيني فرمان له مخې چې په ۱۲۸٦ ګڼه رسمي جريده کې خپور

[1] - دغه مواد د دې رسالې په ۳۰ او ۳۱ مخونو کې ذکر شوي دي

[2] - د «دغه قانون» قيد په قصدي توګه ذکر شوی دی ځکه د ۷ مادې د ۲ او ۴ فقرو سربېره د ۲ مادې په ۲ فقره، د ۸ مادې په ۲ فقره، ۲۷ مادې، ۲۹ مادې، ۳۰ مادې، ۳۱ مادې او د ۳۲ مادې په ۱ فقره کې هم ذکر شوي دي. په دې معنا چې مقنن په ښتيا غوښتي، جرم او جزا د جزا تر کود پورې منحصر کړي. خو په دوه ځايونو کې نه دی متوجه شوې چې دغه سياست هلته هم پلی کړي: لومړی: د جزا د کود د ۷ مادې په ۱ فقره او دوهم په ۳۳ ماده کې.

شوی، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي منع قانون د اوومې او اتمې مادې د (۲) فقرو د مندرجه احکامو او د دې قانون له دوه دېرشمې مادې څخه مستثنی وګرځول شو.

د يادونې وړ ده چې دغه زياتونې د لفظ له اړخه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي منع قانون د جزا کود د اوومې او اتمې مادو له ۲ فقرو او دوه دېرشمې مادې څخه مستثنی کوي، او له روحي اړخه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي منع قانون له ټولو هغو مادو مستثنی کوي چې د «دغه قانون» قيد له ځان سره لري او د جرم او جزا د حصر افاده کوي، لکه: د جزا د کود ۲۷، ۲۹، ۳۰، ۳۱ مادې، هغه مادې دي چې قانون جوړوونکی ورته متوجه شوی نه دی.

**(۳) درېيم فعاليت**

**فرضي قضيه:**

يوه ښځه د مرواريد په نامه د ۱۳۹۷ کال د سلواغې د مياشتې په ۲۹ نېټه د کف شناسۍ له لارې د پيسو د لاسته راوړنې له امله تر عدلي تعقيب لاندې راغله. د قضايي ناستې په جريان کې، موصوفې دعوه وکړه چې: کوم جرم يې نه دی کړی او دا کار يې د ياد شوي کال د تلې له ۲۰ وروسته په کامله توګه پرې ايښی دی. خو قاضي د کف شناسۍ له لارې د پيسو د ترلاسه کولو په جرم نوموړې محکوموي، په دې دليل چې د جزا کود د ۱۳۹۷ د غويي د مياشتې په ۲۵ په رسمي جريده کې خپور شوی دی او دغه عمل په هغه کې جرم ګڼل شوی دی. **پوښتنه:** په دې اړه ستاسې نظر څه دی؟

په لنډه توګه، د جرم او جزا قانونيت په دې مفهوم دی چې هېڅ عمل جرم نه شمېرل کېږي او هېڅوک نه مجازات کېږي مګر د هغه قانون د حکمونو سره سم چې د ارتکاب له فعل څخه مخکې نافذ شوي وي. دغه قاعده د افغانستان د اساسي قانون په ۲۷ ماده او د افغانستان د جزا کود په ۷ او ۳۲ مادو کې په صراحت سره بيان شوې ده.

**پنځمه فرعه: د جرم او جزا د قانونيت له اصل څخه راټوکېدلي اصول:**

د جرم او د جزا د قانوني والي له اصل څخه، متعدد اصول راټوکېدلي دي چې په يو ډول د هغه منطقي پايله ده، لکه: د جرم او جزا په تشخيص کې د قياس نه جواز، د جزايي قوانينو د نصوصو وضاحت، د جزايي قوانينو د تفسير محدود او مضيق والی، د تورن په ګټه د تفسير اصل، ماقبل ته د قانون د رجعت د نه جواز اصل او داسې نور. دلته د دوه اصولو په اړه لنډ بحث کېږي:

**۱- د جزايي قوانينو د محدود تفسير اصل:**

په اصل کې قوانين بايد واضح وليکل شي چې د تفسير او تأويل وړتيا ونلري. بيا هم لکه څرنګه چې قانون له واقعاتو او پېښو څخه لرې ليکل کېږي، د تطبيق په وخت کې د پېښې له جريان سره په پوره توګه تطابق نلري او تفسير ته اړتيا پيدا کېږي. د جرم او جزا د قانونيت اصل ددې غوښتنه کوي چې جزايي قوانين بايد د متهم په ګټه تفسير شي. ډېر ځله د تورن ګټه په دې کې وي چې قوانين په مضيق او محدود ډول تفسير شي. هغه قوانين چې جرمي اعمال معرفي کوي، د تل لپاره په مضيقه او محدوده توګه تفسيرېږي، ځکه چې د تورن ګټه په همدې ډول تفسير کې وي، ځکه چې د جرم د ساحې د محدوديت لامل ګرځي او احتمال لري چې د تورن د برائت سبب وګرځي. له دې امله د جزايي قوانينو په تفسير کې اصل دا دی چې د قانون د صريح منطوق سره سم په مضيقه او محدوده توګه تفسير صورت ومومي .[۱]

د جرم او جزاګانو د قانوني والي د اصل پر بنسټ، د جزايي محکمو قاضيان حق نه لري چې جزايي قوانين په موسعه توګه تفسير کړي او د هغو مدلول هغو مشابهو مواردو ته بايد پراخه نه کړي چې په صريحه توګه په قانون کې نه وي ښودل شوی. د دې تګلارې طرفداران د قواوو د تفکيک اصل ته په کتو سره وايي: قاضيان بايد د قانون د تفسير لپاره د قانون منطوق او هغه څه ته توجه وکړي چې په صريحه او واضحه توګه بيان شوي وي؛ محاکم نه شي کولای چی د جرم او جزا د تشخيص په هکله د قانون په روح او يا

---

[۱] - صانعی، پرویز؛ حقوق جزای عمومی، تهران، گنج دانش، شپږم چاپ، ۱۳۷٤، لومړی ټوک، ۱۱۵ مخ.

مفاد استناد وکړي[۱]. ځکه هر کله چې قانون کوم کار لازم وبولي نو هغه په خپله په صريحه او روښانه توگه بيانوي او هر کله چې د يو څه له بيان څخه ډډه وکړي نو د هغه پر اباحت دلالت کوي[۲].
د يادونې وړ ده چې د جزايي قوانينو محدود تفسير او د جزايي قوانينو له روح او مفاد څخه د برداشت د نه جواز قاعده يوه عامه قاعده نه ده، بلکې د جرم او جزا د تشخيص په ساحه کې تطبيقېږي. ځکه په دې مواردو کې موسع تفسير د تورن په زيان وي او د قانون له روح څخه گټه اخيستل، سربېره پر دې چې د تورن پر زيان دي، له قياس څخه استفادې ته هم لاره هواروي، کوم چې په دې برخه کې جواز نه لري. خو په نورو ټولو مواردو کې دغه قاعده کېدای شي تطبيق نشي، ځکه په ځينو مواردو کې مضيق او محدود تفسير د تورن په ضرر هم کېدای شي، بلکې موسع تفسير د تورن په گټه وي لکه: د اباحت د اسبابو اړوندې مادې، د مخففه احوالو او يا د جزايي مسؤوليت د موانعو تفسير او داسې نور. په دې ځايونو کې محدود تفسير په غالبه توگه د تورن په تاوان وي، ځکه د هغه د جزايي مسؤوليت دايره پراخوي. له دې امله، په داسې حالاتو کې د تورن گټو ته، نه د مضيق تفسير قاعدې ته ترجيح ورکول کېږي. له همدې امله په دې مواردو کې جزايي متون په موسعه توگه تفسيرېږي.

[۱] - د قانون د روح د الزاميت اصل د جزا په حقوقو کې په مطلقه توگه منع نه دی، بلکې يوازې په هغو ځايونو کې نه تطبيقېږي چې جرمونه او جزاگانې معرفي کوي، ځکه د قانون د روح تطبيق په دې برخه کې د جرم او جزا د قانونيت د اصل پر خلاف دی، او همدارنگه د جرم او جزا په تشخيص کې د قياس د نه جواز د اصل خلاف دی، او متهم او تورن ته د ضرر رسېدو، د عدالت د خرابۍ او د خلکو د حقوقو او آزادي د تر پښو لاندې کېدو لامل گرځي. خو د جزا د حقوقو په نورو مواردو کې مشکل نه لري، د مثال په توگه کله چې ولسمشر درې قوانين د جزا د کود د ۷ او ۸ مادې له ۲ فقرو او ۲۳ مادې څخه مستثنی کوي او د غفلت له امله يې له نورو مادو څخه چې د ۷، ۸ او ۳۲ مادو سره ورته والی لري نه مستثنی کوي، نو اړ يو چې د قانون له روح څخه استفاده وکړو او دغه درې قوانين له مشابهو مادو څخه مستثنی وبولو. همدارنگه د جزا د کود ۱۱۲ ماده په خپله لومړۍ فقره کې حکم کوي چې طفل د قباحت د ارتکاب په صورت کې والدينو، قانوني ممثل او يا سرپرست ته تسليمېږي. بيا د دې مادې په دوهمه فقره کې وايي: هرکله چې والدين د طفل ښې روزنې ته متعهد نشول، محکمه طفل هغو مؤسساتو ته تسليموي چې د همدې لپاره جوړې شوې دي. دغه فقره د والدينو له نه تسليمېدو څخه بحث کوي، خو د قانوني ممثل او يا سرپرست د نه تسليمېدوپه اړه څه نه وايي. که چېرې دلته له قياس او يا د قانون له روح څخه گټه واخيستل شي او د يادې مادې د دويمې فقرې حکم پر ممثل او سرپرست هم تطبيق شي مشکل نه لري.

[۲] - محسنی، مرتضی؛ دوره حقوق جزای عمومی، انتشارات گنج دانش، تهران، لومړی چاپ، ۱۳۷۵، دوهم جلد،۲۳۲-۲۳۱ مخ.

**۲- ماقبل ته د قانون د نه رجعت اصل:**

له کومه ځايه چې يوازې قانون کولای شي د جرمونو او جزاگانو په ټاکلو سره د افرادو حقوق او آزادۍ محدودې کړي، او خلک له مخکيني اطلاع سره سم وکولای شي تصميم ونيسي. په دې صورت کې د حقوقو او آزاديو محدودوونکی قانون يوازی کولای شي د تېر په نسبت د راتلونکي لپاره زيات اغيز ولري، دا ځکه چې د تېر په هکله هماغه د اباحت اصل د تطبيق وړ دی. [1]

## ځلورمه وينا: د جرم او جزا شخصي والی:

د جرم او جزا د شخصي والي اصل د جزا د کود په ۹ مه ماده کې داسې بيان شوی دی "**جرم يو شخصي عمل دی او پر هغه مرتبه جزا بل شخص ته سرايت نه کوي**". له دې اصل څخه موخه دا ده چې د جرمي عمل پر وړاندې يوازې دخيل اشخاص لکه: فاعل، شريک، معاون، پلانونکی، او د پلانونکې جرمي ډلې افراد جزايي مسؤوليت لري او يو شخص يا نور اشخاص د هغه جرم له امله چې نور يې مرتکب شوي وي او يا د هغه په ارتکاب کې په يو ډول برخه لري، جزايي مسؤوليت نه لري او د مجازاتو وړ نه دي.
په لاندې کرښو کې دغه اصل د شريعت او قانون له مخې څېړل کېږي:

**لومړی فرعه: په اسلامي شريعت کې د جرم او جزا د شخصي والي اصل:**

د عدالت د رامنځته کېدلو مهمو اصولو څخه يو اصل، د جرم او جزا شخصي والی دی چې اسلامي شريعت د بشري جزايي وضعي نظامونو څخه څو پېړۍ وړاندې هغه لازم گرځوي. الله تعالی فرمايي:﴿ وَلاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً﴾[2]. ژباړه:«او هېڅ بارونکی د بل چا بار په اوږه نه اخلي او مونږ تر هغه عذاب نه ورکوو تر څو چې خپل استازی راونه لېږو».
همدارنگه په بل ځای کې فرمايي:﴿ وَمَنْ يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَى نَفْسِهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾[3].

---

[1] - وگورئ: توحيدخانه، محمد صدر، رهنمود ماکس پلانک برای حقوق جزای عمومی افغانستان، دويم چاپ، ۴۸ مخ.

[2] - د الإسراء سورت /۱۵.

[3] - د النساء سورت /۱۱۱.

ژباړه: «او هر څوک چې کومه ګناه وکړي نو هغه په خپل زيان د هغې مرتکب شوی او الله تعالی عالم او د حکمت څښتن دی».

دغه اصل د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارکو احاديثو کې هم همدارنګه بيان شوی دی:" أَلاَ لاَ يَجْنِي جَانٍ إِلاَّ عَلَى نَفْسِهِ"[۱].

ژباړه:" خبر اوسئ چې جنايت کونکی يوازې پر خپل ځان جنايت کوي". يعنې يوازې د خپل کار مسؤوليت په خپله غاړه لري.

له بله اړخه د افرادو ټولنيز ځای او مقام پر هغوی د جزايي عدالت د نظام په تطبيق کې هېڅ توپير نلري، په داسې توګه چې شتمن او فقيران، او د مقام او ټولنيز حيثيت درلودونکي وګړي او د ټولنې عادي وګړي په يو ډول تر ګروېږنې او پوښتنې لاندې راځي. امام بخاري او مسلم په خپل سند سره له رسول الله – صلی الله عليه وسلم – څخه روايت کوي چې فرمايي: " أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا "[۲].

ژباړه:" ای خلکو! ستاسې څخه پخوا خلک له دې امله ګمراه شول، کله به چې يو شريف (د لوړ خاندان) انسان غلا وکړه، پر هغه به يې د حد جزا نه جاري کوله او کله به چې په هغوی کې يو کمزوري غلا وکړه نو په هغه به يې د حد جزا جاري کوله. قسم په الله که چيرې فاطمه د محمد لور هم غلا وکړي نو محمد به په هغی د حد جزا تطبيق کړي".

د ذکر شوو دلايلو له مخې هېڅ يو شخص د هغه جرم له امله چې په هېڅ ډول يې پکې برخه نه وي اخيستې، جزايي مسؤوليت نه لري او نه مجازات کېږي.

**دويمه فرعه: د افغانستان په قوانينو کې د جرم او جزا د شخصي والي اصل:**

دغه اصل د اساسي قانون په ۲٦ ماده او د جزا کود په ۸۴ ماده کې داسې بيان شوی دی:

---

۱ - النسائي - سنن النسائي، د حديث شمېره: (۲۱۵۹)، ٤٦١/٤.

۲ - مسلم – صحيح مسلم، د حديث شمېره: (۱۷۳۷۹).

د اساسي قانون ۲٦ ماده" جرم يو شخصي عمل دی.
د متهم تعقيبول، نيول يا توقيفول او پر هغه باندې د جزا تطبيق بل هېچا ته سرايت نه کوي".
د جزا کود ۸۴ ماده:
" (۱) جزايي مسؤوليت يو شخصي امر دی.
(۲) جزايي مسؤوليت هغه وخت منځته راځي چې شخص په آزاده اراده او د عقل او ادراک د صحت په حالت کې د داسې عمل مرتکب شي چې قانون هغه جرم پېژندلی وي".

**(۴) څلورم فعاليت**

**د قانون تحليل:**

د جزا کود د ۱۱۰ مادې دويمې فقرې د طفل قانوني استازی د طفل د تخلف د تکرار له امله د مجازاتو وړ بللی دی. په داسې توګه که چېرې طفل د جنحې مرتکب شي نو استازی يې له پنځو څخه تر لسو زرو افغانيو په نغدي جزا او که چېرې د جنايت مرتکب شي نو استازی يې له لس زرو څخه تر شل زرو افغانيو په نغدي جزا محکومېږي. ځينې ليکوونکو دغه ماده د جزا د شخصي والي له اصل څخه مستثنی ګڼلې ده. **دغه نظر د دې مادې په رڼا کې نقد کړئ.**

**د جزا کود ۱۱۰ ماده:** " که چېرې د طفل د سرغړونې تکرار چې د طفل د قانوني استازي د غفلت او يا د هغه د دندو له عمدي نه ترسره کولو څخه راپيدا وي؛ نو محکمه له لاندې تدبيرونو څخه يو غوره کوي: ۱- طفل د ټولنيزو خدمتونو يوې مؤسسې يا د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکز ته سپاري. ۲- د طفل قانوي استازی د جنحې د ارتکاب په صورت کې له پنځو زرو تر لسو زرو افغانيو په نغدي جزا او د جنايت د ارتکاب په صورت کې له لسو زرو تر شلو زرو افغانيو په نغدي جزا محکوموي"

## پنځمه وینا: د قانون له حکمونو څخه د بې خبرۍ قاعده:

د قانون له حکمونو څخه بې خبري، جزایي مسؤولیت نه شي رفع کولی او کوم کس چې جرم ترسره کړی وي، آن تر دې چې خبر هم نه وي چې د ده لخوا ترسره شوی کار جرم دی، بیا هم جزایي مسؤولیت لري، دا قاعده د جزا کود په ۱۱ ماده کې داسې بیان شوې ده: " د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه پېژندل کېږي".

دا اصل هم په اسلامي شریعت او هم په قانون کی پېشبیني شوی دی چی په مختصر ډول په لاندی توگه تشریح کېږي:

### لومړۍ فرعه: په اسلامي شریعت کې له احکامو څخه بې خبري:

د اسلامي شریعت فقهاؤ یو شمېر شرایط ایښي دي، چې په تورن کس کې د هغو شرطونو شتون اړین دی، او په هغه صورت کې چې په تورن کس کې دا ټول او یا هم ځیني شرطونه موجود نه شي، پر تورن کس دعوا د اورېدو وړ نه ده. د هغو له ډلې څخه یوه دا چې «تورن کس د ترسره کړي عمل د حرمت څخه خبر وي».

تورن کس د عمل ترسره کولو پرمهال باید پوه وي چې ناروا کار ترسره کوي، ځکه د ناروا کار څخه خبرېدل انسان د هغه کار له ترسره کولو څخه ساتي. فقهي قاعده په دې اړه وایي:" أن من جهل حرمة شيء مما يجب فيه الحد و العقوبة و فَعَلَه لم يحد، و إن علم الحرمة و جهل الحد أو العقوبة حد"[1].

ژباړه: هر کله چې یو کس د هغه عمل د حرمت څخه خبر نه وي چې په ترسره کولو یې حد لازمېږي او هغه کار ترسره کړي، حد پرې نه تطبیقېږي. خو که د هغه کار د حرمت څخه خبر او د حد د تطبیق څخه ناخبره وي، حد پرې تطبیقیږي"، د حرام کار په کولو د تورن کس د ناپوهۍ د ثابتولو لپاره باید قرینه شتون ولري، لکه تورن کس نوی مسلمان شوی وي او یا هم له مسلمانانو لرې پرته سیمه کې ژوند کوي او یا

---

[1] - السيوطي - الأشباه و النظائر، ۲۰۱ مخ.

هم له لېونتوب وروسته روغ شوی او جرم يې ترسره کړی وي، خو هغه کس چې د اهل علم مسلمانانو په منځ کې ژوند کوي، د ترسره کړي عمل د حرمت څخه د ناخبرۍ په اړه د هغه دعوه د باور وړ نه ده. [1]

**دويمه فرعه: د افغانستان په قوانينو کې د قانون له حکمونو څخه ناخبري:**

سره له دې چې د عدالت غوښتنه دا ده کوم کسان چې په دې نه پوهيږي چې دا کار جرم دی نو بايد مسؤول هم ونه ګڼل شي، ځکه هغوی قصدا او په پوهې سره له سرو کرښو پښه نه ده اړولې، او يا په بل عبارت دا چې هغوی په قصدي توګه جرم نه دی ترسره کړی. ځکه که چېرې په دې پوهېده چې دا کار جرم دی نو هېڅ کله به يې هغه کار نه وای ترسره کړی، دې نظر ته په درناوي، بيا هم عمومي مصلحت، عمومي ګټه او عمومي نظم دا ايجابوي چې د قانون له نافذېدو وروسته د هغه په احکامو پوهېدل بايد يو فرض کار وګڼل شي، ځکه که چېرې دا دروازه پرانېستل شي نو هر مجرم به دا بهانه کوي چې په دې نه وم خبر چې دا کار جرم ؤ، او له جزا څخه به خوندي کېږي. خو د قانون له نشر مخکې د قانون له احکامو څخه بې خبري عذر ګڼل کېدای شي، ځکه پر هغه څه د يو کس مکلفول چې د هغه حکم ته لاسرسی نه لري تکليف مالايطاق ګڼل کېږي، او عقلاً او شرعاً يو بد او نه منل کېدونکی کار دی.

په افغانستان کې مختلف قوانين پر دې اصل ټينګار کوي لکه:

**د اساسي قانون ٥٦ مه ماده:**

"د اساسي قانون د حکمونو پيروي، د قوانينو اطاعت او د عامه نظم او امنيت رعايت د افغانستان د ټولو خلکو وجيبه ده، د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي".

**تبصره:**

پورته متن دا خبره کوي چې هر افغان د قوانينو په رعايتولو مکلف دی. قانون پر هغه د پوهې پرته نه شي رعايت کېدای، همدا چې څنګه قانون نشر شو، خلکو ته له قوانينو څخه د خبرېدا لاره هوارېږي. دا چې هغوی خپله ځانونه نه پوهوي، په اصل کې خپله دنده نه تر سره کوي، ځکه نو د هغه پايلې هم بايد ومني.

---

[1] - ابن عابدين- حاشية رد المختار على الدر المختار: ٣ / ١٤٢. المقد سي – الكافي في فقه الإمام أحمد بن حنبل:٣٨١/٥.

**د جزا د کود ۱۱ ماده:**

" د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه پېژندل کېږي".

په دې اساس د قانون له حکمونو څخه بې خبري جزايي مسؤوليت نه رفع کوي، او هغه کس چې جرمي عمل ترسره کړي، آن که په دې هم پوه نه وي چې دا کار جرم دی، بيا هم جزايي مسؤوليت لري.

## شپږمه وينا: د انساني کرامت د اصل مراعتول:

د انساني کرامت اصل له مقدسو او غوره اساسي قواعدو څخه شمېرل کېږي، چې په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو کې د هغه په رعايت ټينگار شوی دی.

د انساني کرامت اصل مراعتولو په اړه د جزا کود په ۱۲ مه ماده کې داسې وړاندوينه شوې ده:

"(۱) د انساني کرامت د مخالفې جزا ټاکل جواز نه لري. (۲)پر مرتکب د جزا تطبيق د انساني کرامت په رعايتولو سره صورت مومي".

په لاندی توگه دا اصل د اسلامی شريعت او قانون په رڼا کی بيانوو:

### لومړی فرعه: په اسلامي شريعت کې د انساني کرامت اصل مراعتول:

په اسلامی شريعت کې انسان د مهربانه پروردگار د عزتمند مخلوق په توگه معرفي شوی دی. هغه مخلوق چې ملايکو ورته سجده کړې او ټول کاينات لکه باد، سپوږمی، لمر او نور ورته مسخر يا تابع گرځول شوي دي.

اسلام هر هغه عمل چې د انسانانو په کرامت، حيثت او عزت باندې تور داغ لگوي، حرام کړی دی. په هيڅ ډول آن تردې چې که په يوه کوچنۍ خبره هم وي، د خلکو د عزت او ابرو له منځه وړل يې روا نه دي گرځولي.

اسلامي شريعت انسان د انسان په توگه محترم او ښاغلی گڼي. په اسلام کې پرته له دې چې د انسان نژاد، رنگ، دين، ژبه، وطن، قوميت او ټولنيز موقعيت په پام کې ونيول شي، په مطلق ډول محترم او عزتمند

پېژندل شوی دی. الله تعالی فرمايي: "﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آَدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَ رَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً ﴾[1]

ژباړه: «او يقينًا مونږ د آدم اولادې ته ډېر عزت ورکړی دی، او مونږ دوی (په سورليو باندې) په وچه کې او په سمندر کې سواره کړي دي او مونږ دوی ته خوندور پاکيزه شيان ورکړي دي او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زياتو باندې غوره کړي دي.»

د دې کرامت يوه ستره نښه دا ده چې الله تعالی انسان په ځمکه کې خپل ځای ناستی او خليفه مقرر کړی دی، او ملايکو ته يې هغه ته په سجده او تعظيم امر کړی دی، او هغه څه چې په اسمانونو او د ځمکې په طبقو کې دي هغه ته يې مسخر او تابع کړي دي. همدا ډول هغه ته يې ځانګړی ځواک او استعداد ورکړی دی تر څو د ځمکې په آبادۍ او رغونه کې خپل رغنده رول ولوبوي، په ځمکه کې مشري وکړي او د مادي او روحي کمال وروستيو پوړيو ته ورسېږي. ددې لپاره چې دا عزت او کرامت واقعي حقيقت او د ژوندانه کړنلاره شي، اسلام د انسان ټول حقوق تضمين او تامين کړي دي، او د دې حقوقو ملاتړ او ساتنه يې واجب ګرځولې ده، دا مهمه نه ده چې ديني حقوق وي، که مدني، سياسی او يا نور....

د اسلام له نظره ټول انسانان د دين، مذهب، فکر، کړنو رنګ، نژاد، جنس، ژبې او کردار په پام کې نيولو پرته، د بشپړ کرامت څخه برخمن دي، خو هغه څوک چې د تقوا له لارې لا زيات فضيلت او بهتري هم لاس ته راوړي نو هغه خپله شخصاً لا نور کرامت هم ترلاسه کړی دی، يعنې کرامت يې په خپله لاس ته راوړی دی. لکه څرنګه چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم په دې اړه فرمايي: " " يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلَا إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ ، وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ ، وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ ، وَلَا لِأَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى "[2] .

---

[1]- د الإسراء سورت/۷۰.

۲- أحمد بن حنبل- مسند أحمد، د حديث شمېره :(۲٤۲۰٤)، ٤۱۱/٥ .

ژباړه: "ای خلکو! خبر اوسئ چې رب مو يو دی، پلار مو يو دی، خبر اوسئ چې عربي په عجمي او عجمي په عربي هيڅ لوړوالی نه لري، نه سور په تور او نه تور په سور کوم فوقيت لري، مگر په پرهېزگارۍ او تقوا سره".

دا ستر اصل د نژاد، رنگ، جنس، ژبې، او قوم پر بنسټ د هر ډول لوړوالي انگېزه له منځه وړي او ددې لامل گرځي چې د انسانانو تر منځ د خير او پرهېزگارۍ په کارونو کې سيالي وشي، نه دا چې د منحرفو لارو لکه په خپلو پلرونو، نيکونو، رنگ، پوستکي او د نورو پر اساس وياړ وشي او ځان لوړ وگڼل شي. دا خو ښکاره او طبيعي خبره ده چې داسې يو اصل په انساني ټولنه کې امن، خوشحالۍ او نېکمرغۍ منځ ته راوړي.

د قاهرې د بشر د حقوقو د اسلامي اعلامیې لومړۍ ماده (۱) په دې اړه داسې وايي: " بشر په ټوليز ډول يوه کورنۍ ده چې د الله تعالی بندگۍ او د ادم عليه السلام اولاد توب دوی ټول سره په يوه نقطه کې شريک کړي دي. بله دا چې خلک په تکليف او مسؤوليت کې د نژاد، رنگ، ژبې، جنس، عقېدې، سياسي او يا ټولنيز تړون د تبعيض پرته سره برابر دي".

لنډه دا چې اسلامي شريعت که له يو اړخه د انسان ارزښت عزتمند گڼلی او يو زيات شمېر حقوق يې ورکړي دي، له بله اړخه يې د دې اصولو د ساتنې په خاطر د قضا عالي نظام له يو شمېر ځانگړيو ضمانتونو سره تشريع کړيدي تر څو انسان په امن او امنيت او د يو عادل نظام تر چتر لاندې له خوشحالۍ او نېمکرغۍ ډک ژوند ولري.

**دويمه فرعه: د افغانستان په قوانينو کې د انساني کرامت رعايتول:**

د افغانستان د اساسي قانون شپږمه (٦) ماده په دې اړه داسې صراحت لري: "دولت، د انساني کرامت په ساتلو، بشري حقوقو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تأمين، د ټولو قومونو او قبايلو ترمنځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سيمو کې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت، پر بنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی".

همدا ډول د هېواد د اساسي قانون (۲۴) ماده د انساني کرامت د ساتنې او تضمين په اړه وايي: "د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دی". د يادې مادې سره سم په مطلق ډول د انسان کرامت په نظر کې نيول شوی دی او هغه ته هيڅ ډول پولې نه دي ټاکل شوي.

د جزايي اجراآتو د قانون په شپږمه ماده کې د عدلي تعقيب پر مهال د مجنی عليه او د حق العبد د مدعي سره منصفانه چلند، انساني کرامت ته درناوی او د شخصي حرمت ساتنه د هغوی حق پېژندل شوی دی.

د انساني کرامت په اړه د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې لومړۍ ماده داسې وايي: "ټول انسانان آزاد نړۍ ته راځي او د حقوقو او حيثيت له پلوه سره برابر دي، ټول د عقل او وجدان لرونکي دي او بايد يو له بل سره د ورورګلوۍ په روحيه چلند وکړي".

په بنسټيز ډول انساني کرامت يو خپلواک حق دی چې د دولتونو له لورې بايد نقض نه شي. هر کله چې يو کس د انسان په توګه له خپل واک او وړتيا څخه محروم شي او دا محروميت د دولت په غوښتنه وشي، نو ويلی شو چې انساني کرامت يې نقض شوی دی يا هم ويلی شو چې د انسان د انساني کرامت څخه په مالکانه ډول ګټه اخيستل شوی او يا هم انسان يو ډول شکنجه يا ربړول شوی دی.

## اوومه وينا: د اصل مال د مطالبې او د زيان د جبران يا د تعويض ورکولو حق:

د جزا کود د اصل مال يا تاوان ورکولو په اړه داسې وايي:

د جزا د کود ۱۴ ماده: " هغه شخص چې د دې قانون له حکمونو سره سم مجازات کېږي، که يې د جرم له لارې کوم مال لاس ته راوړی وي، مالک ته د عين مال په ردولو او که مال موجود نه وي د هغه د مثل يا بيې په رد محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د جرم د ارتکاب له امله يې زيان اړولی وي، پر ټاکلو قانوني مجازاتو سربېره، د مادي او معنوي وارد شوي زيان پر جبران هم محکومېږي، دغه حکم په هغو مواردو کې چې قانون په صريح ډول د زيان په جبران حکم نه وي کړی هم تطبيقېږي.

(۳) د وارد شوي زيان د اندازې تثبيت او د غه جبران د اړوندې برخې د هغه اهل خبره په واسطه صورت مومي چې د واکمنې محکمې په واسطه ټاکل شوی وي".

**د جزا کود ۱۵ ماده:**

"ددې قانون حکمونه د استرداد حق يا د حق العبد د مدعي په واسطه د تعويض غوښتنه نه اخلالوي"

**لومړۍ فرعه: په اسلامي شريعت کې د اصل مال د غوښتلو، د زيان د جبران يا تعويض ورکولو حق:**

اسلامي شريعت د عدالت شريعت دی او نورو ته يې له زيان رسولو څخه منعه کړې ده، او مجنی عليه يا زيانمن شوي کس ته يې د ضرر له امله د رسېدلي تاوان د اداء کولو امر کړی دی. همدا ډول د تيري يا تجاوز په وړاندې درېدل، او له خپل حق څخه دفاع او ساتنه او يا هم له تجاوز کوونکي سره بالمثله کړنه يې جايزه ګڼلې ده، الله تعالی فرمايي:

:﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾[1].

ژباړه: «چا چې پر تاسو باندې تېری وکړ، نو تاسو په هغه باندې (په ځواب کې) تېری وکړئ په مثل د هغه چې هغه پر تاسو باندې تېری کړی دی».

همدا ډول رسول الله صلی الله عليه وسلم نورو ته له زيان رسولو څخه خلک منع کړي دي او فرمايي: «لاضرر ولاضرار" [2].

ژباړه: "مه د خلکو ضرر او زيان منئ او نه هم چاته زيان او ضرر رسوئ".

فقهاؤ د دې حديث له مخې د ډېرو قاعدو او اصولو بنسټ ايښی دی، چې د هغې څخه يو هم "الضرر يزال"[3] يعنې زيان چې واردېږي بايد لرې کړی شي.

---

[1] - د البقرة سورت/۱۹٤.

[2] - ابن ماجه- سنن ابن ماجه-: ۳۲٦/۲ .

[3] - ابن نجيم، الأشباه والنظائر ۸۵ مخ ؛ السيوطی، الأشباه والنظائر ۸۳ مخ.

په همدې بنسټ له يو شخص څخه د زيان يا تاوان غوښتل د شريعت له نظره جواز لري، تر څو د خلکو د مال ساتنه وشي، له تېري څخه وساتل شي او د خلکو عامه حقوق محفوظ شي.

په يو چا باندې د درواغو تهمت او تور لګول يو له هغه خطرناکو ضررونو څخه دی چې د انسان سکون له منځه وړي او ټولنيز مقام يې متزلزلوي. کله چې يو انسان په داسې جرم تورن شي چې هغه يې نه وي ترسره کړی او يا هم د يو ناحقه تور له امله تر تعقيب لاندې ونيول شي، زنداني شي او يا هم کله ناکله وربړول شي، له شک پرته چې ټولنيز موقعيت ته يې زيان رسېږي او د توقيف، څېړنې او محاکمې له امله له مزدورۍ او کار څخه محرومېږي او مادي زيان هم ورته رسېږي، او کله خو کېدای شي چې د څېړنې پر مهال مادي زيان هم ور ورسېږي. د عدالت غوښتنه دا ده چې دا ټول زيانونه يې بايد جبران شي. خو که چېرې يو انسان د جرم مرتکب شوی وي، او د هغه جرم له امله تر عدلي او قضايي تعقيب لاندې ونيول شي او په دې ډول متضرر شي، نو بيا د تاوان مستحق نه ګڼل کېږي، ځکه د جرم په ترسره کولو سره يې خپله د جرم پايلې منلي دي او ځان يې تاواني کړی دی. ځکه نو په داسې حالاتو کې د زيان د جبران خبره نه مطرح کېږي، مګر په هغه صورت کې د تاوان خبره مطرح کېږي چې له ګناه زياته جزاء ورکړل شوې وي[1].

هغه ضررونه چې په احتمالي ډول د جرم د ترسره کولو، کشف، تحقيق، تعقيب او يا محاکمې له لارې انسان ته رسېږي، درې ډوله دي:

١) معنوي ضرر

[1] - د يادونې وړ ده چې د افغانستان په حقوقي نظام کې د دولت مدني مسؤوليت د يو اصل په توګه منل شوی دی. د تصدۍ د اعمالو په برخه کې دا مسؤوليت له هر ډول اختلاف پرته منل شوی دی، لکه د عمومي خدماتو له لارې رسېدلي زيانونه، خو د حاکميتي اعمالو په برخه کې لکه کله چې دولت يو بې ګناه کس توقيفوي، محاکمه کوي يا يې بندي کوي او وروسته ثابته شي، چې دا کس بې ګناه ؤ، نو پخوا دا ډول زيانونه نه جبرانېدل. که څه هم د عدالت غوښتنه دا ده چې بايد دا ډول زيانونه هم جبران شي، ځکه هغه کارونه چې دولت يې د ټولنې يا د عامو خلکو د ګټې لپاره ترسره کوي د هغه په تاوان کې بايد ټول خلک برخه واخلي او ټول تاوان په يو کس ور وانه چول شي. په دې وروستيو کې د جزايي اجراآتو د قانون د ۲۲۳ مادې په دوهمه فقره کې د نظارت يا توقيف له امله رسېدلی زيان د جبران وړ ګڼل شوی دی، خو لا هم معلومه نه ده چې تر کومه حده دا تاوان جبرانېږي.

۲) جسمي ضرر

۳) مالي ضرر

د اسلامي شريعت فقهاؤ د تاوان د جبران موضوع د "الضمان" تر باب لاندې بحث کړې ده او شخص ته رسېدلی زيان يې په درې ډوله وېشلی دی چې عبارت دي له:

۱) د انسان جسم ته رسېدلی تاوان.

۲) معنوي تاوان.

۳) مالي تاوان:

د اسلامي شريعت د کُلي قواعدو له مخې – چې د ضرر د ازالې اصل يې لازموي - معنوي، جسمي او مالي زيانونه ټول د جبران وړ پېژندل شوي دي او دا ډول تاوانونه بايد جبران کړای شي.

**دويمه فرعه: د قانون له نظره د زيان د جبران حق:**

د قانون له نظره زيانمن شوي کسان د دې حق لري چې د رسېدلي زيان د جبران غوښتنه وکړي.
د اساسي قانون (۵۱) ماده په دې اړه داسې صراحت لري: "هرڅوک چې له ادارې څخه بې موجبه زيانمن شي د تاوان اخيستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي".
د ۱۳۹۳د جزايي اجراآتون قانون په مختلفو مادو کې د زيان د جبران حق ته اشاره کړې ده چې د هغې له جملې څخه د اوومې مادې په دوهم بند کې داسې ويل شوي دي: "مظنون، تورن او د حق العبد مسؤول، د عدلي تعقيب په پړاوونو کې د لاندو حقوقو لرونکي دي: "....۲- د دې قانون د حکمونو مطابق .....د زيان د جبران د لاس ته را وړلو حق".

د جزايي اجراآتو د قانون د (۲۰۱) مادې دوهمه فقره په دې اړه داسې وايي: " (۲) تورن کولی شي د حق العبد له مدعي څخه د هغه زيان جبران چې د حق العبد د مدعي د ناحقې دعوا له امله هغه ته رسېدلی دی، په جزايي محکمه کې د قانون د حکمونو مطابق، وغواړي" [۱].

په دې اړه تر ټولو مهمه ماده چې د هېواد په قضايي نظام کې يې ساری نه ليدل کېږي، هغه د جزايي اجراآتو د قانون (۲۲۳) مادې دوهمه فقره ده چې حکومت اړ کوي څو هغو کسانو ته تاوان ورکړي چې په ناحقه توقيف شوي دي:

"(۲) که چېرې شخص د تحقيق په بهير کې د دلايلو د فقدان (نه شتون) په نسبت د څارنوالۍ په قرار يا دا چې د محکمې لخوا برائت ترلاسه او يا دعوا د اقامې په نه لزوم حکم صادر شوی وي، هغه موده چې تر نظارت او توقيف لاندې ؤ، د هرې ورځې په وړاندې له ورځني عايد او د بېکاره شخص لپاره د هرې ورځې په بدل کې له ټاکلي مبلغ سره متناسب چې اندازه يې واکمنه محکمه ټاکي د دولت لخوا جبرانېږي." [۲]

په دې کې شک نشته چې حقوق پوهانو د انسان آبرو، عزت، حيثيت او ځان ته هر ډول تاوان او د ژوند او وجود هر اړخ ته رسېدونکی زيان د جبران وړ ګڼلی دی.

نو کولای شو د انسان عاطفي او غيرمالي ګټو ته هر ډول تاوان معنوي زيان وګڼو، لکه هغه زيان چې د انسان نېک شهرت، ارزښت او يا د يو شخص معنوياتو ته رسېږي.

د حقوق پوهانو له آنده معنوي زيان له هغه زيان څخه عبارت دی چې د انسان غير مادي پانګې ته رسېږي، يعنې هغه زيان چې د انسان ظاهري حواسو، احساس، عاطفې، نفس، کورني، وظيفوي او يا ټولنيز مقام

---

۱- د عدليې وزارت، د جزايي اجراآتو قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه:(۱۱۳۲).

۲- د عدليې وزارت، د جزايي اجراآتو قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه:(۱۱۳۲).

ته رسېږي او د انسان د داخلي اغېزمنتيا او ياهم د ارزښت او باور د کمښت لامل کېږي، معنوي ضرر بلل کېږي.[۱]

د معنوي زيانونو د جبران کړنلارې په اړه بايد وويل شي[۲]:

د زيان جبران بايد د هغه ضرر سره متناسب وي، چې زيانمن شوي کس ته رسېدلی دی، تر دې اندازې چې رسېدلی زيان پرې لرې شي، نو په دې اساس د معنوي زيان د جبران لارې له يوې سيمې نه تر بلې سيمې توپير لري او محکمې معمولاً ګڼ شمېر لاملونه لکه د فاعل د تېروتنې اندازه، د ضرر له رسولو وروسته د هغه کړنې، د واقع شوې پېښې يا د قرارداد ډول، د دواړو لوريو شرايط او شخصيتونه، د هغوی اقتصادي، ټولنيزه او فرهنګی کچه او... په نظر کې نيسي او کوښښ کوي، چې د دې تاوان د ادايني او جبران لپاره تر ټولو مناسبه لاره په نظر کې ونيسي.

په ټوليز ډول د معنوي زيانونو د جبران لارې په دوه ډوله وېشل شوې دي؛ مالي جبران چې معمولا يو اندازه پيسې يا د هغه معادل څه چې د زيانمن شوي کس د زړه لاس ته راوړلو لپاره ورکول کېږي، خو په غير مالي حالاتو کې بيا موخه د زيانمن شوي کس بېرته هغه حالت ته راګرځول دي چې د زيانمن کېدو څخه مخکې يې درلود چې په دې لاره کې له مختلفو کړنلارو څخه استفاده کېږي، لکه په ټولنيزو رسنيو کې د جرم د مرتکب د محکوميت د قطعي حکم نشرول، رسمي ښښنه غوښتل، زيانمن شوی کس معالجوي يا رواني ډاکټر ته وړل، زيانمن کس تفريحي سفر ته لېږل، سياحت، د زيانمن اړتياوې پورې کول، د زيان اړونکي کار درول او د ضرر سرچينه له منځه وړل او داسې نور...

د افغانستان په نافذه قوانينو کې معنوي ضرر د جبران وړ پېژندل شوی دی. د مالي او غير مالي جبران لارې چارې د ټوليزو قواعدو په توګه ښودل شوې دي. د مدني قانون د ۷۷۸ مادې لومړۍ فقره په دې اړه وايي: "تعويض او د زيان جبران د معنوي ضرر سنجولو ته هم شامل دي"، د مدني قانون ۷۷۹ ماده د

[۱] - جبران ، يوسف نجم، النظرية العامة للموجبات، ۲۶۳ مخ.

[۲] - نيك فرجام، زهره، جبران خسارات معنوى در فقه و حقوق ۱۱۹ مخ.

تاوان د اداينې په اړه وايي: "محکمه به تعويض د رسېدلي ضرر په تناسب ټاکي، په دې شرط چې ذکر شوی ضرر په مستقيمه توګه د مضر فعل څخه پيدا شوی وي".

همدا ډول په ۷۸۰ ماده کې وايي: " که د محکمې سره د تعويض د اندازې د دقيقو ټاکلو امکانات موجود نه وو نو کولی شي چاته چې ضرر رسېدلی د تعويض د ټاکلو په باره کې د هغه د بيا غوښتنې حق تر يوې معقولې مودې پورې وساتي". د مدني قانون د ۷۸۲ مادې پر بنسټ: "هغه چاته چې ضرر رسېدلی او د خپلې خطا په سبب د رسېدلي ضرر په پيدا کېدو يا زياتېدو کې ګډون ولري، محکمه کولی شي چې د تعويض اندازه کمه کړي او يا پرې بيخي حکم ونه کړي".

پورته مادې ښيي چې محکمه د تاوان د جبران د اداينې په حکم کې د ضرر اندازه، طريقه، او د هغه د جبران څرنګوالی د قضيې وضعيت او حالت ته په کتو سره ټاکي.

په نتيجه کې ويلی شو هغه څه چې قانون پرې ټينګار کړی دی، د تاوان جبران دی، هغه که مادي او يا معنوي وي او د دې تاوان د اداينې څرنګوالی د قضيې په حالت او وضعيت پورې تړلی دی.

هغه څه چې د تاوان د جبران په برخه کې بيان شول، معلومه شوه چې اسلامي شريعت او قوانينو زيانمن شوی کس د معنوي، جسمي او مالي تاوان د جبران مستحق بللی دی او په زيان رسولو کې ټول ښکېل کسان يې په تعويض (بدله ورکولو) مکلف کرځولي دي.

**پایلیزه:**

په دې فصل کې د جزا حقوقو کليات او همدا ډول د ۱۳۹٦ کال د جزا کود معرفي شو او د جزا په کود کې حاکم اصول شرح شول.

وليدل شول چې د جزا حقوق د عمومي حقوقو د علم يوه څانگه ده چې جرمي کړنې تعريف او د مرتکبينو لپاره جزاگانې ټاکي. د جزا حقوق په ملي او نړيوالو ډولونو وېشل شوي چې ملي يې بيا په ماهوي او شکلي وېشل شوي دي. بيا د جزا ماهوي حقوق په عمومي جزايي حقوقو او اختصاصي جزايي حقوقو وېشل شوي دي.

جوته شوه چې معاصر د جزا حقوق، د عدالت د تامين، د ټولنې د نظم د ساتنې او د مجنی عليه د زړه د خوشحاله کولو تر څنگ د نورو موخو د ترلاسه کولو په لټه کې هم دي چې تر ټولو مهم يې د مجرم اصلاح او زيانمن شوي کس ته د رسېدلي زيان جبران دي.

بيا کتنې وښوده چې د جزا کود د افغانستان د ټولنې د نويو اړتياوو پر بنسټ تصويب شوی دی، ځکه د افغانستان د جزا قانون چې په ۱۳۵۵ کال کې تصويب شوی ؤ، د اوسنيو حالاتو لپاره ځواب ويونکی نه ؤ. د دې اړتياو تر ټولو مهمې برخې عبارت دي له: د خلکو په ټولنيزو کړنو کې بدلون او د نويو جرمونو رامنځ ته کېدل او د يو شمېر زړو جرمونو ختمېدل، د افغانيو پيسو په ارزښت کې بدلون چې نغدي سزا د هغې له مخې ټاکل کېده، د افغانستان په نړيوالو ژمنو کې بدلون، د هېواد په حقوقي او سياسي نظرياتو کې بدلون په ځانگړې توگه نسبي اعدام کمونه او نسبي حبس کمونه، د حبس له بديل څخه استفاده او داسې نور.

و مو ليدل چې د جزا کود د يوې کمېټې له لورې چې د ولسمشر په فرمان رامنځ ته شوې وه، د څلورو کلونو او شپږو مياشتو په ترڅ کې تسويد شو چې بيا د دوه نورو کمېټو له لورې د اتو مياشتو په موده کې تر ژورې کتنې لاندې تدقيق شو او د ۱۳۹۵ کال د کب په ۱۲ مه په داسې حال کې چې پارلمان تعطيل

ؤ، د وزيرانو د شورا له لورې تصويب او د همدې مياشتې په ۱۴مه نېټه د ولسمشر له لورې توشيح شو. د جزا د کود خپرېدل د ډېرو جدي غلطيو لرونکی وو او د چاپي ګڼې سره سم د ۱۳۹٦ کال د غوايي په ۲۵ مه د عدليې وزارت په وېب پاڼه کې خپور شو چې د نافذېدو نېټه يې د ۱۳۹٦ کال د سلواغې ۲٦ مه ده.

کتنو وښوده چې د جزا کود د موضوع له اړخه يوازې په تعزيري جرمونو کې د پلي کېدو وړ دی. د حدودو، قصاص او ديت جرمونو ته د اسلامي شريعت د حکمونو له مخې رسيدګي صورت مومي.

او په پای کې مو وليدل چې د جزا کود د يو شمېر توليزو اصولو پر بنسټ وضع شوی دی چې دا اصول عبارت دي له: د برائت الذمه اصل، د قانون په وړاندې د اشخاصو د برابرۍ او مساوات اصل، د جرم او جزا د قانونيت اصل، د جرم او جزا د شخصي والي اصل، له قانون څخه د بې خبرۍ د عذر نه منلو اصل او د انساني کرامت د رعايت اصل چې د دې اصولو هر يو يې د شريعت او د هېواد د قوانينو له نظره تر څېړنې او وضاحت لاندې ونيول شو.

## د لومړي څپرکي د ارزونې پوښتنې:

۱. د جزا حقوق تعریف کړئ؟
۲. د جزا د حقوقو اهداف او موخې ذکر کړئ؟ او د کلاسيکو او معاصرو اهدافو ترمنځ توپير بيان کړئ؟
۳. د جزا کود ته څه اړتيا وه؟ واضحه يې کړئ.
٤. د جزا د کود د تسويد، تدقيق، تصويب، نشر يا خپرېدو او انفاذ بهير په لنډه توګه بيان کړئ.
٥. آيا د جزا کود د حدودو، قصاص او دياتو په جرمونو د پلي کېدو وړ دی؟ ولې؟
٦. د جزا پر کود د حاکمو اصولو مفهوم څه شی دی؟ او دا اصول کوم دي؟ نومونه يې واخلئ.
۷. آيا د جزا پر کود حاکم اصول د شريعت سره مطابقت لري او که نه؟ په واضحه توګه يې بيان کړئ.
۸. د برائت الذمه اصل، د جرم او جزا د قانونيت اصل، د جرم او جزا د شخصي والي اصل او د قانون له حکمونو څخه د بې خبري د عذر نه منلو اصل، څه دي؟ بيان يې کړئ.
۹. له جرم څخه د راټوکېدلو معنوي يا ادبي تاوانونو يا زيانونو مراد څه دی؟ او دا زيانونه څه ډول جبران کېږي؟

# دويم څپرکی

## د جزا کود د پلي کېدو ساحه

**موخې:**

د دې روزنيزې غونډې په پای کې به ګډونوال د لاندې چارو په تر سره کولو وتوانېږي:

۱. د افغانستان د جزا کود د تطبيق د ساحې د اړوندو کُلي قواعدو معرفي کول.

۲. د هغو سيمو تشخيص چې د هېواد د جزا کود په کې تطبيق کېدای شي.

۳. هغو جرمونو ته د لاحق قانون د نه سرايت د مواردو تشخيص چې د هغه له انفاذ څخه مخکې ارتکاب شوي دي

٤. د هغو حالاتو رعايت او تشخيص چې جزايي قوانين په کې ماقبل ته رجعت کوي.

**عنوانونه:**

- د جزا کود د پلي کېدو ساحه:
  - د ځای يا مکان له اړخه د جزا د قانون تطبيق (پلي کېدل)
  - د وخت او زمان له مخې د جزا د قانون تطبيق

# دويم څپرکی

## د جزا کود د تطبيق ساحه

د افغانستان د جزا کود د تطبيق يا پلي کېدو ساحه د ځای، اشخاصو او وخت له اړخه د غور او بررسۍ وړ ده. دا موضوعات د دوه بېلو مبحثونو له لارې تر غور لاندې نيول کېږي:

### لومړی مبحث: د ځای يا مکان له اړخه د جزا کود تطبيق:

په اوسني وخت کې د ټولنيزو اړيکو د وسايلو د آسانتياو، د نړيوالو تېزو ترانسپورتي سيستمونو، کډوالۍ او له هېوادونو بهر د جرمونو او نورو لاملونو له اړخه د يوه جرم ټول عناصر په يوه ځای کې نه ترسره کېږي، بلکې هره برخه يې په يوه هېواد کې رامنځ ته کېږي چې په دې حال کې د هغه قانون تشخيص چې په ټولو ځايونو کې د پلي کېدو وړ وي، د يو مشکل په توګه مطرح کېږي. هېوادونه د دې ستونزې د حل لپاره په حقوقي نظامونو کې په عمومي ډول له څلورو نظريو کار اخلي: د ځمکني صلاحيت او واک اصل، د واقعي صلاحيت اصل، د شخصي صلاحيت اصل او د جهاني يا نړيوال صلاحيت اصل.

د دوی تر منځ د تعارض پر مهال زمکني صلاحيت ته لومړيتوب ورکول کېږي، ځکه د هېوادونو حاکميت او خپلواکي د دې غوښتنه کوي چې د هغوی په هېواد کې رامنځ ته شوو جرمونو ته بايد په خپله رسيدګي وکړي، که څه هم د جرم مرتکبين بهرني اتباع وي. خو کله چې د دې صلاحيت پر بنسټ يو جرم د تعقيب وړ نه وي، نو بيا فراسرزمينی (له پولې بهر) اصول مطرح کېږي چې د دې اصولو په سر کې د واقعي صلاحيت اصل ځای لري، ځکه د دې صلاحيت لاندې څېړل کېدونکي موضوعات د هغه هېواد لپاره چې اغېزمن شوی دی، د نورو ټولو نړيوالو فراسرزميني صلاحيتونو په پرتله ډېر ارزښت لري. ورپسې بيا شخصي صلاحيت او بيا هم جهاني يا نړيوال صلاحيت د تطبيق وړ دي.

په دې مبحث کې د دې اصولو مفهوم او مختلف ډولونه د افغانستان د جزا د کود سره سم په څلورو ويناوو کې څېړو:

## لومړۍ وينا: د زمکني صلاحيت اصل:

د زمکني صلاحيت اصل څه شی دی؟ ډولونه يې کوم دي؟ هغه دوه پوښتنې دي چې د جزا کود او د جزا د حقوقو له اړخه به تر بحث لاندې ونيول شي. لومړی د جزا کود متن رانقل کېږي او بيا به پرې تبصره او تحليل ترسره کېږي:

د جزا د کود ۱٦ مه ماده د زمکني صلاحيت د اصل په اړه داسې وايي:

"(۱) د دې قانون حکمونه د افغانستان پر هر تبعه، بې تابعيته شخص يا هر بهرني تبعه باندې چې د هېواد په قلمرو کې د جرم مرتکب شي، تطبيقيږي.

(۳)جرم د افغانستان په قلمرو کې هغه وخت ارتکاب شوی حسابېږي چې جرمي عمل يا د هغه جرمي پايله د افغانستان په قلمرو کې واقع شوې وي.

(٤) هغه شخص چې د هېواد له قلمرو څخه بهر د هغه عمل مرتکب شي چې د هغه له امله فاعل، د هغه جرم شريک يا معاون و پېژندل شي چې کلاً يا قسماً په افغانستان کې واقع شوي وي، د افغانستان په محکمو کې تر محاکمې لاندې نيول کېږي".

**لومړۍ فرعه: د سرزميني يا زمکني واک د اصل مفهوم:**

د زمکني صلاحيت اصل پر ټولو هغو جرمونو د تطبيق وړ دی چې د يو تن يا څو تنو لخوا د هېواد په قلمرو کې ترسره کېږي. برابره ده چې هغه مجرم د هېواد تبعه وي او يا هم د بهرني هېواد تابعيت ولري او يا هم بې تابعيته کسان وي.

د دې صلاحيت پر بنسټ ټول هغه کسان چې په يوه خاوره کې د جرم مرتکب کېږي (پرته له دې چې د هغه تابعيت په پام کې ونيول شي) د هماغه هېواد د جزا قانون پر بنسټ محاکمه کېږي، نو ځکه دا صلاحيت د جرم د ترسره کېدو سيمې ته ګوري، کوم ځای کې چې عمومي نظم ګډوډ شوی دی. د جزا

کود د ۱٦ مادې لومړۍ فقره په دې اړه داسې صراحت لري: "د دې قانون حکمونه د افغانستان پر هر تبعه، بې تابعيته شخص يا هر بهرني تبعه باندې چې د هېواد په قلمرو کې د جرم مرتکب شي، تطبيقيږي".
دا اصل د دوه څېزونو غوښتنه کوي:
لومړی: دا چې د هېواد جزايي قوانين ټولو هغو جرايمو ته سرايت کوي چې د هغه په سيمه او اقليم کې ترسره شوي دي، پرته له دې چې د مجرم تابعيت په نظر کې ونيول شي.
دويم: هغو جرايمو ته د هېواد د جزايي قوانينو نه سريان چې د هېواد څخه بهر ترسره شوي دي، هغه که د دې هېواد د اتباعو له لوري او يا د نورو کسانو له لوري وي.
د يادونې وړ ده چې دويم ټکی د دې اصل تشه او خلا ده او د دې تشې د ډکولو لپاره فراسرزميني (بې پولې) اصول رامنځ ته شوي دي. نوموړي اصول به د دې مبحث په دويمه، درېيمه او څلورمه وينا کې تر څېړنې لاندې ونيول شي.
**د تعريف شرحه:**

- **د هېواد د قلمرو مفهوم:** د يو هېواد پولې د هغه هېواد زمکنيو، هوايي او بحري پولو او سرحدونو ته ويل کېږي.

**زمکنی قلمرو يا پولې:** د افغانستان د سرحدونو په داخل کې د زمکې سطحه او عمق، او همدا ډول ټولې هغه زمکې چې د افغانستان تر مشروع تسلط لاندې وي لکه سفارتونه، بندرونه، هوايي ډگرونه او ټول هغه اجاره شوي ځايونه او زمکې چې د افغانستان دولت يې له هېواده بهر ملکيت لري او يا يې په کرايه نيولي دي. د افغانستان مساحت شاوخوا ٦۴۷۵۰۰ کيلومتره مربع دی. دا هېواد د جنوب او ختيځ له لورې له پاکستان، د لويديځ له لورې له ايران، د شمال له لورې له ترکمنستان، ازبکستان، او تاجکستان او د شمال ختيځ له لورې له چين سره گډه پوله يا سرحد لري.
**هوايي قلمرو يا پولې:** له هوايي فضا څخه موخه د زمکې پورته ساحه ده چې هوا او فضا پکې شامله ده. هوا د زمکې پورته مسافې ته ويل کېږي چې په هغه کې اکسيجن شتون لري او فضا د هوا نه پورته مساحت ته ويل کېږي. ځيني په دې کې توپير نه کوي او دواړه کلمې د يو بل پر ځای کاروي. مجبور يو چې فضا

او هوا له الوتکو پرته تفسير کړو، ځکه الوتکې د دې فقرې په درېيم بند کې يادې شوې دي، ځکه کله ناکله ځيني جرمونه له طيارې بهر په فضا کې ترسره کېږي، لکه د يو هېواد له لورې د بل هېواد په فضا کې د کيمياوي وسلو استفاده او داسې نور.

**د اوبو قلمرو يا پولې:** له داخلي او سرزميني اوبو څخه عبارت دي.

له داخلي اوبو څخه منظور هغه اوبه دی چې د پيل د نقطې څخه د هېواد داخلی لوري ته قرار لري، که دا د ساحل ننوتليو برخوکی وی يا د دريابونو او جهيلونو بڼه ولری. د پيل کرښه له هغه فرضي کرښې څخه عبارت ده چی د هيوادونو د ساحل په امتداد پروت وی او د سرزمينی اوبو ساحه چی ۱۲ آبی ميله ده له هغه څخه اندازه کيږی. دا کرښه د ساحل د جزر د لاندينی حد په اساس تشخيصيږی، او که چيری ساحلی منطقه ننوتلوالی ولری او يا جزاير يوله بل سره هلته نږدی وی نو بيا دا کرښه په مستقيم شکل -چی د وچی ترټولو وتلی برخی له يو بل سره نښلوی- اټکليږی. داخلی اوبه د هېواد تر پوره حاکميت لاندې دي او نور حتی په هغو کې د کشتۍ چلولو حق نه لري. په دې اساس افغانستان داخلي اوبه نه لري، ځکه افغانستان په وچه کې راګېر هېواد دی، په غير سرحدي سيمو لکه د پنجشير سيند، د قرغې بند، د امير بند او نور (د دريابونو د حقوقو د کنوانسيون پر بنسټ) د داخلي اوبو په نوم نه يادېږي.

"۳- سرحدي سيندونه او جهيلونه تر هغې سرحدي کرښې (خط) پورې چې د نړيوالو سندونو او د افغانستان د اسلامي جمهوريت او ګاونډيو دولتونو ترمنځ د معاهدو په اساس ټاکل شوې ده".

سرحدي کرښه له هغه فرضي کرښې څخه عبارت ده چې د کرښې له پيل څخه تر آزادو اوبو پورې ۱۲ آبی ميله[1] واټن ولري. له سرحدي سيندونو او جهيلونو څخه موخه هماغه اوبه دي چې د پيل له کرښې تر سرحدي کرښې پورې موجودې دي. دا اوبه د يو هېواد د خاورې د اوبو په توګه هم يادېږي. په دې اوبو کې د داخلي اوبو خلاف بهرنۍ کښتۍ هم د ګرځېدو حق لري. د يادونې وړ ده، هغه سيندونه چې دوه هېوادونه سره ويشي لکه د امو سيند، "په نيمايي کې بېلونکي کرښه" هېوادونه په دوه برخو وېشي، يعنې د سيند نيمه برخه د يو هېواد او نيمه نوره يې د بل هېواد پوله شمېرل کېږي.

[1] - يو آبی ميل له ۱۸۵۲ متره سره برابر يږی.

"۴- د هېواد د قلمرو دننه يا له هغه څخه بهر افغاني بېړۍ (کښتۍ) او الوتکې، خو دا چې هغه ځای له بين المللي سندونو سره سم د بهرني هېواد د قلمرو تابع وګڼل شي".
"۵- هغه الوتکې او بېړۍ چې د هېواد له قلمرو څخه بهر د افغانستان اسلامي جمهوريت تر بيرغ لاندې راځي (قرار مومي)، خو دا چې له بين المللي سندونو سره سم د بهرني هېواد تابع وګڼل شي".

**دويمه فرعه: د زمکني يا سرزميني صلاحيت د اصل اهميت:**

د دې صلاحيت ارزښت، په لاندې ټکو کې خلاصه کېږي:

- د يو هېواد ملي حاکميت او خپلواکۍ ته درناوی.
- د پېښې په ځای کې د جرم منفي اغېزو رغونه، ځکه جرم د پېښې په ځای کې يو شمېر منفي اغېزې پرېږدي.
- بله دا چې هغه قاضي چې د قانون د پلي کولو مسؤول دی، د بهرنيو قوانينو پر ځای د خپل هېواد پر قوانينو ښه پوهېږي، نو ځکه د جرم د اثبات دلايل د پېښې په ځای کې په ښه توګه راټولېدلای شي.
- د جرم او جزا د قانونيت اصل ته په دې اصل کې په ښه توګه درناوی کېدای شي، ځکه فرض دا دی چې مجرم په کوم هېواد کې چې جرم واقع شوی، د هغه ځای په قوانينو پوهېږي.

له دې سره سره بيا هم دا نظريه يو شمېر عيبونه لري: د مثال په توګه د يو بهرني هېواد تبعه چې په خپل هېواد کې يې جرم ترسره کړی دی، د دې لپاره چې د خپل هېواد د قوانينو څخه وتښتي په افغانستان کې د پناه اخستنې غوښتنه وکړي. په عين شکل که يو افغان چې په بهرني هېواد کې يې جرم ترسره کړی دی، د عدلي څارنې څخه  د تښتې په هدف افغانستان ته راستون شي، د دې تشو د له منځه وړلو لپاره بې پولې (فرامرزي) اصول هم مطرح کېږي تر څو مجرم له عدالت څخه ونه تښتي او بې سزا پاتې نه شي. دا اصول د دې مبحث په نورو وېناوو کې تشريح کېږي.

**درېيمه فرعه: د زمکني صلاحيت ډولونه:**

د زمکني صلاحيت اصل په دوه ډولونو وېشل شوی دی:

۱. د شخصي يا موردي زمکني صلاحيت اصل؛

۲. او د نوعي يا عيني زمکني صلاحيت اصل.

د لومړي ډول له مخې دولت هغه جرم ته رسيدګي کولی شي چې ټول يا د جرم يوه برخه د يو هېواد تر حاکميت لاندې قلمرو (زمکه، سيندونو، يا هوا) کې ترسره شوی وي، خو د دويم ډول له مخې بيا دولت هغه جرم ته د رسيدګۍ حق لري چې د هغه بدې پايلې د هغه هېواد په قلمرو کې واقع کېږي. د مثال په توګه: يو څوک د يوې مرمۍ په فاير کولو يا د يو بمب لرونکي پوست په واسطه د (الف) هېواد له داخل څخه د (ب) هېواد په داخل کې څوک ووژني، (الف) هېواد د شخصي زمکني صلاحيت د اصل له مخې او د (ب) هېواد د عيني زمکني صلاحيت د اصل له مخې هغه ته د جزا ورکولو او محاکمې حق لري.[1]

د جزا کود ۱٦ مه ماده د زمکني يا سرزميني صلاحيت دواړو ډولونو ته اشاره کوي: "جرم د افغانستان په قلمرو کې هغه وخت ارتکاب شوی حسابېږي، چې **جرمي عمل يا د هغه جرمي پايله** د افغانستان په قلمرو کې واقع شوي وي".

- **د زمکني صلاحيت په اصل کې استثنايي حالتونه:**

هغه استثنايي حالتونه چې د زمکني صلاحت په اصل کې شتون لري، يو يې هغه حالت دی چې د بهرني هېواد استازی په افغانستان کې جرم ترسره کړي. په دې حالت کې په استثنايي توګه دا شخص د افغانستان په محکمو کې نه محاکمه کېږي، ځکه دا د ډيپلوماتيک خونديتوب د اصل حل لاره ده،[2] په

[1] - صادقی، حسين مير محمد، حقوق جزای بين الملل ٢٤ مخ.

[2] - د ډيپلوماتيکو اړيکو په اړه د ويانا کنوانسيون چې د ۱۹٦۱ کال د اپرېل په ۱۸ لاسليک شو، په يو هېواد کې د بل هېواد په خوښه د سياسي ټاکل شويو نماينده ګانو حقوق او دندې واضح کړې دي، د مثال په توګه د دې کنوانسيون ۲۹ ماده داسې اشعار ورکوي" سياسي مامور خوندي دی او په هيڅ ډول هغه توقيف يا بندي کېدای نه شي، د هغه منونکی هېواد بايد ورسره له درناوي ډک چلند وکړي او د هغه په آزادۍ او حيثيت له هر ډول تېري څخه د منع کولو لپاره اړين ګامونه واخلي". په همدې ترتيب د دې کنوانسيون ۳۱ ماده داسې وايي: "۱. په يو هېواد کې د بل هېواد منل شوی سياسي مامور د جزايي خونديتوب څخه برخمن دی، د دې ترڅنګ د مدني او اداري دعواو څخه هم خوندي دی، خو په لاندې حالاتو کې (چې د خصوصي تجارتونو پورې اړه لري) ".

داسې حالاتو کې دولت کولی شي د هغه هېواد څخه د دې ديپلومات د ورستنېدو غوښتنه وکړي او هغه يو ناغوښتل شـوی کس وګڼي او په پای کې هغه له خپل هېواد څخه وباسي، خو دا کس (د بهرني هېواد ديپلومات) کولی شي په داوطلبانه ډول (خپل هېواد ته) ســتون شي تر څو يې خپل هېواد وکولای شي چې له مصؤنيت څخه يې خلاص کړي.
خونديتوب کېدای شي ماهوي يا شکلي وي[۱].

## أ- ماهوي خونديتوب:

ماهوي خونديتوب د يو هېواد په قلمرو کې د واقع شــويو جرمونو د محاکمې يا عدلي تعقيب د مخنيوي لامل ګرځي. دا خونديتوب د بهرنيو هېوادونو د استازو او ديپلوماتانو لپاره په رسميت پېژندل شوی دی[۲]. د افغانستان د جزا کود ۲۱ مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري: "که چېرې د ملګرو ملتونو کارکوونکي يا د نورو بين المللي سازمانونو کارکوونکی يا د بهرني دولت سياسي استازی د داسې جرم مرتکب شي چې د دې قانون حکمونه پر هغه باندې د تطبيق وړ وي، له هغوی سره د بين الدول له معاهدو او بين المللي ميثاقونو سره سم، چې د نوموړو کارکوونکو او استازو موقف، امتيازونه او مصؤنيتونه تنظيموي او د افغانستان اسلامي جمهوريت هغو ته ملحق شوی دی، چلند صورت مومي".

## ب- شکلي (تشريفاتي) خونديتوب:

د شکلي يا تشريفاتي خونديتوب له مخې مجرمين د يو لړ ځانګړو تشريفاتو د رعايتولو له مخې (چې د مصؤنيت په لغو کولو مشهور دي) چې د خونديتوب د له منځه وړلو لپاره صورت مومي، تعقيب او محاکمه کېږي.

---

[۱] - غلامی، حسين، مبانی حقوق و عدالت جزايی در افغانستان، سفارت کبرای آلمان ، کابل، ۱۳۸۵ ۸٤ و ۸۵ مخونه

[۲]- د ديپلوماتيکو اړيکو په اړه د ويانا کنوانسيون وايي: " د يوه هېواد سياسي نماينده ګان چې په کوربه هېواد کې جرم ترسره کړي، د کوربه هېواد د قانون له مخې نه شي محاکمه کېدلای، خو لېږونکی هېواد کولی شي هغوی را وغواړي او په خپل هېواد کې يې محاکمه کړي".

**(۵) پنځم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د نړۍ د ټولو هېوادونو جزايي قوانين د هماغه هېواد د قلمرو په داخل کې په جرم ترسره کونکو ټولو کسانو د پلي کېدو وړ دي، آيا په دې کې کومه استثنا شتون لري او که نه؟

ګډونکونکی دی دا موضوع وڅیړی.

## دويمه وينا: د واقعي صلاحيت اصل:

د واقعي صلاحيت حق پر هغو جرمونو د جزايي قوانينو د پلي کولو څخه عبارت دی چې د يو هېواد بنسټيزې او حياتي ګټې ګواښي يا يې متضررې کوي، که څه هم دا جرمونه د هېواد له قلمرو څخه بهر او د بهرنيو اتباعو په واسطه ترسره شوي وي.

که له هېواده بهر د بهرنيو اتباعو په واسطه يو داسې جرم ترسره شي چې د هېواد ګټې ګواښي، نه سرزميني او زمکنی صلاحيت او نه هم شخصي صلاحيت هلته د پلي کېدو وړ وي، نو په دې اساس د دې تشې د ډکولو لپاره د واقعي صلاحيت اصل منځ ته راځي تر څو هغه جرمونه بې ځوابه پاتې نه شي چې د هېواد حياتي ګټو ته يې زيان رسولی دی. نو په همدې بنسټ د "واقعي صلاحيت" اصل د زمکني صلاحيت لپاره يوه استثنا بلل کېږي. د افغانستان د جزا کود د ۲۰ مادې لومړۍ فقره دا موضوع واضحه کړې ده او په پای کې يې د همدا ډول جرمونو عدلي تعقيب د افغانستان د محکمو صلاحيت ګڼلی دی. د دې مادې سره سم:

"(۱) د دې قانون حکمونه پر هغه شخص باندې چې د هېواد له قلمرو څخه بهر له لاندې جرمونو څخه د يوه مرتکب شي تطبيقيږي:

۱- د افغانستان اسلامی جمهوريت يا د بهرني دولت د کورني او بهرني امنيت پر خلاف جرمونه.

۲- د دې قانون له ۴۳٦ څخه تر ۴۴۳ مادو کې د درج شوو رسمي سندونو تزوير يا افغانستان ته د نوموړو تزوير شويو شيانو داخلول (راوړل).

۳- د دې قانون په ۲۸۴ ماده کې درج د بانکنوټ، فلزي سکو او بها لرونکو سندونو جعل يا افغانستان ته د هغوی داخلول.

٤- د دولتي نښانونو يا مډالونو جعل يا افغانستان ته د جعل شوو نښانونو يا مډالونو داخلول. "

**(٦) شپږم فعاليت**

**انتقادي فکر:**

که چېرې يو کس افغاني بانکنوټونه په پاکستان کې جعلي جوړ کړي خو هغه په افغانستان کې پيدا شي، سره له دې چې جرم له افغانستان څخه بهر ترسره شوی دی، آيا د افغانستان پوليس د دې صلاحيت لري چې هغه تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي او د افغانستان قاضيان د دې صلاحيت لري چې تورن کس محاکمه کړي؟ په دې حالاتو کې کوم اصل تطبيقېږي؟ د دې لپاره د شپاړسمې مادې څلورمه فقره، د جزا کود د ۲۰ او ۲۳ مادې لومړۍ فقرې ته مراجعه وکړئ، همدا رنګه د جزا د قانون ۱۵ او ۱۷ مادې لومړۍ فقرو ته مراجعه وکړئ، موجه او په دلايلو ولاړ ځواب يې ووايئ.

**دريیمه وينا: د شخصي صلاحيت اصل:**

د شخصي صلاحيت اصل د هېواد په تابعيت لرونكو كسانو د جزايي قانون د پلي كېدو څخه عبارت دی، هغه كه د هېواد دننه او يا هم له هېواده بهر يې جرم ترسره كړی وي او په هغه كسانو د دې قوانينو نه پلي كېدل چې د هېواد تابعيت ونه لري.

دا اصل پر خپلو اتباعو د يو دولت د حاكميت پايله ده، ځكه دولتونه پر خپلو خلكو حاكميت لري او اتباع په دې مكلف دي چې د خپل دولت قوانينو ته درنښت ولري. له دې قوانينو څخه سرغړونه جرم ګڼل كېږي، كه څه هم يو څوک له هېواده بهر له دې قوانينو سرغړونه وكړي. البته د جرم او جزا د قانونيت اصل ته په كتو سره دا شرط هم ايښودل شوی دی چې دا سرغړونه په هغه هېواد كې چې دا جرم يا سرغړونه پكې ترسره شوې ده، هم جرم ګڼل شوې وي. خو كه داسې نه وي، نو بيا جرم نه ګڼل كېږي او نه د جزا قانون پلی كېږي.

دا صلاحيت چې د دكترين پر بنسټ ولاړ دی، فرد ته پكې لومړيتوب وركول كېږي. د دې صلاحيت سره سم په مجرم كس د خپل متبوع هېواد قانون پلی كېږي. په دې صلاحيت كې قانون كولی شي يو كس كه هر چېرته وي تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي. دا صلاحيت له دوه فرعي صلاحيتونو څخه جوړ دی:

- هغه فعال شخصي صلاحيت چې د مجرم د متبوع هېواد قانون پكې پلی كېږي.
- منفعل شخصي صلاحيت چې په هغه كې د مجني عليه كس د متبوع هېواد قانون په نظر كې نيول كېږي.

دا صلاحيت د خصوصي افرادو د ګټو د اغېزناكه ملاتړ له پلوه غوره بلل كېږي. خو دا چې په دې صلاحيت كې د تبعيض د ستونزو د راولاړېدو احتمال زيات دی، نو ځكه خپله كمې لري. همدا ډول دا صلاحيت په عمل كې كم پلی كېږي.

**(۷) اووم فعالیت**

**انتقادي تفکر:**

د جزا کود د ۲۰ مادې د لومړۍ فقرې لومړی جز وايي:

"ددې قانون حکمونه پر هغه شخص باندې چې د هېواد له قلمرو څخه بهر له لاندې جرمونو څخه په يوه مرتکب شي، تطبيقېږي:

۱- د افغانستان اسلامي جمهوريت يا د بهرني دولت د کورني او بهرني امنيت پر خلاف جرمونه"

د "يا د بهرني دولت" تعبير دا ښيي چې که چېرته الف کس په پاکستان کې د ايران د کورني او بهرني امنيت پر خلاف جرم ترسره کړي، که څه هم په بهر کې وي، د افغانستان د جزا کود سره سم د افغانستان په محکمو کې بايد محاکمه شي. دا عبارت د نقد وړ دی، ځکه دا کار له افغانستان سره هيڅ تړاو نه لري، مګر په هغه صورت کې چې ياد مجرم په افغانستان کې ونيول شي او د نړيوال صلاحيت د اصل شرطونه د هغه په اړه بشپړ شي.

## څلورمه وينا: د جزا حقوقو د نړيوال صلاحيت اصل:

نړيوال صلاحيت پر هغو بهرنيو يا بې تابعيته کسانو د هېواد د جزا د قانون پلي کول دي چې د هېواد له قلمرو څخه بهر يې کوم داسې جرم ترسره کړی وي چې په نړيوالو اسنادو کې جرم ګڼل شوی وي، خو د هېواد د قلمرو په داخل کې نيول شوی وي. د محاکمې نړيوال صلاحيت له نړيوالو ژمنو يا معاهدو سرچينه اخلي. د دې اصل وړاندوينه ددې لپاره شوې ده چې يو مجرم په دې برخه کې د شته تشو څخه استفاده ونه کړي او له مجازاتو څخه بهر پاتې نه شي.

د جزا کود ۲٦ ماده په دې اړه داسې وايي: "هغه جرمونه چې له بين المللي سندونو سره سم جرم پېژندل شوي وي، د هغه مرتکب، په افغانستان کې د پيدا کېدو په صورت کې د هېواد د قوانينو له حکمونو سره سم تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي، په دې شرط چې دغه ډول اعمال په کورنيو قوانينو کې جرم پېژندل

شوی وي او پر هغو باندې مجازات تاکل شوی وي او نور سرزميني شخصي يا ذاتي واکونه د تطبيق وړ نه وي. "

نن ورځ د جنايي جرمونو د نړيوالې محکمې (ICC) د تأسيس سره سم چې افغانستان يې هم غړی دی، د بين المللي حقوقو سره سم د بين المللي جرمونو د محاکمې لپاره يو مېکانېزم شتون لري.[۱]

په دې صلاحيت کې د جرم ځای يا د مجرم او د جرم قرباني تابعيت ته پاملرنه نه کېږي. دا صلاحيت په ډېرو وختونو کې په استثنايي حالاتو کې کاورل کېږي.

**(۸) اتم فعاليت**

**فرضي قضيه:**

د احمد په نوم د افغانستان يو تبعه پاکستان ته ځي. له درې ورځو تېرولو وروسته د استوګنځای دننه شخخه د غلا جرم کوي او د پاکستان د پوليسو له لوري نيول کېږي او بندي کېږي. وروسته هغه د پاکستان د محکمو له لورې د پاکستان د جزا قانون سره سم په اتو مياشتو بند محکومېږي. د درې مياشتو له تېرولو وروسته د افغانستان حکومت د هغه تړون پر اساس چې د پاکستان او افغانستان حکومتونو د مجرمينو د استرداد په هکله بخوا لاسليک شوی دی، دغه کس خپل هېواد ته را غواړي او د پاکستان حکومت هم هغه د افغانستان دولت ته تسليموي.

**پوښتنه:**

آيا احمد به په دې قضيه کې د خپل بيانشوی بند پاتې موده په افغانستان کې تېروي؟ او يا داچی دی به د افغانستان د جزا په کود کې د غلا لپاره د مقررې شوې جزا چی متوسط حبس دی(د جزا کود ۷۰۰ مه ماده) سره سم د غلا د جرم په ترسره کولو بندي شي؟

[۱] J. LE CALVEZ, « Compétence législative et compétence judiciaire en droit pénal », Rev. sc. Crim. ۱۹۸۰, pp. ۱۳ et s.

## دويم مبحث: د زمان له لحاظه د جزا کود تطبيق (پلي کول):

د زمان يا وخت له لحاظه د قانون د تطبيق يا پلي کېدو په بحث کې د قانون د پلي کېدو پر زمانې حاکم قواعد او اصول څېړل کېږي. د دې اصولو تر ټولو مهم يې عبارت دي له: د جرم او جزا د قانونيت اصل، ماقبل يا تېر ته د قانون د نه رجعت اصل، او د قانون د سمدستي تطبيق اصل. کله چې قانون نافذ شي، له تاريخي اړخه په کومو جرمونو د تطبيق وړتيا لري؟ په هغو جرمونو چې د هغه له نفاذ مخکې واقع شوي دي او که په هغو جرمونو چې د هغه له نفاذ وروسته واقع کېږي؟ کوم جرمونه چې پخوا پيل شوي دي او د جزا کود له نافذېدو وروسته هم دوام لري، د کومو قوانينونو له مخې بايد ورته رسيدګي وشي؟ په کومو حالاتو کې قانون ماقبل ته رجعت کوي او ورګرځي؟ کله چې يو فعل پخوا واقع شوی وي خو پايله يې د قانون له نافذېدو وروسته راووځي لکه د زهرو په واسطه د يو انسان وژل چې د فعل او د هغه د پايلې او نتيجې د رابرسېره کېدو ترمنځ زيات وخت تېرېدای شي، کوم قانون د تطبيق وړ دی؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې د "زمان او يا وخت له لحاظه د قانون تطبيق" تر بحث لاندې څېړل کېږي.

د جرم او جزا د قانونيت اصل وايي چې: "هيڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون په حکم چې د هغه له ارتکاب څخه د مخه نافذ شوی وي".( د افغانستان د جزا کود ۷ مه ماده). د "هغه له ارتکاب څخه دمخه" تعبير يو داسې اصل مقرروي چې د قانون د تطبيق زمان او وخت مشخصوي، دا اصل "ماقبل ته د قانون نه ورګرځېدل يا نه رجعت" د اصل په توګه يادېږي.

حقوق پوهان په دې اړه په يوه خوله دي چې جزايي قوانين په ټولو هغو جرمونو چې د دې قانون له نافذېدو وروسته ترسره کېږي، د تطبيق وړ دي او پر هغو جرمونو چې د هغه له نفاذ مخکې واقع شوي دي نه تطبيقېږي، مګر په يو شمېر ځانګړو حالاتو کې. دا ځانګړي حالات لاندې حالاتو ته شامل دي: د تورن لپاره اصلح ماهوي قوانين، تفسيري قوانين، شکلي او اجرائوي قوانين، او احتياطي او تاميني تدابيرو اړوند قوانين. چې له دې څخه په دريو لومړيو موضوعګانو کې په تفصيل سره بحث کوو:

## لومړۍ وينا: د تورن لپاره اصلح ماهوي قانون:

د جزا د حقوقو په برخه کې ماهوي قوانين له هغو قوانينو څخه عبارت دي چې جرم، جزا او جزايي مسؤوليت تنظيموي. په داسې حال کې چې شکلي قوانين هغه قوانين دي چې د کشف، تحقيق او محاکمې اړوند اجراآت د جزا تطبيق او د عدلي او قضايي بنسټونو تشکيل او واکونه تنظيموي. د جزا کود د ماهوي جزايي قوانين تر ټولو مهم قانون دی. د افغانستان د جزا کود د ۱۷ مادې د لومړۍ فقرې له مخې نوی او لاحق ماهوي قانون په هغه صورت کې چې د پخواني قانون څخه سخت وي، پر هغو جرمونو چې د هغه له نافذېدو مخکې ترسره شوي دي، د تطبيق وړ نه دی. دا اصل ماقبل ته د قانون د نه رجعت (يا پخوا ته د قانون د نه گرځېدو او نه عطفولو) په نوم يادېږي. خو که چېرته د دې لاحق قانون احکام د پخواني قانون په پرتله خفيف او آسانه وي، په دې صورت کې ياد قانون پر هغو جرمونو چې له نافذېدو مخکې ترسره شوي دي او د هغه په اړه لا تر اوسه کوم قطعي حکم نه وي صادر شوی، هم تطبيقيږي. دې اصل ته ماقبل ته د قانون د رجعت (پخوا ته د قانون د ورگرځېدو) اصل وايي چې په ماهوي قوانينو کې دا له پخواني اصل يعنی ماقبل ته د ماهوي قوانينو د نه رجعت له اصل څخه يوه استثناء گڼل کېږي.

په دويمه وينا کې د تورن کس لپاره د اصلح قانون معيارونه څېړل کېږي، خو له هغې مخکې د دې اړتيا ده چې د جرم د واقع کېدو د وخت او زمان په اړه بحث وشي.

د جرم د واقع کېدو د وخت يا زمان د تشخيص په اړه بايد وويل شي:
د زمان يا وخت له اړخه د قانون په تطبيق کې يوه تر ټولو مهمه مسئله د جرم د واقع کېدو د وخت تشخيص دی، ځکه اصولاً جرم ته د هغه قانون له مخې رسيدگي کېږي چې د جرم د ترسره کېدو پرمهال نافذ وي. خو که چېرته جرم د قانون له نافذېدو وروسته واقع شي او يا هم دوام وکړي، په دې ټولو حالاتو کې نوی قانون تطبيقيږي، که څه هم د تورن په زيان وي. نو د جرم د واقع کېدو وخت يا زمان به څنگه تشخصيږي؟ په آني (ژر واقع کېدونکو) جرمونو لکه سرقت يا قتل چې په يوه لنډه موده کې ترسره کېږي، د جرم د واقع کېدو د وخت تشخيص ساده او واضح دی، خو په هغه جرمونو کې چې ارتکاب يې تر څه وخته پورې

دوام کوي لکه (استمراري جرمونه) او يا هم هغه جرمونه چې مادي عنصر يې په مکرره توګه يا حرفه يي ډول ترسره کېږي (لکه متوالي او اعتيادي جرمونه)، نو بيا دا مسئله بحث ته اړتيا لري. آن تر دې چې په آني جرمونو کې کله نا کله د فعل او جرمي نتيجې ترمنځ يو اوږد زماني واټن رامنځته کېږي. د مثال په توګه: کله چې يو کس بل ته د هغه د وژلو په مقصد زهر ورکوي او بيا د هغه شخص له مړينې مخکې نوی قانون نافذېږي چې د زهرو له لارې قتل مشدده حالت ګڼي او دا کس بيا د نوي قانون له نفاذ وروسته مړ شي، په داسې حال کې نو د جرم د واقع کېدو وخت کوم دی؟ آيا د فعل د واقع کېدو وخت او که د جرم د پايلې د را برسېره کېدو وخت؟

په دې ټولو حالاتو کې **د جرم د مادي افعالو د بشپړېدو وخت،** نه د جرم د نتيجې وخت معيار دی . يا په بل عبارت کله چې د جرم مادي افعال بشپړ شي، د جرم د واقع کېدو ، نه د نتيجې رابرسېره کېدلو وخت يا زمان شمېرل کېږي ، ځکه د نتيجې تحقق او را برسېره کېدل د جرمي فعل له پايلو څخه دي او کله نا کله د مجرم له ارادې او سلطې څخه بهر وي، نو ځکه په آني جرمونو کې د جرم د واقع کېدو وخت هماغه وخت دی چې فعل پکې بشپړېږي. په استمراري يا دوامداره جرمونو کې د جرم د واقع کېدو وخت يا زمان هماغه وخت دی چې کله د جرم دوام ختم شي او پای ومومي او په متوالي او اعتيادي جرمونو کې د جرمي واقعې تر ټولو وروستۍ واقعه يا پېښه د جرم د واقع کېدو د زمان په توګه پېژندل کېږي. له همدې امله هر کله چې يو فعل د نوي قانون له نافذېدو وروسته ترسره شي او يا پخوا شروع شوی وي او د نوي قانون له نافذېدو وروسته دوام وکړي او يا بار بار واقع شي، نو نوی قانون پر هغه د تطبيق وړ دی؛ که څه هم هغه جرم پخوا پيل شوی وي. خو که چېرته فعل پخوا پای ته رسېدلی وي او پايله يې په راتلونکي کې رابرسېره شي، نوی قانون پرې نه تطبيقېږي؛ مګر په هغه حالاتو کې چې قانون ماقبل ته رجعت کوي.

**دويمه وينا: د اشد او اخف قانون د معيارونو تشخيص:**

مخکې وويل شـــول چې کله ماهوي جزايي قانون د تورن په ګټه وي، پر هغو جرمونو چې پخوا ترسره شـــوي دي خو په اړه يې تر اوســـه قطعي پرېکړه نه ده صـــادره شـــوې، هم تطبيقيږي. اوس پوښـــتنه دا راولاړيږي چې قانون څه وخت د تورن لپاره اصلح دی؟ او يا په بل عبارت نوی قانون څه وخت د تورن په ګټه دی؟

د جزا کود د ۱۷ مادې دوهمې فقرې د اصلح قانون د پېژندنې لپاره د لاندې معيارونو وړاندوينه کړې ده:

" (۲) قانون په لاندې حالاتو کې د تورن په ګټه ګڼل کېږي:

۱- د مجازاتو اقل حد يې کم کړی وي.

۲- د اقل حد په ساتلو سره؛ د مجازاتو اکثر حد يې کم کړی وي.

۳- مجازاتو ټيټې درجې ته تنزيل موندل وي.

٤- مخففه حالتونه يې زيات کړي وي.

٥- مشدده حالات يې کم کړي وي.

٦- نور هغه موارد چې په نوي قانون کې د تورن په ګټه توجيه شي.

(۳) که چېرې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه يا وروسته، داسې قانون نافذ شي چې پر موجب يې هغه عمل چې تورن د هغه په ارتکاب په جزا محکوم شوی دی، د مجازاتو وړ ونه ګڼي، د حکم تنفيذ درول (توقف) کېږي او پر هغه مرتب جزايي آثار له منځه ځي".

پورته ياد شوي حالات په دوه ډوله د وېش وړ دي:

**لومړی:** د نوي قانون له مخې په جرمي کړنو او رفتارونو کې تعديل.

**دويم:** د نوي قانون له مخې د مجازاتو په اندازه کې تعديل.

په دواړو حالاتو کې تعديل کله د تورن په ګټه وي او په پای کې قانون ماقبل ته رجعت کوي او کله هم د تورن په زيان وي او ماقبل ته رجعت نه کوي چې په لاندې توګه بيانيږي:

**أ. په جرمي کړنلارو کې تعدیل:**

هغه حالات چې د تورن په گټه دي:

- هغه قانون چې د جرم ساحه محدوده کړي، یعنې د جرم متشکله عناصر زیات کړي.
- هغه قانون چې مجرمانه کړنه حذف کړي، یادونه: په دې حالت کې قانون په مطلق ډول ماقبل ته رجعت کوي، آن که د جرم په اړه قطعي حکم هم صادر شوی وي (د جزا کود ۱۷ مادې درېیمه فقره)
- هغه قانون چې یو مشدده حالت حذف کړي (څرنگه چې د جنایت جرم د یوه مشدده حالت د له مینځه وړلو په صورت کې په جنحې تبدیل شی)

هغه حالات چې د تورن په زیان دي:

- هغه قانون چې یو نوی جرم رامنځ ته کوي.
- هغه قانون چې د جرم له عناصرو څخه یو عنصر حذف کړي، ځکه د جرم د عناصرو کمښت د جرمي اعمالو د دایرې د پراختیا لامل گرځي. د مثال په توگه که چېرې د "عامه خدماتو د مؤظف" عنصر د رشوت له جرم څخه حذف شي، د رشوت د جرم دایره ډېره پراخېږي او د عامه خدماتو څخه پرته د نورو کسانو کړنو ته هم شاملېږي.
- هغه قانون چې یو نوی مشدده حالت رامنځ ته کړي. (هغه کړنه چې پخوا یو ساده جرم شمېرل کېده، خو اوس شدید جرم وگڼل شي).

**ب. په جزاگانو کې تعدیل:**

هغه حالات چې د تورن په گټه دي:

- د جزا گانو په اندازه کې تخفیف:

هغه حالات چې د تورن په زیان دي:

- د یوې نوې جزا رامنځ ته کېدل.
- د جزاگانو د تر ټولو ډېر حد (حد اکثر) زیاتېدل.

دپورتني مطلب لنډيز په لاندیني جدول کې منعکس کېږي.

| | | |
|---|---|---|
| د جرم انګارۍ د تعریف په مرحله کې قوانین | اخف | - د جرم د ساحې د محدودولو تعریف، یعنې د جرم د تشکیلونکو عناصرو د پراختیا تعریف.<br>- د یو جرم حذفول.<br>- د یو مشدده حالت حذفول. |
| | اشد | - د یوه نوي جرم رامنځ ته کول<br>- د جرم له عناصرو څخه د یوه حذفول<br>- د یوه نوي مشدده حالت رامنځ ته کول |
| د مجازاتو د تعین په مرحله کې قوانین | اخف | - د جزاګانو د اندازې کمول. |
| | اشد | - د یوې نوې جزا رامنځ ته کول.<br>- د جزاګانو د حد اکثر حد ډېرول. |

له همدې کبله، کله چې د جزا قانون غیر جرمي اعمالو ته جرمي وصف ورکړي او یا هم د یو جرم لپاره مقرره شوې جزا زیاته کړي، یا هم د جرم ساحه د یوه نوي تعریف له مخې پراخه کړي، یا هم د "جرم د تعدد" په مفهوم کې په تعدیل سره د جزایي مسؤولیت لرونکو کسانو ساحه پراخه کړي، یا کومه نوې جزا رامنځته کړي، یا یو مخففه حالت له منځه یوسي. په دې ټولو حالاتو کې نوی قانون په هغو افعالو چې د هغه له نفاذه مخکې ترسره شوی، نه تطبیقیږي. خو که په ۱۷ ماده کې ذکر شویو شپږ ګونو حالتونو صدق کاوه، نو بیا نوی قانون ماقبل ته رجعت کوي.

نوي قوانین یا په جرمي کړنلارو او یا هم په جزاګانو کې تعدیلات رامنځته کوي.

**(۹) نهم فعاليت**

**انتقادي تفکر:**

د جزا کود ۱۷ مادې لومړۍ فقره وايي: "د جرم مرتکب د هغه قانون پر موجب مجازات کېږي چې د جرم له ارتکاب څخه د مخه نافذ شوی وی، خو دا چې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه داسې نوی قانون وضع شي چې د تورن په ګټه وي"

په دې فقره کې ماقبل ته رجعت د نوی قانون د **وضع** کېدو له نېټې، نه د هغه د **نافذېدو** له نېټې څخه چې د تورن په ګټه دی، د اعتبار وړ ګڼل شوی دی. د ۱۳۵۵ کال د جزا په قانون کې د "**وضع کېدو**" پر ځای "**نافذېدل**" کارول شوي دي. ستاسو له نظره کوم تعبير ښه دی؟

**درېيمه وينا: د تفسيري قوانينو ماقبل ته رجعت:**

ماقبل ته د نه رجعت اصل يوه استثنا دا ده چې نوی قانون يو تفسيري قانون وي، يعنې چې پخوانی قانون تفسير او تشريح کړی. په دې حالت کې نوی قانون ماقبل ته رجعت کوي، ځکه لاحق قانون په حقيقت کې نوی قانون نه دی، بلکې د پخواني قانون مبهم ټکي او موخې واضح کوي[1].

د يادونې وړ ده چې د اساسی قانون د ۱۲۱ می مادی پر بنسټ په افغانستان کی د قوانينو د تفسير رسمی مرجع ستره محکمه ده نه مقننه قوه. نوځکه مونږ تفسيری قوانين نه لرو مګر تفسيری نظرونه او تفسيری احکام لرو چی د قضايی الزامی يا رسمی تفسير بڼه لری او ماقبل ته رجعت کوي[2].

---

[1] - هماغه، ۵۳ مخ.

[2] - نوال، صاري، التفرقة بين الأثر الرجعي للقانون ورجعية الاجتهاد القضـائي، مقالة منتشره در سايت دانشكدۀ حقوق دانشگاه قا صدى مرباح ورقلة(الجزائر). تاريخ بازديد ۲۰۱۸/۹/۲۶ ساعت ۳:۰۰ بعد از ظهر:

https://manifest.univ-ouargla.dz/index.php/archives/archive/faculté-de-droit-et-des-sciences-politiques/۳۰-séminaire-national-sur-la-sécurité-juridique-décembre-۲۰۱۲/۱۸۳-التفرقة-بين-الأثر-الرجعي-للقانون-ورجعية-الاجتهاد-القضائي.html.

## څلورمه وينا: د شكلي جزايي قوانينو فوري او سملاسي تطبيق:

شكلي قوانين هغه قوانين دي چې د كشف، تحقيق، تعقيب او د محاكمې اجراآت او څرنگوالى، د جزا تطبيق او همدا ډول له جرمونو سره د مبارزې د بنسټونو تشكيل او صلاحيتونه تنظيموي. غالباً په دې قوانينو كې تعديل د حالاتو د ښه والي او د عدالت د رامنځ ته كېدو لپاره ترسره كېږي چې ډېر ځله د تورن په گټه وي. ځكه نو دا قوانين په فوري او سملاسي توگه په ټولو حالاتو كې د تطبيق وړ دي، آن كه جرمي اعمال پخوا بشپړ شوي وي. لكه هغه قانون چې ځانگړې محكمې يا ځارنوالۍ د ځانگړو جرمونو د څېړنې لپاره ايجادوي، د هغوى د نافذېدو سره سم د تطبيق وړ دي او ټولې دوسيې بايد دې بنسټونو ته وسپارل شي، كه څه هم د هغو جرمونو اړوند وي چې د نوي قانون له نافذېدو مخكې بشپړ شوي وي. ځكه ځانگړي بنسټونه د ښې پايلې د لاس ته راوړنې او د عدالت د پلي كېدو لپاره رامنځ ته كېږي، ځكه د دې قوانينو موخه قضيو ته ښه رسېدگي ده. شكلي قوانين آن په هغه حالاتو كې چې قضيې ته رسيدگي پيل شوې هم ده، د تطبيق وړ دي. خو په دې شرط چې د قضيې په اړه قطعي حكم نه وي صادر شوى. البته په دې اړه دوه محدوديتونه شتون لري:

لومړى: هر كله چې قانون د تورن يا محكوم عليه په زيان وي، په دې وخت كې نشي كولى چې هغه سمدستي تطبيق كړي (لكه هغه قانون چې د استيناف غوښتنې حق يا موده حذف كړي).

دويم: د نوي قانون تطبيق په هيڅ شكل نه شي كولى هغه اقدامات باطل كړي چې په معمولي ډول د پخواني قانون له مخې ترسره شوي دي يا د هغو پرېكړو ارزښت له منځه يوسي چې د نوي قانون له نافذېدو مخكې شوې دي.

**(۱۰) لسم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

طارق د ۱۳۹٦ کال د جدي په میاشت کې په خپله ورځپانه کې یوه مقاله نشر کړه. حکومت او دولتي چارواکو ته یې پکې سپکاوی وکړ او د ۱۳۵۵ کال د جزا د قانون د ۲۴٦ مادې سره سم په اته میاشتې بند او ۱۲ زره افغانۍ نغدي جریمه محکوم شو. د یو لنډ وخت له تېرېدو وروسته د جزا د کود سره سم چې اوس یاد فعل جرم نه ګڼل کېږي، له بنده خوشې شو. څه وخت وروسته د جرم ترسره کونکی وهل کېږي او زخمي کېږي. هغه د بند او خوشې کېدو له مرحلې وروسته له محکمې څخه د خپل حیثیت د اعادې غوښتنه کوي، خو قاضي ځواب ورکوي چې هغه یو متکرر مجرم دی، نو له دې امله د خپل حیثیت د اعادې له حق څخه ګټه نه شي اخیستلی. ستاسو په نظر په دې برخه کې د قاضي پرېکړه سمه ده او که نه؟

**پايليزه:**

په دې فصل کې د جزايي قوانينو د تطبيق ساحه د ځای او وخت يا زمان او مکان له اړخه وڅېړل شوه.

وليدل شول چې کله په يوه جرم کې د فرامرزي (له پولې بهر) عناصر شتون ولري، نو څو قوانين د تطبيق وړتيا پيدا کوي. د افغانستان د جزا کود د تطبيق وړ قانون د تشخيص لپاره له څلور اصولو څخه او له هر يوه څخه په خپل ځانګړي حالت کې پيروي کړې ده. دا اصول چې له حقوقي اړخه بېلابېل لومړيتوب لري، په ترتيب عبارت دي له: زمکني يا سرزميني صلاحيت اصل، د واقعي صلاحيت اصل، د شخصي صلاحيت اصل او د نړيوال صلاحيت اصل.

د سرزميني يا زمکني صلاحيت د اصل له مخې د هېواد قوانين پر هغه جرم د تطبيق وړتيا لري چې د هېواد په (زمکني، هوايي او يا بحري) اقليم کې واقع شوي وي، پرته له دې چې د مجرم تابعيت او يا د جرم ډول په نظر کې ونيول شي. د واقعي صلاحيت د اصل له مخې واقعي صلاحيت پر هغو جرمونو د جزايي قوانينو د تطبيق څخه عبارت دی چې د يو هېواد اساسي او حياتي ګټې وګواښي او يا يې زيانمنې کړی، که څه هم دا جرمونه د هېواد له قلمرو څخه بېرون او د بهرنيو اتباعو له لورې ترسره شوي وي. سره له دې چې شخصي صلاحيت په دې معنی دی چې د هېواد جزايي قوانين د هېواد په ټولو اتباعو تطبيقېږي، که څه هم له هېواده بهر يې جرم ترسره کړی وي، خو په دې شرط چې ياد عمل په هماغه هېواد کې هم جرم وي (يعنی مضاعف جرم وي). د جزا په کود کې نوی نړيوال صلاحيتونو له جزاګانو څخه د مجرمانو د تېښتې د مخنيوي په موخه رامنځ ته شوي دي. دا صلاحيت پر هغو بهرنيو يا بې تابعيته کسانو د هېواد د جزا قانون له تطبيق څخه عبارت دی چې د هېواد له پولو بهر يې په نړيوالو اسنادو کې د ښودل شوو جرمونو سره سم جرمونه ترسره کړي دي، خو د هېواد د قلمرو په داخل کې نيول شوي دي.
همدا ډول وليدل شول چې جزايي قوانين ماقبل ته رجعت نه کوي (پخواني حالت ته نه ورګرځي) مګر يوازې هغه مهال کله چې د تورن په ګټه وي او يا د هغه قانون موضوع يوازې اجراآت او شکليات او يا

تفسيري قانون وي. په دې حالاتو کې هغه وخت ماقبل ته رجعت کوي چې د جرم په اړه قطعي حکم نه وي صادر شوی.

هغه حالات هم په تفصيل سره بيان شول چې يو قانون د تورن په گټه دی او که نه؟ هغه که د ماهوي قوانينو او يا د شکلي قوانينو په برخه کې وي. خو که چېرته نوی قانون د جزا د قانون يو نص لغو او يا هم د جرمونو له لست څخه يو جرم حذف کړي، په مطلق ډول پخواني حالت ته وگرځي، مهمه نه ده چې د قضيې په اړه قطعي حکم صادر شوي وي او که نه؟

## د دويم څپرکي د ارزونې پوښتنې:

۱. د مکان يا ځای له اړخه د جزايي قوانينو په تطبيق کې د جزا کود کوم نظريات منلي دي؟ نومونه يې واخلئ.

۲. د لومړيتوبونو له مخې د سرزميني يا زمکني او فراسرزميني (بې پولې) صلاحيتونو اصول درجه بندي کړئ.

۳. د سرزميني يا زمکني صلاحيت څخه موخه څه شی دی؟ د هغه مثبت او منفي ټکي يا عيبونه کوم دي؟ او د عيبونو د رفع کولو لپاره بايد کوم ګامونه پورته شي؟

٤. د واقعي صلاحيت له اصل څخه موخه څه ده؟

٥. د شخصي صلاحيت اصل د واقعي صلاحيت له اصل سره پرتله کړئ.

٦. د نړيوال يا جهاني صلاحيت د اصل مفهوم څه دی؟ څه وخت او ولې د افغانستان په حقوقي نظام کې دا اصل رامنځ ته شو؟

۷. د ځای يا مکان له اړخه د افغانستان په جزايي قوانينو کې کوم اصول مطرح دي؟ نومونه يې واخلئ.

۸. ماقبل ته د جزايي قوانينو د ورګرځېدو يا رجعت حالات تشريح کړئ.

۹. په کومو حالاتو کې جزايي قوانين ماقبل ته رجعت کوي؟ بيان يې کړئ.

۱۰. له تفسيري قوانينو څخه موخه څه ده؟ او د هغې او د قاضيانو د تفسير ترمنځ توپير په څه کې دی؟ کوم يې ماقبل ته رجعت کوي او کوم يې نه کوي؟ تشريح يې کړئ.

۱۱. له شکلي قوانينو څخه موخه څه ده؟ او په کومو حالاتو کې ماقبل ته رجعت کوي؟

## اخځليکونه:

**الف: قوانين:**

۱. د افغانستان اساسی قانون، رسمي جريده، پرله پسې نمبر: (۸۱۸).
۲. د جزايی اجراآتو قانون، رسمي جريده، پرله پسې نمبر: (۱۱۳۲).
۳. د قضائيه قوې د تشکيل او واک قانون، رسمي جريده، پرله پسې نمبر: (۱۱۰۹).
٤. د جزا کود، رسمي جريده، پرله پسې نمبر: (۱۲٦۰).

**ب: دري او پښتو کتابونه:**

۱- داماد، دکتر سيد مصطفی محقق، قواعد فقه (٤) بخش جزايی، مرکز نشر علوم اسلامی، چاپ هجدهم، سال ۱۳۹۰.
۲- دانش، حفيظ الله، حقوق جزا ی عمومی، انتشارات سيرت، دهمزنگ، کابل، چاپ **۱۳۹۳**.
۳- رسولی، محمد اشرف، حقوق جزای عمومی، مؤسسه نشر واژه، کابل سال ۱۳۹٦.
٤- غلامی، حسين، مبانی حقوق و عدالت جزايی در افغانستان، سفارت کبرای آلمان، کابل، ۱۳۸۵.
۵- قياسی، جلال الدين وديگران، مطالعهٔ تطبيقی حقوق جزای عمومی (اسلام وموضوعه) پژوهشکده حوزه و دانشگاه، چاپ اول ۱۳۸۰.

**ج: عربي کتابونه:**

٦- ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز ابن عابدين(ت: ۱۲۵۲هـ)- **رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار (حاشية ابن عابدين)**- تحقيق: عادل أحمد عبد الموجود، و علي معوض، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان؛ الطبعة الأولى: ۱٤۱۵ هـ.

٧- ابن قيم الجوزية، محمد بن أبي بكر شمس الدين، أبو عبد الله، الدمشقي، الحنبلي (ت: ٧٥١ هـ)- **إعلام الموقعين عن رب العالمين**- تحقيق: عصام الدين الصباطي الناشر: دار الحديث، القاهرة، الطبعة الأولى ١٤١٤هـ.

٨- ابن ماجه، أبوعبدالله محمد بن يزيد القزويني(ت٣٧٥هـ)- **سنن ابن ماجه**- تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، دار إحياء التراث العربي: ١٣٩٥هـ.

٩- ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم الحنفي(ت:٩٧٠هـ)- **الأشباه والنظائرعلى مذهب أبي حنيفة النعمان** - دارالكتب العلمية، بيروت، لبنان – طبعة سنة: ١٤٠٠هـ.

١٠- ابو خطوة، أحمد شوقى عمر، شرح الاحكام العامه لقانون العقوبات، دار النهضة العربية ٢٠٠٧م.

١١- أبوداود، سليمان بن الأشعث السجسْتاني الأزدي(ت٢٧٥هـ)- **سنن أبي داود**- مراجعة وضبط و تعليق: محمد محيي الدين عبدالحميد، دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.

١٢- أحمد بن حنبل، أحمد بن محمد- **المسند**- تحقيق: أحمد شاكر، دار المعارف سنة: ١٣٦٩هـ .

١٣- البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل- **صحيح البخاري**- مطبوع مع فتح الباري، ترقيم: محمد فؤاد عبدالباقي، و إشراف: محب الدين الخطيب، وتعليق: الشيخ عبدالعزيز بن باز، المكتبة السلفية.

١٤- البيهقي، الحافظ أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي- **السنن الكبرى**- تحقيق: محمد عبد القادر عطا، مكتبة دار الباز - مكة المكرمة: ١٤١٤هـ.

١٥- الترمذي، الإمام الحافظ أبو عيسى محمد بن عيسى-**سنن الترمذي- " الجامع الصحيح"**. انظر: تحفة الأحوذي – دار إحياء التراث العربي – الطبعة الثانية- ١٤٢١هـ.

١٦- حسنى، محمود نجيب، شرح قانون العقوبات، القسم العام، دار النهضة العربية ، ط ٥، ١٩٨٢، القاهره.

١٧- خلف، علي حسين – الشاوى،سلطان عبد القادر، المبادئ العامة في قانون العقوبات (نسخه الكترونى).

١٨- السيوطي، جلال الدين عبد الرحمن(ت:٩١١هـ) -**الأشباه و النظائر في قواعد و فروع فقه الشافعية- دارالكتب العلمية**، بيروت، الطبعة الأولى: ١٣٩٩هـ.

١٩- شمس الدين، اشرف توفيق، شرح قانون العقوبات، القسم العام، PDF.

٢٠- عودة، عبد القادر- **التشريع الجنائي الإسلامي مقارناً بالقانون الوضعي**- مؤسسة الرسالة، بيروت ، الطبعة السادسة: ١٤٠٥ هـ.

٢١- الكاساني، علاء الدين أبوبكر بن مسعود الملقب بملك العلماء(ت:٥٨٧هـ)- **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**- الناشر: دار الكتاب العربي، بيروت ، الطبعة الثانية١٤٠٢هـ.

٢٢- مالك بن أنس، ابن مالك الأصبحي الحميري أبو عبد الله، إمام دار الهجرة و أحد الأئمة الأربعه(ت:١٧٩هـ) - **موطأ الإمام مالك**- رواية يحيى بن يحيى الليثي. إعداد: أحمد راتب عرموش، الرياض، رئاسة البحوث العلمية والإفتاء، دار النحاس، بيروت: ١٤٠٤هـ.

٢٣- الماوردي، علي بن محمد بن حبيب البصري البغدادي(ت:٤٥٠هـ) -**الأحكام السلطانية و الولايات الدينية**- مطبعة مصطفى البابي الحلبي بمصر، الطبعة الثانية:١٣٨٦.

٢٤- المرغينانى، برهان الدين أبو الحسن على بن أبي(ت:٥٩٣هـ) – **الهداية شرح بداية المبتدي**- مكتبة البشرى، كراتشي، باكستان، الطبعة الثانية: ١٤٢٩هـ.

٢٥- النسائي، أبو عبدالرحمن أحمد بن شعيب (ت ٣٠٣ هـ)- **سنن النسائي**- دار الفكر للطباعة و النشر و التوزيع، بيروت، الطبعة الأولى: عام ١٣٤٨هـ.

**د) انټرنيټي سايټونه:**


٢٦- J. LE CALVEZ, « COMPETENCE LEGISLATIVE ET COMPETENCE JUDICIAIRE EN DROIT PENAL », REV. SC. CRIM. ١٩٨٠, PP. ١٣ ET S.

٢٧- https://manifest.univ-ouargla.dz/index.php/archives/archive/faculté-de-droit-et-des-sciences-politiques/٣٠-séminaire-national-sur-la-sécurité-juridique-décembre-٢٠١٢/١٨٣-التفرقة-بين-الأثر-الرجعي-للقانون-ورجعية-الاجتهاد-القضائي.